# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

## مباحثات

---

بروز بدھ مورخہ 25 جون 1997

(بمطابق 18 صفر 1418 ہجری)

جلد 6 شمارہ 7

## سرکاری رپورٹ

| مندرجات | صفحہ نمبر |
|---|---|
| 1۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ | 1 |
| 2۔ مطالبات زر پر بحث و رائے شماری | 2 |

# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز بدھ 25 جون 1997 بمطابق صفر، 1418ھ صبح نو بجکر اڑتالیس منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، ہدایت اللہ چمکنی مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

---

## تلاوت کلام پاک اور ترجمہ

اعوذ باللہ من الشیطن الرجیم ہ بسم اللہ الرحمن الرحیم ہ

اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ کَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ہ خٰلِدِیْنَ لَایَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا ہ قُلْ لَّوْ کَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّکَلِمٰتِ رَبِّیْ لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ تَنْفَدَ کَلِمٰتُ رَبِّیْ وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ہ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُکُمْ یُوْحٰٓى اِلَیَّ اَنَّمَآ اِلٰهُکُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَمَنْ کَانَ یَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْیَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا یُشْرِکْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ۔

(پارہ نمبر 16 سورۃ الکھف آیات نمبر 110---107)

(ترجمہ) بے شکه چا چه ایمان راوړو او نیک کارونه ئے اوکړل، د هغوی د میلمستیا د فردوس باغونه تیار دی تل به پکښ اوسیږی او د هغے نه به بل خواته هیچرے غواړی ـ اے پیغمبره ! ته اووایه چه که ټول سمندر سیاهی اوګرځی زما د رب د لیکلو دپاره نو سمندر به اوچ شی او زما د رب خبرے به خلاصے نه شی اګر که موږ د دغے غوندے یو بل سمندر هم مدد له راولو ـ اے نبی صلیٰ اللہ علیه وسلم ! ته اووایه زه خو بس ستاسو غوندے یو بشر نیم ماته خو دا وحی راځی چه ستاسو معبود معبود دے نو څوک چه د خپل رب سره د ملاقات طمع لری نو په کار دی چه نیک دے کوی او د خپل رب په عبادت کښ دے بل هیڅ څوک نه شریکوی۔

## مطالبات زر پر بحث و رائے شماری

Mr. Speaker: The Honourable Minister for Law and Parliamentary Affairs to please move his Demand No. 11.

Mr. Bashir Ahmad Bilour (Minister for Law): Thank you, Sir. I beg to move:

"that a sum not exceeding rupees one hundred eight millions, seventy nine thousand and one hundred only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1997 in respect of Administration of Justice".

Mr. Speaker: The motion moved:

"that a sum not exceeding rupees one hundred eight millions, seventy nine thousand and ond hundred only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th, June 1997 in resepct of Administration of Justice".

جناب نجم الدین: پوائنٹ آف آرڈر، سر۔ دے کورم طرف ته لږه توجه ورکړئ جی۔ زما خیال دے جی دوئ پکښ دلچسپی نه لری څه دومره زیاته۔

جناب سپیکر: کاونٹ (Count) نے کړئ جی۔

(اس مرحلے پر گنتی کی گئی۔)

جناب سپیکر: کورم پورہ دے جی۔

Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, to please move his cut motion on Demand No. 11.

جناب پیر محمد خان: شکریہ، جناب سپیکر صاحب۔ زہ جناب سپیکر، پہ ڈیمانڈ نمبر 11 باندے دس ھزار روپو کٹ موشن پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion moved that the total grant be reduced by rupees ten thousand only. Mr. Ahmad Hassan khan, MPA, to please move his cut motion. Absent. Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA, to please move his cut motion. Absent. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, please.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! "ایڈمنسٹریشن آف جسٹس" چہ دے، نو دے نہ زمونږہ د ټول قوم امیدونہ وی دے طرف تہ، د عدل او د انصاف، خو پہ دے کښې لږ دا مصیبت دے چہ پہ زمانو پکښې Pending کیسونہ پراتہ وی، کیسونہ پرے کیږی، نہ پہ موقع باندے چا تہ انصاف ملاؤ شی۔ د انصاف یو غټہ خبرہ دا دہ چہ دا بہ پہ موقع باندے زر نہ زر ملاؤ شی او چہ زر نہ زر انصاف نہ ملاؤیږی نو دے تہ بے انصافی وائی۔ جناب سپیکر! عوامو تہ دا یو ډیر لوئے مشکل دے چہ د شلو کالو، دیرشو کالو زارہ زارہ کسیونہ پہ عدالتونو کښې پراتہ وی او پہ ھغہ کښې تاریخونہ بدلیږی بلکہ د بعض یو فریق چہ کیس ډیر کمزورے وی نو ھغہ خپل وکیل تہ وائی چہ تہ ما لہ تاریخونہ بدلوہ۔ تاسو تہ پتہ دہ او وکیل دا کوشش کوی، تاریخونہ بدلوی، کلہ یوہ بہانہ او کلہ بلہ بہانہ، پہ ھغے کښې کالونہ واوړی۔ د یو سړی

نه به قتل شوے وی، د هغه به بچے قتل شوے وی یا به نے ورور قتل شوے وی یا به نے پلار قتل شوے وی او هغه ته به په لسو او شلو کالو کښ هم انصاف نه ملاویږی۔ داسے داسے مقدمات پکښ شته چه هغه د شلو، دیرشو کالو، د دے مردان د غارے زما یو دوست دے، زه هغه سره تلے وومه، خه خیرات نے کړے وو د خوشحالئ، نو ما تپوس اوکړو چه دا د څه خیز خوشحالی ده؟ نو هغه اوونیل دا یو پینتیس کاله مخکښ زمونږه مقدمه وه چه پکښ مے پلار هم مړ شو، جچان پکښ هم ډیر رېټیائرشوی دی خو اوس ما اوګټله نو د هغے په خوشحالئ کښ مے خیرات کړے وو او دوستان نے هم بوتلی وو۔ نو چه په دیرشو کالو او په شلو کالو کښ سړی ته انصاف ملاؤ نه شی سپیکر صاحب، نو آخر دا به کله ملاویږی؟ او هم دغه وجه ده چه دا قوم تنګ شوے دے او هر څوک میدان ته را اووتل لکه په مالاکنډ کښ چه تنګ شوی وو او راووتل، څه اثرات نے بدل کړل هلته کښ۔ نو داسے که په دے علاقو کښ، بلکه زه وایم که نن په پېښبو ښارکښ څوک راووتو او هغه دا اعلان اوکړو چه زه به انصاف په میاشت کښ دننه ورکومه یا به په درے میاشتو کښ دننه ورکومه نو دا ټول قوم به د هغه ملګرے وی څکه چه د دے Delay په وجه باندے بے انصافی کیږی۔ نو دے طرف ته جناب سپیکر صاحب، زه امید لرم چه منسټر صاحب به دا نوټ کړی او رابطه به اوساتی۔ بل جناب سپیکر صاحب، د عدالتونو نه بعض توقعات چه هغه تر اوسه نه شو کیدے، اوس هغه بعض خبرے شوے دی۔ بعض خبرے بهر څوک کولے نه شی څکه چه دا په Contempt of court کښ راځی او دا توهین دے او که عدالت ته نے راوغواړو لیکن د عوامو زړه خو متاثره شوے دے کنه۔ هر

 څوک وائی چه په عدالتونو کښې رشوت شروع شوے دے۔ دا خبره ډیره بده خبره ده چه په عدالتونو کښې د رشوت دا نوم مونږه آورو۔ نو عام خلق چه د انصاف توقع ترے مونږه ساتو، بیا که څوک غټ وکیل دے یا وړوکے وکیل دے خو چه نوم پرے د وکیل دے نو دے پرے زیات خفه کیږی ځکه چه دغه ججان چه کوم دی، نو هغه هم Basically وکیلان دی۔ نو چه کله مونږه د هغوی باره کښې د رشوت خبره د عوامو نه واورو نو بیا زمونږه خپله هم زړه خفه شی چه یره واقعی په دے عدالتونو کښې رشوت شروع شو۔ په پولیس کښې به چلیدو، په پټوارکښې به چلیدو، په انتظامیه کښې به وو، خو په عدالتونو کښې د رشوتونو رواج نه وو۔ نو دے طرف ته ته د دویٔ توجه ورکړی، د خان سره د نوټ کړی او د عدالتونو طرف ته دا کوشش اوکړی چه د رشوت دا سلسلے پکښې ختمے شی۔ بل په معمولی معمولی مقدماتو باندے هم Stays ورکوی۔ که چرته کښې سکول له څوک زمکه ورکړی، سکول په یو خائے کښې یو ممبر منظور کړی، بل سړے لاړ شی هغه پرے Stay واخلی چه د ده په زمکه کښې نه، زما په زمکه کښې د جوړ شی یا پکښې څه بله بهانه جوړه کړی او په هغه باندے هغه Stay راواخلی او بیا په کالونو کالونو باندے چلیږی۔ زما خپل دوه سکولونه په دے طریقه باندے بند شوی وو۔ هغه Stay پرے دومره اوږده اوچلیده چه د هغے فنډونه لاړل ختم شول، هغه Drop شو او د اے ډی پی نه اووتل۔ نو په دے هر څیز باندے Stay ورکول، زما خیال دے، مونږه خو د عدالتونو په کارکښې مداخلت نه شو کولے خو صرف دا سفارش ورته کوؤ چه یره، دا نقصان کوی، داسے څه عملی فائده پکښې نه وی۔ مثلاً که هغه Stay په وخت

باندے هغه واپس کړے وے یا ئے هډو ورکړے نه وے نو په هغه دوه کالو کښې به سکولونه جوړ شوی وو کنه۔ د هغے نه پس هغه غریبان څو څو واره ما ته راغلل هغه خلق اوس متفق شوی دی خو ما ورته ونیل چه هغه عدالت ته لاړ شئ چه سکول درله درکړی۔ زما سره خو دغه دوه سکولونه وو او ما درله درکړی دی، هغه عدالت ختم کړل۔ بل جناب سپیکر صاحب، معمولی معمولی مقدمات وی او په هغه باندے غریبانان خلق په جیلونو کښې پراته وی۔ خبره دومره نه وی خو د دے تاریخونو د بدلولو رابدلولو په وجه باندے هغه غریبانان په جیل کښې په کالونو باندے ناست وی۔ هلته کښې هغه جیل والا حالات هم داسے وی چه کله هغه چکئ پرے کوی، کله په یو خانے کښې وی او کله بل خاتے کښې۔ نو معمولی څیز باندے هغه غریبان بے عزته شی او په تکلیف شی او د هغه زړه اوډر یږی۔ د جیلونو نه مونږه ته ډیر خطونه راخی چه مونږ سره څه څه کیږی؟ نو زما خیال دے چه دا د معمولی نوعیت کیسونه چه دی که د دے زر نه زر فیصلے اوکړئ چه دا مقدمے ختمے شی نو لږ بوجھ به هم کم شی۔ بس دا یو څو تجاویز وو جناب سپیکر صاحب، چه ما ستاسو په خدمت کښې پیش کړل۔

Mr. Speaker: Honourable Minister, please.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر صاحب! زما صرف یو تجویز دے که تاسو اجازت اوکړئ۔ ما ته د خپل تاخیر په بنیاد د خپلے غلطئ احساس دے خو زما لږ طبیعت ښه نه وو، هسپتال ته ورغلے ووم۔ جناب سپیکر! په دے کښې ما یو خاص پوائنٹ ورکړے دے چه هغه د جناب منسټر په نوټس کښې راشی۔ په مالاکنډ ډویژن کښې د شرعی ریگولیشن تحت هم او په دے ټوله

صوبه او په دے ملک کښې د عدلیے او د انتظامیے د آزادئ یو تصور روان وو- تاسو پرے هم په تیر دورکښې ډیر لوئے زور ورکوو- عدالت پخپله باندے د الله په فضل سره څه داسے اقدامات کړی وو چه د هغے په بنیاد باندے صورتحال ښه شوے دے- اوس زما په خیال کښې یو خاص خبره چه زه به انشاء الله د منسټر صاحب دفتر ته ورځمه او د دوئ په نوټس کښې به دا خبره راولمه چه په مالاکنډ ډویژن کښې چه کوم علاقه قاضیان مقرر شوی دی نو په ځانے د دے چه هغه د ضلعی قاضی ماتحت وے، هغه د ډسټرکټ مجسټریټ ماتحت دی، د ډی سی ماتحت دی نو اوس بیا یوه نوے خبره دا شوے ده چه اوس په موجوده څه لږو میاشتو کښې، خاصکر د Caretaker حکومت په دوران کښې د دغه علاقه قاضیانو نه اختیارات اخستے شوی دی او Administrative side ته کوم مجسټریټان چه دی، هغوی ته ورکړے شوے دی- نو د غے نه هلته کښې دا یو تاثر پیدا شوے دے چه یره د دے شریعه ریګولیشن په بنیاد که شریعت ملاؤ وو او که نه وو ملاؤ، هغه خو ځان له بحث طلب مسئله ده خو عدلیے ته چه کومه آزادی ملاؤ وه، نو هغه بیا سلب کیږی- دا یوه پیچیده خبره ده- زه به نے انشاء الله بیا د منسټر صاحب په نوټس کښې راولم او د هغوی د پوهه کولو کوشش به اوکړم خو زما دا درخواست دے چه کوم علاقائی قاضیان دی، هغه دِ دَ ضلعی قاضی ماتحت کړی څکه جناب سپیکر، چه که دا اونکړی نو بیا هغه Administration پرے اثر انداز کیږی- جناب سپیکر، نن هم د مالاکنډ ډویژن صورتحال هغه شانته کښې قبائلی صورتحال دے نو هسے نه چه په دغه 17-PATA باندے، د دے 107 او د 109 په دے صورتحال کښې عوام بیا په مشکلاتو کښې راګیر

شی۔ زما دا درخواست دے او په دے باندے عملدر آمد پکار دے۔

<u>جناب سید رحیم ایڈوکیٹ</u>: پوائنٹ آف آرډر، سر۔ زما یو ضمنی سوال دے په دے سلسله کښې۔

<u>جناب سپیکر</u>: ضمنی سوال په دے کښې نه شی کیدے، دا Cut motions دی۔ تاسو ته دوه ورځے وروستو شته دے چه څومره سوالونه کول غواړئ، هغه ټول اوکړئ۔ آنریبل منسټر۔

<u>وزیر قانون</u>: جناب سپیکر صاحب! ډیره مهربانی۔ د ټولو نه مخکښې خو زه د پیر محمد خان او احمد حسن خان صاحب ډیره زیاته شکریه ادا کومه چه دوئ ډیرے ښه خبرے اوکړلے۔ رشوت، Stay order او د معمولی مقدماتو په باره کښې دوئ خبره اوکړله۔ سپیکر صاحب، د Stay order باره کښې ما Personally چیف جسټس صاحب لیدلے وو او چیف جسټس صاحب ما سره دا خبره کړے وه چه دا یو آئینی تقاضه ده او د دے بنیاد دا دے چه مونږه به خواه مخواه Stay order ورکوؤ خو هغوی ما سره دا Under stnading کړے دے چه که چرته کښې دا Stay order د Development په کار باندے وی نو مونږه به میاشت کښې دننه د هغے مقدمے فیصله هم کوؤ۔ او بل دا معمولی مقدمات چه کوم دی، دے باره کښې Already executive and Judiciary تقریباً مونږه بیل کوؤ او لګیا یو، بیل کړی مو دی۔ هغه دواړه Separate دی۔ هغه درے کالو پورے خو Excutive Magistrate کوی باقی ټول مونږه Judiciary ته حواله کړی دی ولے چه مخکښې به مجسټریټ صاحبانو بهر Executive Job هم کولو نو Judiciary ته لږ تکلیف کیدو۔ بس د خدائے په فضل سره د دے خبرے کوشش کوؤ چه نور هم ښه شی۔

امید دے حالات د مخکښې نه لږ ښه دی۔ زمونږه احمد حسن صاحب خبر اوکړه چه "علاقائی قاضی، ضلعی قاضی کی بجائے ڈی سی کے ماتحت ہیں، چاہئے یہ کہ و ضلعی قاضی کے ماتحت ہوں"۔ سپیکر صاحب! د ملاکنډ باره کښې خو تاسو ته پ ده، حکومت کوشش کوی لګیا دے۔ ملاکنډ په باره کښې رښتیا خبره دا د چه دا دوئ چه کومے خبرے اوکړے نو دا بالکل ټهیک دی چه هلته کښ پرابلم شته۔ انشاء الله دوئ سره به کښینو او چه دوئ ښکه وانی نو هم ه شان د دوئ په Direction باندے به کار کوؤ خو یوه خبره کوم چه ustice

دا delayed is justice denied but justice hurried is justice burried.

هم پکښې شته دے۔ زه به درخواست اوکړم چه دوئ دا خپل کټ موش واپس واخلی۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر! زه یوه خبره د دوئ په نوټس کښ راولمه۔ تاسو ټولو ته پته ده چه اکثر د ججانو سره خو ډیر باریک کیسو هم وی لکه د 302 غوندے کیسونه او د غټ غټ سمګلرانو کیسونه پکښ راځی چه په دے کښې دوئ ته هم د قتل او د مرګ ډیره خطره وی نو د ه ججانو د حفاظت د پاره د سرکاری ګاډو او د ګارډ دا انتظامات ډیر ضرور دی۔ چه دا خبره دوئ خپل نوټس راولی او د Administration side نه پولیس کم کړی او هغه پولیس د ججانو طرف ته راولی چه د دوئ تحف یقینی کړے شی۔

جناب سپیکر: جی۔

وزیر قانون: جناب سپیکر صاحب! دا پیر محمد خان ته زما خیال دے، چه نه زیات علم دے چه مونږه Already منسټرانو صاحبانو نه هم ګارډز واپ

کړی دی، مونږه کوشش کوؤ چه Limited mean سره مونږه زیات نه زیات د Law and order situation کنټرول کړو۔

جناب سپیکر: تحفظ به ورکوؤ۔

وزیر قانون: نو انشاء اللّٰه کوشش به کوؤ او تحفظ خو د حکومت فرض دی چه عام Citizen ته ورکړی نو ججان صاحبان خو مونږه د پاره ډیر اهمیت والا خلق دی۔

Mr. Speaker: Satisfied? The cut motion is withdrawn? Well, the cut motions are lost being withdrawn. The qestion is:

"that a sum not exceeding rupees one hundred eighty million, seventy nine thousand and one hundred only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June 1998, in respect of Adminstration of Justice".

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. The Demand is granted. Honourable Minister on behalf of Chief Minister NWFP, to please move Demand No. 12.

Minister for Law: Thank you, Mr. Speaker Sir. On behalf of Chief Minister, I beg to move:

"that a sum not exceeding rupees one hundred ten million, eight hundred and seventy five thousand only, be granted to the

Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Jail and Convicts Settlements".

Mr. Speaker: The motion is:

"that a sum not exceeding rupees one hundred ten million, eight hundred and seventy five thousand only, be granted to the Provincial Govrnment to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Jail and Convicts Settlements".

Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, to please move his cut motion.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! زه په ډیمانډ نمبر 12 باندے د پانچ هزار روپو کمتوتیٔ تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees five thousand only. Mr. Ahmad Hassan Khan, MPA, please.

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! زه په مطالبه زر نمبر 12 کښې د پانچ سو روپو کمتوتیٔ تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees five hunderd only. Mr. Najmuddin Khan, MPA, please.

جناب نجم الدین، جناب سپیکر! زه په ډیمانډ نمبر 12 باندے د پچپن روپو کمتوتیٔ تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees fifty five only. Mr. Nawabzadā Mohisn Ali Khan, MPA, please. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, please.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! دا جیل خو داسے د یو تکلیف خائے وی چه په دے کښې خو بعض وخت چه چا جرم کړے وی، نو هغه پکښې هم راشی او کله کله پکښې بے جرمه خلق هم لاړ شی- سیاسی خلق هم جیلونو ته خی- زمونږه دا بعضے رونړه لږ مخکښې تلی دی او امید دے چه څه وخت پس د دوئ بیا لاړ شی، دا امید لرو جی (قہقہے) نو د هغه غریبانو جیلیانو د پاره او د خپل مستقبل په خاطر د دوئ په دے انتظاماتو باندے نظر واچوی او دا انتظامات بهتر کول لازمی دی چه Improvement پکښې هم اوشی- د بی بی په نگرانئ کښې دِ یوه کمیټی، زما خیال دے چه د هغے سروے هم شوے وه خو په دے کښې پوره Improvement نه کیږی- یو خو جیلیانو ته هغه فنډ که ملاویږی، کم ملاویږی خو بیا هغه کم څه کوے چه هغه کوم فنډ ملاؤ شی نو هغه په جیلیانو باندے په صحیح طریقه خرچ کیږی هم نه- که څه د خوراک د پاره ورته پیسے ملاؤ شی نو دوه سوؤ جیلیانو ته چه د خوراک کومے پیسے وی نو هغه په چار سو او پانچ سو باندے تقسیم شی- نو دغه پیسے دیرے لږے لږے وی- د هغوی هغه خوراک چه کوم دے، هغه هم د Standard مطابق نه وی، صحتونه ئے هم خراب شی، مریضان شی او خیټے ئے خرابے شی- بل د هغوی د پاره دوایانے چه کومے وی نو اکثر عام رپورټس مونږ ته دا راځی چه دوایانے هغوی ته صحیح نه ملاویږی- کوم دوایانے که چرے را هم شی نو هغه اخوا دیخوا

کیږی خو جیلیانو ته نه ملاویږی او هغوی ته ډیر تکلیف وی چه دوایانے
بازارنه راغواړی- په جیل کښ د لائیبریریانو څه خاص انتظامات د جیلیانو
د پاره نه وی- کوم تعلیم یافته کسان چه په جیل کښ وی، د هغوی د پاره
کتابونو او اخبارونو پوره انتظام کول پکار دی- داسے به د دے خلقو ټائ
هم پاس کیږی او فائده به ورته هم وی- د جیلیانو د اصلاح د پاره عالما
مقررول پکار دی چه هغه په یو ټائم تبیل باندے راځی او جیلیانو ته درس
قرآن او درس حدیث ورکوی چه دوئ کم از کم د جیل نه اوځی چه یو ښ
شهری ترینه جوړ وی- نو د جیل مقصد خو دا نه دے چه دے دغلته کښ
مونږه بند کړو او دے په دے خانے کښ مړ شی او دننه به وی او د ده اصلا
دِ او نه شی- د دے مقصد دا دے چه یو خو ده ته سزا ملاؤ شوه او بل د
خانے کښ چه دے بند دے، د ده اصلاح به ورسره ورسره مونږ کوؤ چه د
اصلاح اوشی چه د ده نه یو ښه، مهذب او یو شریف شهری جوړ شی او ب
ته راشی او دوباره داسے جرائم بیا نه کوی- نو دغه طرف ته هډو څه تو
حکومت نه ورکوی- بیا خاصکر جناب سپیکر صاحب، زمونږه د سوا
جیل د دوه سوه جیلیانو د پاره جوړ شوے وو په 1962 کښ او هغه ج
دے، په هغے کښ څه Improvement نه کیږی، نوے آبادی پکښ نه کیږ
12x14 د هغے یوه کمره ده، په هغه کښ تیس او چالیس کسان ور دننه کړ
د ګډو او بیزو غوندے، نو هلته ډیر بد حال دے او په 120 کسانو پسے
لیټرین دے جناب سپیکر صاحب، نو هغه هم بند شی او چه کله بند شی
بیا د سوات جیل کښ چه کوم تکلیف او بدبو وی نو هغه سړے نه
وانیلے چه یره دا غریبانان څومره په غټ تکلیف کښ وی- جناب سپ

صاحب! په دے جیل کښې دننه رشوت هم چلیږی- کوم سرے چه پیسے ورکولے شی د جیل عملے له، نو هغه په ښه خانے کښې ساتلے کیږی او دننه او بهر ورته لږ د گرځیدو راگرځیدو سهولت هم وی او چه څوک پیسے نه شی ورکولے نو وانی دا چکئ ته بوځی یا بل خانے ته او ښه به ئے د تکلیف خانے ته وردننه کوی یعنی په هغه جیل کښې بیا جیل- نو دے طرف ته توجه ورکول غواړی او د دے اصلاح پکار ده- دغه طرف ته مخکښې بی بی هم د هغے سروے کړے وه او دا جیلیان چه کوم دی نو بنیادم دی زمونږه غوندے، نو سزا خو ورته دا ملاؤ شوه چه جیل ته لاړو، د خپل کورنه، د خپل کلی نه، د خپل رشته دارو نه او د بچو نه خو دے کټ شو لیکن هلته کښې په دے جیل کښې ورله دننه نه ده پکار چه زیاتے د ورسره کیږی- دننه ورله اصلاح پکار ده او لږ ښه سلوک ورسره پکار دے لکه د بهر دنیا په جیلونو کښې چه څه کیږی، کم از کم چه مونږه هم په خپلو جیلونو کښې هغسے اصلاحات اوکړو- هسے خو مونږه په نورو شعبو کښې د هغوی نقل کوؤ- زمونږه په ټی وی گانو کښې هغه موسیقی هم د بهر په نقل باندے روانے شوی دی- د پاکستان او هندوستان چه کوم موسیقی وه، هغه ئے پریښے ده د یورپ او د امریکے موسیقی ئے شروع کړے ده- نو په جیلونو کښې چه کومه اصلاح پکار ده، کومه اصلاح چه په بهر ملکونو کښې کیږی، نو هغه مونږه نه خپله وو؟ مونږه هر بد شے پردے خپلوؤ او که چرے ښه کار بهر چا کړے دے نو هغه مونږه پریښے دے- دے طرف ته خصوصی توجه دِ ورکړے شی-

Mr. Speaker: Mr. Ahmad Hasan Khan, please.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! د وخت د کمی د تقاضے پیش نظر زه زیاته خبره کول نه غوارمه او د جناب پیر محمد خان صاحب د خبرو سره د اتفاق کولو سره سره، زما هم دا یو غرض دے چه د مجرم جیل ته لیږل یو خو هغه له د هغه د جرم سزا ورکول دی او بل ورسره ورسره د هغه اصلاح کول دی۔ دا یو پهلو خو دلته کښې پوره شی چه سزا ورته ملاؤ شی خو اصلاح ئے او نه شی او اکثر هغه مجرم چه د جیل نه راوځی، د مخکښې نه په غټه پیمانه باندے د جرم کولو کوشش کوی۔ دا ډیره زیاته د خوش قسمتئ خبره ده چه دے سابقه اسمبلئ د محترمے بی بی په مشرئ کښې د هغه وخت د جیل د منسټر په مکمل تعاون او د هغه په اخلاص سره یوه سروے شوے وه۔ د بد قسمتئ نه چه نن صورتحال داسے خراب شوے دے چه د بدقسمتئ یوه واقعه شوے ده، چه هغه زمونږ ورور نن په جیل کښې د سزا سره مخ شوے دے چه په دغے واقعه باندے زمونږه د ټولو رونړو زړونه دردیدلی دی دا چه کومه واقعه شوے ده او په هغے باندے زمونږه دوستانو او ملګرو ته چه کوم تکلیف رسیدلے دے، په هغه تکلیف او درد کښې ورسره مونږه شریک یو او مونږه د هغه خاندان او د هغه رونړو د نور غم نه د لرے کولو د پاره دست به دعا یو او د هغوی د خوشحالئ غواړو او دا مو امید دے چه انشاء الله تعالیٰ معامله به د هغوی په عقل، فهم او بردبارئ سره خداوند کریم یو ډیر ښه انجام ته اورسوی۔ هغه ورور نن په هغه جیل کښې، په هغه حالاتو کښې پروت دے۔ زه د هغه ملاقات له ورغلے ومه، نو هلته کښې هغوی ته د قیدیانو د طرف نه یو دا خبره وړاندے کیدله په هغه صورتحال کښې چه یره دوئ په دے جیل کښې څه اصلاحات کړی دی؟

اگرچہ په دے کښې د هغه سره سره ډیر زیات لاس زمونږه د مشرے، زمونږه د خور، د متحرمے بی بی وو- زما صرف د منسټر صاحب په خدمت کښې دا درخواست دے چه د جیل د هغے اصلاحاتو چه کومه پیش بندی شوے وه، کومه منصوبه بندی شوے وه، په کوم خلوص سره د هغے تیارے شوے وو، په هغے باندے دِ زر تر زره د مکمل عملدرآمد کوشش اوشی جناب سپیکر-

Mr. Speaker: Mr. Najmuddin Khan, MPA, please.

جناب نجم الدین: جناب سپیکر! شکریه- پیر محمد خان صاحب او احمد حسن خان چه کومے خبرے اوکړے جی ، دے سره زما اتفاق دے- نو زه به دا هم اووایمه چه جیل کښې د اصلاح د کوشش په ځائے باندے، چه کوم قیدی هلته کښې لاړ شی، هغه له هلته په یو داسے طریقه تربیت ورکړے شی چه که څوارلس کاله پس راوځی نو که هغه ورکوټے مجرم وی نو د هغه نه غټ مجرم جوړ شوے وی- زمونږه صرف منسټر صاحب ته دا درخواست دے چه دا کوم رپورټ کمیټۍ ورکړے دے، د هغه کمیټۍ د رپورټ مطابق د په دغه جیلونو کښې اصلاحات اوشی- د جیلیانو د راشن متعلق خبره که اوشی، په راشن کښې د جیل عمله هغه ټهیکدارنو سره یا د هوټل والو سره، چه کوم راشن سپلائی کوی، پچاس پرسنټ په هغه راشن کښې کموټی کیږی او قیدیانو ته هغه څیز ملاویږی چه کوم د انسان د خوراک نه وی- دویم جی هلته کښې په هغه جیل کښې دننه، زما د ذهن مطابق یوه خبره دا ده، چه زمونږه دا رونړه کوم چه دے بل طرف ته ناست دی، د مسلم لیگ رونړه، دوئ خو جیل نه دے لیدلے خو زمونږه بدقسمتی دا ده جی چه په دغه

جیلو نو کښې سیاسي طریقو باندے پراته یو، نو مونږه مکمل --------

جناب محمد ایوب خان آفریدی: یہ بات نہیں ہے جی، سب مسلم لیگ والوں نے بھی جیلیں دیکھی ہیں۔ یہ بھول گئے ہیں میرے خیال میں۔

جناب نجم الدین: نه جي، په هغه تحریک نجات کښې که چرته یوه ورځ نیمه که قید شوي وي نو هغه ما ته پته نه لګي، خو زمونږه دے اے این پی والو رونړو ډیر جیلونه خوړلي دي۔ زما دا درخواست دے چه د دے جیل د اصلاح د پاره دلته کښې منسټر یئ، لکه زمونږه منسټر صاحب دلته د جیل منسټر وو خو نن هغه په جیل کښې پروت دے نو مونږه د خپل خان غم راغستي یو۔ خپل غم هم راغستي، یو بل د حکومت ---------

جناب محمد ایوب خان آفریدی: جب وہ اپنے دور حکومت میں سال، ڈیڑھ سال وزیر جیل رہے اور اتنے وقت میں انہوں نے اصلاح نہیں کی اور اب ہم نے اصلاح کرنی ہے۔

جناب نجم الدین: افسوس خو دا دے، مونږه خو وایو چه زر زر دا بلونه پاس شي چه خبره کوؤ او دوئ پخپله پاخي او کښیني نو دوئ خو جیل نه دے لیدلے۔ دوئ کله تلي دي جیل ته؟ کله داسے دوه میاشتے او درے میاشتے دوئ تیرے کړي دي چه پاخي او کښیني؟ که په تحریک نجات کښې یوه ورځ قید شوي وو، خو د اے این پی او زمونږه د پیپلز پارټئ دا خو تاریخ ګواه دے چه په مخه په دغه جیلونو کښې سیاسي قیدیان پاتے یو۔ نو کم از کم د خپل تحفظ د پاره مونږ دا خبره ستاسو په ذهن کښې راولو چه دا کوم جیل د دوه سوه قیدیانو د پاره جوړ وي او په هغے کښې دوه زره قیدیان وي او چه د دوه زرو قیدیانو د پاره جوړ وي او په هغے کښې پنځه زره قیدیان وي نو د دے ښه طریقه کار د جوړ شي چه کم از کم د دے خلقو

تسلی اوشی۔ ډیره مهربانی۔

جناب جان محمد خان: دوئ جی د مسلم لیگ بد وائی خو والد صاحب نے مسلم لیگ کښې دے۔

Mr. Speaker: Honourable Minister on behalf of Chief Minister.

جناب نجم الدین: هغه هم جیل ته نه دے تلے۔ مونږه خو خپله تلی یو۔ مونږه په دے خپل دومره کم عمر کښې درے څلور څله دے خلقو لیږلے وو، په مارشل لاء او په دے نورو دورونو کښې۔

وزیر قانون: جناب سپیکر صاحب! ډیره مهربانی۔ زه ټولو نه مخکښې د پیر محمد خان، د احمد حسن خان او د نجم الدین خان ډیره زیاته شکریه ادا کوم چه دوئ ډیرے ښے خبرے اوکړلے۔ دے کښې هیڅ شک نشته چه د جیلونو حالات خراب دی او پیر محمد خان خو کله نه دے تلے خو زه پخپله څو څله د پیښور، هری پور، ډیرو او هر ځائے جیلونو کښې ګرځیدلے یمه د دوئ د لاسه یا د مارشل لاء د لاسه۔ خو دا ټهیک وائی چه هلته کښې داسے حالات دی چه خلق ډیر د کسمپرسئ په حالاتو کښې پراته وی۔ خلق جیل ته لاړشی او پکار دی چه هغوی کله د جیل نه بهر راوځی نو چه د هغوی داسے اصلاح شوی وی چه هغه د معاشرے د پاره د یو ښه انسان په حیثیت وخت تیر کړی۔ خو زمونږه بدقسمتی دا ده چه د جیل د خلقو هم مشکلات شته دے، هغوی ته هم پرابلمز دی۔ زه به دا یو فکر دوئ ته اوښایم چه د هغوی دا ځل Demand مونږه ته راغلے وو 167602850 روپئ او ګورنمنټ هغوی ته 1875000 روپئ ورکوی، تقریباً Fifity six lacs rupees مونږه دے ځله د هغوی د Demand نه کم ورکړی دی باوجود د دے نه چه مهنګائی

زیاته شوے ده، قیدیان به هم زیات شوی وی- چه ورخ په ورخ Population زیاتیږی نو خواه مخواه قیدیان به هم زیاتیږی- بل دوئ دا اوونیل چه یره قیدیانو ته جیل کښ څه کار نه ښانی، نو هری پور، ډیره اسماعیل خان او پیښور کښ فیکټریانے لګیدلی دی او مکمل طریقے سره هغوی په فیکټرئ کښ قالین هم جوړولے شی، درئ هم جوړیږی، تاسو ته هم پته ده- نو لږ ډیر کوشش حکومت کوی چه د هغوی لږ ډیر هنر ایزده شی چه بهر راوځی چه د یو صحیح شهری په شانته هغوی ژوند تیر کړی- باقی ما ته چه کوم لیکل راکړی وو، زه پخپله هم ډیر حیران شوے یمه، وائی چه صرف یو پرسنټ هغه خلق وی چه کوم دوباره جیل ته راځی- د هغوی دا Contention دے، هغوی وائی چه مونږه دومره اصلاح کوؤ د خلقو چه کوم Criminals چه دوباره واپس راځی نو ټولو کښ صرف یو پرسنټ خلق واپس راځی - I don't know wheather it is true or not? خو هغوی ما ته دا لیکلی راکړی دی- که داسے وی نو دا خو بیا ریښتیا خبره ده چه جیلونو کښ د خلقو اصلاح کیږی- داسے خو لائبریری هم شته دے- هلته مونږ د پاره امام شته دے نو زه دے خپلو رونړو ته خواست کومه، ما ته پته ده چه په جیلونو کښ ډیر لوئے تکلیفات دی او حکومت به انشاء الله کوشش کوی چه دا تکالیف چه څومره زر تر زره کیدے شی، ختم کړے شی- زه خواست کومه دے خپلو رونړو ته چه مهربانی اوکړی او دا خپل کټ موشن دِ واپس واخلی-

جناب سپیکر: زما خیال دے چه اوس به ستاسو تسلی شوے وی-

جناب نجم الدین: ما عرض کولو جی، منسټر صاحب اوونیل چه کوم کسان

جیل له لاړ شی او هغوی راوخی نو بیا هغوی جیل له نه راخی- چه کوم مجرم جیل اووینی او بیا جرم اوکړی نو هغه مفرور شی، د غروںو په سرونو کښې ناست وی او هغه د سره بیرته نه راخی دغه جیل له- مونږه جی خپل کټ موشن واپس واغستو-

جناب سپیکر: جی پیر محمد خان او احمد حسن خان-

جناب پیر محمد خان: مونږ هم خپل کټ موشنز واپس اخلو-

Mr . Speaker: The cut motions are lost being withdrawn . The question is:

"that a sum not exceeding rupees one hundered ten millions , eight hundred and seventy five thousand only , be granted to the Provinical Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Jails and Convict Settlements.

Those who are in favour of it, may say 'yes' and those against it, may say 'No'.

(The motion was carried.)

Mr . Speaker: The 'Ayes' have it . The Demand is granted . The Honourable Minister of Irrigation on behalf of Chief Minister , to please move his Demand No. 13.

Minister for Irrigation: Mr . Speaker Sir , on behalf of Chie Minister, I beg to move:

"That a sum not exceeding rupees one thousand, five hundred, eighty-nine million and thirteen thousand only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th, June 1998 in respect of Police".

Mr. Speaker: The Motion is:

"that a sum not exceeding rupees one thousand, five hundred, eighty-nine million and thirteen thousand only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th, June 1998 in respect of Police".

Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, to move his cut motion, please.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! زه په ډیمانډ نمبر 13 کښې د ایک هزار روپو کټوتی تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion moved that the total grant be reduced by rupees one thousand only. Mr. Ahmad Hasan Khan, MPA, please.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! زه په مطالبه زر نمبر 13 کښې د پینځه سوه روپو د کټوتی تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees five hundred only. Mr. Hamidullah Khan, MPA, to please

move his cut motion. Mr. Hamidullah Khan. Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA, please.

نوابزادہ محسن علی خان: میں ڈیمانڈ نمبر 13 میں دس روپے کٹوتی کی تحریک پیش کرتا ہوں۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees ten only. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, please.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! دا پولیس خو یو داسے محکمه ده چه اختیارات ورسره هم ډیر دی، نو پکار دا ده چه هغه ډیر اختیارات په صحیح طریقه استعمالیدے نو ډیر ښه اصلاح به شوے وه۔ که دوئ هغه صحیح کار کولے نو بیا به مونږه د دوئ د پاره نور مراعات هم غوښتل چه ...ره، دوئ ته د نور مراعات ملاؤ شی۔ خو مصیبت دا دے چه کوم مراعات ...رته ملاویږی نو د هغے هم صحیح استعمال نه کیږی۔ دے پولیس والو ...ره خو یقینی خبره ده چه یو زیاتے کیږی۔ جناب سپیکر صاحب! چه کله ...سمګلر سره یا مفرور سره مقابله کښې څوک پولیس والا پکښې مړ شی نو د ...ه بچو ته بیا حکومت له پکار ده چه پانچ، چھ لاکھ روپئ ورکولے چه د ...وی بچو ته څه ماهواری Income خو راتلے۔ هغوی له حکومت ډیره کمه ...ضه ورکوی او چه معاوضه کمه ورکوی نو بیا پولیس د خپل سر ...انی هم نه ورکوی خکه چه شیخ سعدی بابا هم وائی چه

زر بده مرد سپاہی را تا سر بدہد

و گرچه زر نه دہ سر بہ نہدر عالم

نوکه تاسو سپاهی له تنخواه ډیره نه ورکوئ نو دے ستا د پاره سر هم بیا نه

قربانوی- نو یقینی خبره ده چه هغه پولیس والا له چه کوم د مفرورانو یا ډاکوانو سره په مقابله کښې مړ شی نو د هغه بچو له پانچ، چھ لاکھ روپے خونے چه ورته ورکولے چه د بچو هغه ماهواری گزاره پرے کیدے او بله دا جناب سپیکر صاحب، چه کله د پولیس یو سپاهی د مفرور یا د سمگلر سره په جهګړه کښې مړشی نو بیا د هغے انعام، بالا افسر ته ملاویږی او په اخبارونوکښې راشی چه جناب ایس پی صاحب او جناب ډی ایس پی صاحب ته د مخبرنه یا د باخبرذرائع نه اطلاع راغلے وه، هغه ناکه بندی اوکړه- سپاهی غریب به پکښې مړشوے وی، بچی به د هغه یتیمان شی- نو پکار دا ده چه څوک په هغے کښې مړ دے، چه انعام هم د هغه بچو ته ملاو شی- که زخمی شوے دے، انعام هم د هغه حق دے او دا بل چه په بنګله کښې ناست دے یا دفترکښې، ده ته دِ نه ملاویږی خو د دے سره سره جناب سپیکر صاحب، نو دوئ ته که څه لږ ډیر اختیارات ملاویږی هم، نو بیا دوئ هم د هغے اختیاراتو نه ناجائزه فائده اخلی چه سړے حیران شی چه یره دا محکمه خو چه هډو وے نه- بعض علاقه غیر داسے دی لکه کالا ډهاکه، چه په هغے کښې پولیس نشته نو تقریباً په علاقه کښې دننه هغه واقعات واردات نه کیږی، امن وی پکښې، د بهر نه که ورته څوک اغوا کانے یا څه کوی خو دننه علاقه کښې امن وی- دلته کښې چه کله مونږه گورو په اخبارونوکښې روزانه جناب سپیکر صاحب، اوس هم دا اخبار زما سره دے، نو چه دے اخبارونو ته اوګورو، ګاډی، مسروقه ګاډی، نو په هغه کښې چه پته لګی لګی نو پولیس والا پکښې ملوث وی- ډیرګاډی پکښې داسے دی چه هغه پولیس والا پکښې بیا ګرځی پخپله- یو سړی نه به ګاډے چا اغوا کړے وی، تختولے به وی، هغه غریب به څی او راځی او هغه ګاډے به د پولیس والو سره وی او هغه به نے خان له استعمالوی او اخوا دیخوا کیږی به ترینه- په دے پیښورکښې هغه بله ورځ په خیبر بازارکښې دننه یو دکاندار

سرو په زور اونیو او په گاډي کښې ئے واچونو چه داسے حال شي چه په ښاریه کښې دننه اغوا کیږي، په سول کوارټرو کښې، دا تاریخ ما ځان سره چرته نوټ کړے دے، هغه ورځ، په رڼړا ورځ باندے جناب سپیکر صاحب، 88-A/B یو کوارټر دے، په 21 جون 1997 باندے چه هغه مالک ئے چرته سه روزه باندے تبلیغ ته تلے وو، نو په هغه رڼړا ورځ د هغه په کور باندے ډاکه شوے ده او ښه په سفید پوش شکل کښې پرے ورغلی دی- بیا دغسے په بل په کوارټر نمبر 88-A باندے هم ډاکوان ورغلی دی د ورځے، هغوی ورسره څه زغلوي رازغلوي دی- د دغه خوا او شا کومے تهانے سپاهیان چه دي، پولیس چه دي، نو اکثر په ډیگري کارډن کښې د ډاکټرانو د دے کارډن خوا اوشا کښې وي او زمونږ اطلاع دا ده چه دا ډاکټران د خپلو ګاډود تحفظ دوئ ته څه پیسے ورکوي، دوئ خکه دغلته وي کنې ډیگري کارډن سره خپله تهانه شته- پکار ده چه هغوی د دے تحفظ کوي او د سول کوارټرو پولیس د دے خپلے علاقے تحفظ کوي- دا په کوهاټ روډ باندے په هغه تیر ورځو کښې په رڼړا ورځ باندے ډاکه اوشوه اوګاډي ئے بند کړي دي او ډیره لویه بدامني ئے جوړه کړې ده- خبره ده جناب سپیکر صاحب، زه وایم چه دے پولیس والا کهلاؤ دا اعلان کړے وے چه بس مونږه ډاکوان یو او بس ډاکے به مونږه کوؤ او بل چا ته ضرورت نشته- نو بیا به دے قوم یو سوچ کړے وو چه د هغے متبادل بیا مونږه قامیز خلق ځان مسلح کړو او راوخو- د پولیس په جامه کښې ډاکه اوشي، د پولیس په وردئ کښې ډاکه اوشي، د پولیس په وردئ کښې سرے خي، د سړي په کور باندے دننه کیږي- دا به مونږه آخر د چا نه خپل تحفظ کومو؟ د دے بهانه ښانړئ په دے ځانے کښې دا اغواګانے کیږي- هغه بله ورځ په د کوهاټ روډ ټریفک بند شوے وو- نو مونږ ته خو هغه اخبار نه هم

پته اولګی او څوک راشی اطلاع راته هم راکړی۔ دا هوائی فائرنګونه کیږی، په کور کښې دننه پکښې زنانه مره شی، ماشوم مړ شی او په مخه حکومت هر وار وائی چه هوائی فائرنګ باندے پابندی ده۔ مونږ خو هغه پابندئ په حساب پوهه نه شو۔ په هاسپټل کښې مونږ د کلاشنکوفونو دا غربرے آورو۔ مونږه وایو چه یره خدائے خبر چه حکومت شته او که دا چرته مونږ په باجوړ کښې ناست یو؟ نو سړے حیران غونډے شی۔ بل جناب سپیکر صاحب، که تاسو فکر کړے وی، اخبار کښې خبره راشی چه سمګلر روان وو، ګاډی باندے پولیسو چهاپه اولګوله اور سمگلر فرار ہونے میں کامیاب ہوگیا۔ عجیبه خبره ده، ګاډے اونیوے شی، مال اونیوے شی، سمگلر فرار ہونے میں کامیاب ہوگیا۔ ده ته چرته جهاز ولاړ وو چه په هغے کښې والوتو؟ ګرنډی تیز رفتاره خو سوارئ وه، هغه خو اونیولے شوه نو چه دا سړے څنګه د دے ګاډی نه هم زیات تیز وو چه دے فرار ہونے میں کامیاب ہوگیا؟ په دے خبرو زه خو مطمئن نه شوم چه دا څه مقصد دے چه دا فرار ہونے میں ولے کامیاب ہوگیا؟ بل چه کله دوئ د چا په کور چهاپه لګوی په څه غل ډاکو باندے نو وائی چهاپه ئے اولګوله خو هغه ملزم په موقع برآمد نه شو۔ نو هغه برآمد څکه نه شو څکه چه مخکښې نه ورته اطلاع ورکړے وی۔ هغه باقاعده ماهواری پیسے ورکوی تهانے له چه دوئ ورته اطلاع ورکړی چه مونږه به په تا په فلانی ټائم د شپے درځو، په نیمه شپه چهاپه به لګوو۔ هغه په هغه شپه نه وی۔ چه نه وی نو دوئ وائی چه چھاپہ لگایا لیکن موقع پر ملزم گرفتار نہ ہوسکا۔ په تهانو کښې جناب سپیکر صاحب، که څوک راشی، رپورټ له راشی، نو په ایف آئی آر کښې به ورسره دوئ اخوا دیخوا کوی۔ ایف آئی آر به په موقع نه درج کوی او تاسو ته هم پته ده، غټ وکیل یئ، چه کله د ایف آئی آر په موقع اندراج او نه شی نو کیس څومره کمزورے شی؟ څکه د هغے د فاصلے تپوس کوی، بیا په عدالت کښې وکیل

تپوس کوی، فاصله څومره وه؟ يو کلوميټر، واقعه څه ټائم شوے وه؟ يوه بجے- ايف آئی آر څه ټائم شوے دے؟ درے بجے- ولے دا فاصله خو دومره نه وه، درے بجے ولے ايف ائی آر درج شو، څه صلاح مشورے کيدے؟ نو هغه ټول کيس فی الحال کمزورے شی او خراب شی به ترينه- نو پکارده چه په هغه موقع باندے آيف آئی آر کيدے- دغه شان قاتل به قتل کرے وی، د چا به کور وران شوے وی، زنانه به ورته کونډے شوے وی، بچی به ورته يتيمانان شوی وی اودے به د پيسو په چکر کښې هغه ايف آئی آر په درج کيدو کښې اخوا ديخوا کوی او هغه ټول کيس به ورله خراب کړی او د هغه غريبانانو هغه داد رسی بيا په عدالت کښې هم نه کيږی ځکه چه بنيادی شے ورله دوئ داسے وران کړے وی- نو دے طرف ته څه خصوصی توجه پکارده- بل جناب سپيکر صاحب، دا يو فرياد مونږه ټول کوؤ چه دغه مونږ سره په پينځه منټه، لس منټه فاصله کښې علاقه غير ده- نو د هغے هيڅ حل نه اوخی- خدائے خبر چه دا د بل ملک حصه ده که مونږه نيولے ده چه مونږه ئے انتظام نه شو کولے که څه چل دے؟ سپيکر صاحب، نو د دے علاقه غير څه يو حل خو مستقل پکار دے کنه- که دا زمونږه نه وی نو بيا په پردی ملک مونږ ولے قبضه کړے ده، پريږدو ئے ولے نه چه خان له خپل يو حيثيت جوړ کړی، خان له خپل ملک د جوړ کړی او خپل حکومت د جوړ کړی؟ که د پاکستان خاوره وی اود پاکستان ملک وی، ملک زمونږه وی نو بيا خو پرے حکومت هم زمونږ پکاردے اوکه دا د افغانستان وی نو هغه طالبانو ته حواله کول پکار دے- وائی چه ډير لوئے امن ئے راوستے دے، بيا هغوی ته د حواله کړی چه امن راشی چه دا خلق خو ترے دمه وی د دے روزانه اغواګانو نه- بچی ئے اغوا کيږی، ګاډی اغوا کيږی او بيا د هغے نه ورله مره لاشونه راوړی او دغه ويرے نه ما پرون هم عرض کړے وو-

زمونږه د دے ښار چه کوم ممبران دی، هغه غریبانان په خپل سر ویریږی نو هغوی اسمبلئ کښې هم خبره نه شی پیش کولے. حکومت ته نے هم نه شی وئیلے، په اخبارکښې نے هم نه شی وئیلے چه یره دا څه زما په حلقه کښې یا په ښار کښې څکه چه د گنج نه، د دے خانے نه چه اغوا کیږی خو د دے اسمبلئ څوک ممبر به د هغے حلقے وی کنه، نو هغه غریب به د خپلے ویرے نه څه نه شی وئیلے څکه چه د هغه سر ته هم خطره ده کنه. نو د دے څه حل ایسنتل پکار دی.

<u>جناب سپیکر</u>: پیر محمد خان، یوه خبره ستا نوټس کښې راولم چه دا زما نوټس کښې هم راغلے ده، چونکه دوه سانحه دی، یو حکومتی سائډ دے او دا Proceedings داسے روان دی چه په هغے کښې Limited وخت دے نو تاسو بار بار دا خبره کوئ نو دا خو هغه ما نه گله کوی ټول چه مونږ له وخت نه راکوے حالانکه دا ستاسو خبره چه ده، دا په یو بل Cut motion کښې ده. نو Cut motions کښې داسے مهربانی اوکړئ، داسے خبرے مه کوئ چه زما Partiality پکښې راولئ څکه چه د هغوی دا گله ده ما نه چه مونږ نه پریږدی. چه وخت راشی، دوئ به که خیر وی ټول خبرے کوی او داسے خبرے به اوکړی چه سترړی به مو کړی.

<u>جناب پیر محمد خان</u>: خو جناب سپیکر صاحب، بس آخری به یوه خبره اوکړم. جناب سپیکر صاحب! په دے اخبارونو کښې هم راغلی او مونږ ټولو ته هم ډیره لویه پریشانی پیدا شوے ده چه مونږه خو د دے صوبے، د دے ملک خلق یو او زمونږه دے صوبے له د امریکے نه سړی راغلی او د دے خانے نه سړے اوچتوی او زمونږه پولیس شته، فوج شته او هر څه شته،

مونږ ته نے پته هم نه لږی- دغه ایمل کانسی دے که څه دے، هغه نے هم د دے خانے نه اغوا کړے دے یو قسمه- خکه چه زمونږ پولیس ترے نه دے خبر- دوئ وائی مونږ نه یو خبر- حکومت وائی چه مونږه نه یو خبر او د بهر ملک نه څوک راخی او زمونږ نه سړے اوچتوی؟ نو په دے کښ زما هم تحفظ نشته او ستاسو هم تحفظ نشته- شکریه، جناب سپیکر صاحب-

**Mr. Speaker:** Mr. Ahmad Hasan Khan, MPA, please.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر ! چه کوم معاشی صورتحال دے، په آبادئ کښ د اضافے سوال دے، د پولیس ایکټ مطابق د انګریزانو د وخت د قانون خبره ده، د پولیس د تعداد د کمی خبره ده، بالائی افسرانو ته د مراعاتو خبره ده، نچلی سطح باندے د پولیس سپاهیانو د احساس محرومئ خبره ده، معاشرتی برائیانے دی، د وسائلو کمے دے او نورے ډیرے داسے خبرے دی چه هغه د پولیس د داسے کردار ذمه دارئ دی او زمونږه د دے حکومت نه په دے درے، درے نیمے میاشتو کښ دا توقع کول چه مکمل به امن و امان راولی، دا به هم په بے انصافئ باندے مبنی یوه خبره وی- خو په دے که تاسو ته یاد وی جناب سپیکر، نو جناب چیف منسټر صاحب په خپل اولین پالیسی تقریر کښ دا خبره کړے وه چه جرائم پیشه خلقو او جرم کونکو کسانو زمونږ حکومت ته په جرائمو کښ د اضافے کولو په بنیاد باندے خوش آمدید وئیلے دے- خو زه هغوی له دا تنبیه ورکوم او انتظامیے ته دا زورنه ورکوم چه د دے د ورله مؤثر جواب ورکړی او انتظامیه، باالخصوص پولیس دِ امن و امان قائم کړی- په شپږ شلے، اووه شلو ورځو کښ دننه جناب سپیکر، هغه ریټ د کمی په بنیاد باندے د جناب چیف منسټر

د هغے حکم او د هغے خواهش برعکس، زه دا وایم چه ختمول نے گرانه وه، کم نه شو، خو هغه دومره هم بحال پاتے نه شول لکه څومره چه مخکښ وو۔ حق دا جوړیدو چه نن د اپوزیشن د طرف د حکومت په امن و امان کښ د ناکامیابئ په بنیاد باندے د حکومت نه دا مطالبه شوے وے چه چونکه تاسو امن و امان نه شئ قائم ولے د دومره لوئے میندیټ باوجود، نو بیا حق دا جوړیږی چه مونږ دا مطالبه اوکړو چه تاسو مستعفی شئ۔ خو زه په دے وخت باندے دا خبره کول څکه مناسب نه گنړم چه کیدے شی، حکومت او انتظامیه او پولیس ایجنسیز به د خپل Planning په سټیج کښ وی، دوئ به لا پرے Planning کوی لکه څنگه چه په دے ملک کښ Planning روان وی او د هغے خلاف نور محرکین تحریکونه کوی۔ په دغه صورتحال په بنیاد باندے به دا دغه کیږی۔ ما پرون هم، بشیر خان تلے وو، صرف یو مثال، چه کوم حکومت امن و امان خپلو شهریانو له نه شی ورکولے نو هغه د حکومت کولو قابل نه دے۔ دا یو مستند اصول دے جناب سپیکر۔ پرون د انډسټرئ سره څه تعلق لرونکی دوستانو جلوس راویستے وو او هغوی وئیل چه په 19 جون باندے د امان الله خان بچے، طاهر علی اغوا شوے دے او هغوی بیا جلوس ویستے وو او نن بیا ئے جلوس دے او بله ورځ د پاکستان د صنعتی ادارو سره تعلق لرونکی د ټولو نه لوئے او اهم شخصیت، د الیاس بلور صاحب په سربراهئ کښ هم شاید د هغوی د جلوس ویستو پروګرام دے او هغوی بیا څه Threats ورکوی۔ جناب سپیکر، هغه وائی چه مونږه به، که فرض کړه دا بچے برآمد نه شو نو " تمام ٹیکس ادا نہیں کئے جائیں گے"، دا د هغوی په اردو کښ ترجمه ده، هغوی په انګریزئ کښ لیکلی

دی۔ "یوٹیلٹی بل ادا نہیں کئے جائیں گے" یعنی د بجلئ د سوئی گیس وغیره، وغیره، مکمل عدم تعاون ہوگا، اپنی ملیشیاء فورس قائم کریں گے یعنی متبادل حکومت به قائم کړی۔ جناب سپیکر، نن دا بده خبره نه ده؟ د مختلفو طبقو سره مونږ ټول تعلق لرو څوک زمیندار دی، څوک کارخانه دار دی، نن د دے ملک سربراه یو Industrialist دے او هغه پخپله د انډسټری د اهمیت نه خبر دے او د هغه په طبقه کښ دا بے چینی ده جناب سپیکر، نو د عام فرد به څه صورتحال وی؟ زه خپله خبره نه اوږده ووم۔ زه دا هم وایم چه وسائل معاشرتی برانیانے، د انګریزانو د وخت قانون، د ماتحت عملے کمے تنخواګانے، هغوی له کم مراعات ورکول، په بالا افسرانو نوازش، په بدلو او په تعیناتو کښ سیاسی اثر و رسوخ استعمالول، دا د ملک د بد قسمتئ د شروع نه راروانه یوه خبره ده۔ خو زما درخواست دا دے لکه څنګه چه د جیل په سلسله کښ یوه کمیټی جوړه شوے وه، زه خپله خبره مختصر کوم، دغه شانتے د بی بی په مشرئ کښ یا تاسو یا دا ایوان نے مناسب ګنړئ، د یو بل چا په مشرئ کښ دِ یوه کمیټی قائم کړے شی او د جیل د قوانینو او د آئنده منصوبه بندئ د پاره د دستیاب وسائلو په بنیاد باندے اصلاح پکار ده۔ دا نه شو وئیلے چه د دے د پاره چه کوم وسائل پکار دی، هغه زمونږ سره دستیاب نه دی، چه د هغے پیش نظر د نن ورځے حقیقی منصوبه بندی اوکړی او د پولیس د پاره دِ د وخت د تقاضے او زمونږ د مزاج مطابق، د انګریز د مزاج مطابق نه، جناب سپیکر، زمونږ د مزاج دِ دلته کښ قانون جوړ شی، په دے سیاد باندے زه تاسو ته دا درخواست کوم، ورسره ورسره د خپل ډیمانډ د چیسئ درخواست کوم۔

**Mr. Speaker:** Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA, please.

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب، شکریہ۔ پولیس پر بہت ساری باتیں ہو چکی ہیں۔ یہ ایک ایسا محکمہ ہے کہ اکثر اس محکمے پر بڑی تنقید کی جاتی ہے اور اگر دیکھا جائے جناب سپیکر صاحب، تو اس محکمے کے بغیر گزارہ بھی نہیں ہو سکتا ہے کیونکہ ہر ایک شہری یہ چاہتا ہے کہ امن و امان ہو، تحفظ ہو۔ میں اس محکمے کے بارے میں صرف اتنا کہنا چاہتا ہوں جناب سپیکر صاحب، کہ جیسے احمد حسن خان نے ایک Suggestion دی ہے، میں بھی آپ کے ذریعے اس معزز ایوان کو ایک تجویز دیتا ہوں کہ واقعی پولیس کے بارے میں ایک کمیٹی بنائی جائے اور وہ کمیٹی جانچ پڑتال کرے کہ حقیقت میں پولیس کی جو موجودہ تعداد ہے، آیا جو اضافہ ہماری آبادی میں ہوا ہے، یہ پولیس موجودہ تعداد میں اتنا کام کر سکتی ہے؟ آپ ایک تھانے کو دیکھیں جناب سپیکر صاحب، ایک تھانے میں کتنے لوگ ہوتے ہیں اور کیا کیا کام ان کو تقسیم کئے گئے ہیں؟ اگر آپ حقیقت کو دیکھیں جناب سپیکر صاحب، It is virtually impossible کوئی بھی وی آئی پی جائے، کوئی بھی منسٹر جائے جناب سپیکر صاحب، آپ کو اس کے بارے میں بخوبی علم ہے تو The police is on parade, چاہے وہ چیف منسٹر ہوں، چاہے وہ گورنر ہوں، چاہے وزیر اعظم ہوں تو From morning to evening یہ پولیس والے آن پریڈ ہوتے ہیں۔ ان کے کوئی Duty hours نہیں ہیں۔ They are not paid any thing for extra duty. اور جس وقت وی آئی پی Movements ہوتی ہیں جناب سپیکر صاحب، تو تھانے سے ان کی Strength کو withdraw کرتے ہیں تو تھانہ خالی ہو جاتا ہے۔ جناب، پھر تو لازماً کرائمز ہونگے۔ جب لوگوں کو پتہ ہوگا کہ تھانے میں کوئی ہے ہی نہیں، پولیس نے لائن لگائی ہوئی ہے سڑکوں پر، تو کرائمز تو ہونے ہیں جناب سپیکر صاحب۔ دوسری بات یہ ہے جناب سپیکر صاحب، آپ یہ دیکھیں کہ یہ بہت

اچھی بات ہے کہ اس حکومت نے کرپشن کے اوپر بہت زور دیا ہے' احتساب کے اوپر بہت زور دیا ہے۔ ایک انسان کو جناب سپیکر صاحب' آپ اتنا اختیار دیتے ہیں کہ اس معزز ایوان میں جو میں سمجھتا ہوں کہ صوبہ سرحد کا بہت مقدس ایوان ہے اور Legislation کے لحاظ سے' ہر چیز کے لحاظ سے یہ ہر چیز سے بالاتر ہے مگر ایک سپاہی' ایک کانسٹیبل جو گریڈ پانچ میں بھرتی کیا گیا ہے' اس کو یہ اختیار ہے کہ وہ مجھے بھی گرفتار کر سکتا ہے' وزیر صاحب کو بھی گرفتار کر سکتا ہے اور جناب سپیکر صاحب' آپ کو بھی کر سکتا ہے یعنی یہ پاؤرز ہیں اس کے پاس' یہ اختیار ہے اس کے پاس لیکن تنخواہ اس کو کیا ملتی ہے؟ گریڈ پانچ کی۔ تو جناب سپیکر صاحب' میں صرف یہ تجویز دوں گا کہ اگر معزز ایوان اس چیز کے اوپر سوچے کہ اگر اس نظام کو بہتر کرنا ہے' اگر اس نظام کو ٹھیک کرنا ہے' تو ایک ہاؤس کمیٹی آپ بنائیں۔ بے شک گورنمنٹ کے جو منسٹر انچارج ہیں' وہ اس کو District wise چیئر کریں اور دیکھیں کیونکہ یہ Complaints ہیں کہ جناب' Cases کو رجسٹر نہیں کیا جاتا' یہ نہیں ہوتا' وہ نہیں ہوتا' ہزارقسم کی Complaints ہیں۔ میں تو صرف یہ کہونگا جناب سپیکر صاحب' کہ اگر آپ لاء اینڈ آرڈر کو ٹھیک کرنا چاہتے ہیں' اگر آپ ڈکیتی کو ختم کرنا چاہتے ہیں' اگر آپ Kidnapping کو ختم کرنا چاہتے ہیں' اگر حکومت اس بارے میں Serious ہے' تو بجائے اس کے کہ ہم اور محکموں کو پوسٹیں دیں ' Because prime responsibility is law and order. This is first. اگر ایک انسان اپنے گھر میں محفوظ نہ ہو اور ہر وقت اسے یہ ڈر ہو کہ کوئی اسے بھگا کر لے جائے گا تو How can, The Government can not function. لہٰذا میں تو یہ درخواست کرونگا کہ اس کے اوپر ایک کمیٹی آپ بنائیں تاکہ وہ دیکھے In actual fact in real terms کہ آیا This police is sufficient? اور نمبر دو یہ جی کہ یہ جو سپاہی کا لیول ہے گریڈ پانچ کا' میں یہ سمجھتا ہوں کہ At least if

not grade 6, at least to grade-7, because it was only mean and increase about two cror rupees, تو یہ صرف دو کروڑ روپے کا فرق پڑے گا And I think آپ یہ دیکھیں گے ، بہت فرق آئے گا' As far as ان کی جو Performance ہے۔ شکریہ۔

Mr. Speaker: Thank you. The Honourable Minister, please.

وزیر قانون: جناب سپیکر صاحب! ډیره مهربانی۔ دا زمونږ پیر محمد خان صاحب، احمد حسن خان او محسن علی خان چه کومے خبرے کړے دی، زما خیال دے، دا بالکل داسے Positive خبرے دی او ډیرے ټهیک خبرے نے کړے دی چه حالات د ملک داسے دی او Law and order situation هم داسے دے او محترم سپیکر صاحب، په دے باره کښ چه څنګه احمد حسن خان اوونیل چه مونږ کوم وخت اقتدار سنبهالوؤ نو چیف منسټر صاحب دا ونیلی وو چه زمونږ استقبال په اغواګانو شوے دے۔ هغه وخت کښ انتالیس کسان اغوا شوی وو او خدائے په فضل سره د دے حکومت د پالیسئ په وجه په دے دعوئ سره دا خبره کوم چه نن هغه خلق تقریباً ټول واپس راغلل او اغواګانے چه هغه وخت نے زمونږ د اقتدار استقبال کړے وو، هغه مونږه د دے پولیس او د دے ایډمنسټریشن د جد و جهد په وجه باندے کنټرول شوی دی۔ زما ورور اوونیل چه سیاسی اثر و رسوخ باندے ټرانسفرز کیږی، احمد حسن خان اوونیل، زه As a Minister په دے Floor of the House دا خبره کوم چه زما د پیښور ډی۔سی، زما د پیښور اے۔سی او زما د پیښور ایډیشنل ډی۔سی، دا بغیر زما د تپوسه په میرټ باندے او د هغوی د کارکردګئ په بنیاد باندے حکومت ټرانسفر کړی دی، نو زما غوندے سړی په

سفارش نے ترانسفر نه کیږی نو د بل چا په سفارش به نے څنګه کوی؟ زمونږ
د حکومت کوشش دا دے چه مونږ په میرټ او په کارکردګئ باندے دا
پوسټونه ورکړو - بدقسمتی دا ده، څنګه چه زما ورور هم خبره اوکړه چه
د پولیس تعداد ډیر کم دے- سپیکر صاحب، د 1934 د ایکټ لاندے هغوی دا
وئیلی دی چه د چار سو پچاس کسانو د پاره یو کانسټیبل پکار دے، په هغے
حساب سره هم At present چه کوم Strength دے نو هغه 21,827
کانسټیبلان دی، د 450 کسانو په سر د یو کانسټیبل حساب خو مونږ اوکړو
نو Still مونږ ته 21,827 کانسټیبلز نور پکار دی د Population په حساب- د
هغے باوجود دا پولیس چه د خپل Strenght نه کم هم دے او دومره کمے
تنخواه باندے نن یو سړے، په دوه زره روپو باندے څوک ځان نه وژنی، د
ـغے باوجود هغوی عاجزان خپل ځانونه وژنی- دا ټول ریکارډ ما سره
ـوت دے جی- په دے کښې هغوی خپله لیکلے دی چه څومره کسان شهیدان
ـوی دی، دا Encounters کښې څومره کسان مړه شوی دی، څومره دوئ
ـس نیولی دی، څومره د Smuggling د نیولو د پاره کوشش نے کړے
؟ زما ورور وائی چه مال ملاؤ شی او سمګلر غیب شی، نو د شپے په
ـه کښې چه یو سړے اوتښتی نو د حکومت دغه پولیس والا به څنګه
ـے ګرځی؟ کوم پورے چه د ایف آئی آر خبره ده چه درج کیږی نه،
باره کښې حکومت سختئ سره آئی-جی صاحب ته Instructions
ی دی- چرته ایف آئی آر نه درج کیږی نو Complaint چه اوشی نو
ی صاحب به هغه ګوری، دا چرته چه کرائم شوے دی نو I.G present
ـس چه دے، هغه کوشش کوی چه زر تر زره په هغے باندے قابو

بیاموندے شی۔ زمونږ وررور د Industrialists خبره اوکړه، مونږ د پاره یو Industrialist او یو غریب سړے برابر دی۔ دا نه چه یو Industrialist به وی، نو د هغه د پاره به مونږه دنیا واړوو او د یو غریب سړی خوئے به څوک اغوا کړی نو د هغے د پاره به مونږ کار نه کوو۔ په دے فخر سره دا خبره کوم چه دړے ورځے مخکښے یو ماشوم، د یو نیم کال ماشوم، اغوا شو او Within two days مونږ هغه برآمد کړو او اوس صرف زما Knowlege کښ دا دوه کسان دی چه یو د Industrialist خوئے دے او یو د هغوی دوست دے، هغے باره کښ هم نن تاسو اخبارونه اوګورئ نو د شپے حکومت په هغه ایکشن اغستے دے او تقریباً اکاخیلو کښ او حسن خیلو کښ ستانیس مفروران هم نیولے شوی دی او دغه ایکشن اوس مونږ وسیع کوو لګیا یو۔ انشاء الله تسلی ورکوم دے هاؤس ته چه حکومت داسے اوده نه دے چه دا حالات به داسے خرابیږی خو Problem دا دے زمونږ صوبه کښ بدقسمتی دا ده چه څنګه پرون پخپله دوئ اوونیل چه Federal Administered Area, Settled Area, Provincial Administered Area بیا د Afghan war چه زمونږ په صوبه باندے، مونږ باندے اثر انداز شوے دے د کلاشنکوف کلچر، مونږه مخکښ د کلاشنکوف نوم هم نه وو آوریدلے، زما خیال دے اوس هم په دے صوبه کښ دومره اسلحه ده چه زمونږ آرمی دلته کښ څومره ده، د هغوی سره به هم دومره اسلحه نه وی او د هغے باوجود شپږ میلو کښ زمونږ آزاد قبائیل دی چه دلته کښ کرائمز اوشی نو هغه خلق آزاد قبائیل ته لاړ شی، د هغے باوجود پولیس هغه خپله د شپے او د ورځے خواری کوی، جد و جهد کوی چه مونږه د خپلو خلقو د پاره د Law and -

order situation ټهيک کړو او حفاظت نے اوکړو۔ د ټولو نه لويه خبره بے روزګاري، مهنګاني، رشوت، د آبادئ Growth دومره زيات دے، بيا ورسره زما خيال دے چه زمونږ پوليس سره داسے موټرے نشته چه کوم سمګلرز يا د Criminals خلقو سره دی۔ هغوی سره دا ټولے د Communication آسانئ شته دے۔ نو دا ټول Factors چه مونږ يو ځائے کړو نو زما دا خيال دے چه زمونږ د صوبے دا موجوده حکومت او د پوليس کارکردګی چه ده، دا د خدائے فضل دے، ډير بهتره ده انشاء الله۔ زه دے خپل رونړو ته تسلی ورکوم چه ګورنمنټ به کوشش کوی چه دا تنخواګانو باره کښې هم مونږه Cabinet کښې خبره اوکړو، فريد طوفان صاحب هم ناست دے، زمونږ يوسف ايوب صاحب ناست دے، په دے Discussion مو کړے دے، مونږ کوشش کوو چه کله مونږ ته لږ خدائے اوکړی چه د فنانس Relax شی نو مونږ به انشاء الله د کانسټيبل نه اے ايس آئی پورے تنخواګانے زياتے کړو۔ هم مونږ کوشش کوو چه تنخواګانے زياتے کړو او زه دا خواست کوم په دے خبرو سره خپل دے دوستانو نه چه دوئ دِ دا خپل Cut motion withdraw کړی او چه کوم د کميټئ خبره ده، هغے کميټئ په باره ښ خو زمونږ Cabinet شته، پارټی شته، مونږ د خدائے فضل دے ښه ګنړ ق يو، مونږ چه دے باندے پوره سوچ غور کوو لګيا يو چه داسے بيا د څه تئ ضرورت وی نو انشاء الله هغه به هم جوړه کړو۔ مونږ ته داسے هيڅ دف نشته په دے خبره کښې۔

پير محمد خان: جناب سپيکر صاحب! د يوے خبرے دوئ وضاحت او نه ما دا تپوس کړے وو چه کله د پوليس سپاهی چه د سمګلرانو سره يا

مفرورانو سره په مقابله کښې قتل شی نو پکار دا ده چه څه پانچ، چه لاکهه روپئ د هغه بچو ته د ورکړے شی چه په بینک اکاونټ کښې داخلے وی چه د هغے څه ماهواری انکم هغه بچو ته، یتیمانو ته ملاویدے۔ د هغے د پاره د دوئ مهربانی اوکړی، اعلان داوکړی۔

وزیر قانون: جناب سپیکر صاحب! دے زمونږه ورور دا خبره کړے ده چه Encounter کښې یو سپاهی چه مړ شی نو د هغه افسرانو ته انعام ملاؤ شی او هغه ته څه نه میلاویږی۔ دا زما خیال دے چه دا خبره لږه ما ته ټهیک نه ښکاری۔ چه کله څوک مړ شوے دے، شهید شوے دے Encounter کښې، نو هغه ته خواه مخواه پیسے ملاؤ شوی دی۔ څومره پیسے ملاؤ شوی دی؟ دے باره کښې به انشاء الله معلومات اوکړو۔ چه زمونږ څومره وس کیدے شی، انشاء الله هغے نه زیات نه به ورله کوشش اوکړو چه ورکړو څکه چه د انسان ځان چه دے، هغه په کروړونو روپو باندے هم واپس نه راځی چرته۔

Mr. Speaker: Thank you.

اوس خو تاسو Satisfied شوئ؟

Withdrawn. The cut motions are lost, being withdrawn. The question is:

"that a sum not exceeding rupees one thousand, five hundred, eighty nine million and thirteen thousand only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of

Police.

Those who are in faovour of it, may say 'Yes' and those against it, may say 'No'.

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. The Demand is granted. Hon'ble Minister, on behalf of Chief Minister to please move his Demand No. 14.

Minister for Law: Mr. Speaker Sir, on behalf of Chief Minister, I beg to move:

"that a sum not exceeding rupees eight million, three hundred and fifty three thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Merged States".

Mr. Speaker: The motion is:

"that a sum not exceeding rupees eight million, three hundred and fifty three thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for th year ending 30th June, 1998 in respect of Merged States".

Mr. Ahmad Hasan Khan, MPA, to please move his cut motion on Demand No. 14.

ـ احمد حسن خان: جناب سپیکر! زه دَ خپل ډیمانډ د واپسئ درخواست

کوم۔

Mr Speaker: Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, to please move his cut motion on Demand No. 14.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! زه په ډیمانډ نمبر 14 باندے دَ سو روپئ کټوتی تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees one hundred only. Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA, please.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: The total grant may be reduced by rupees five only.

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees five only. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, please.

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکر صاحب! دا تقریباً تراسی لاکھ روپئ Merged States د پاره ایښودے شوے دی۔ دا تیر کال تقریباً تهتر لاکھ وے، دس لاکھ پکښې اضافه شوے ده۔ خو ما ته پته د دے نه لگی چه دا دوئ په څه شی باندے خرچ کوی؟ په Merged States کښې سوات، دیر، چترال دی، چه دا دوئ په څه څیز خرچ کوی؟ ځکه هغه کتاب ما کتلو نو په هغے کښې څه Basic pay officer او داسے څه قصے نے پکښې لیکلی دی خو Merged States جدا افیسرز یا جدا څه سټاف زما په نظر کښې خو نشته۔ پخوا زمونږ په سوات کښې خو د والئ سوات د زمانے څه قاضیان او څه کسان وو، نو هغوی خو نے ختم کړی دی، هغوی ته خو تنخواه نه ملاویږی۔ نو چه یو

دوئ مونږ په دے پوهه کړی چه په څه څیز باندے به خرچ کیږی دا تراسی لاکه روپئ؟ زما خپل خیال دا دے چه دا تراسی لاکه روپئ څی هم دغه انتظامیے له او اخوا دیخوا کیږی څه په مختلفو نومونو، زما خیال دے څی او خرد برد کیږی- البته که دا یوه خبره دوئ اوکړی چه لکه زمونږه د ملاکنډ ډویژن خو د شریعت یو مضبوطه مطالبه ده او تر اوسه پورے په هغه خبره مونږه ټول ټینګ ولاړ یو خو دوئ تر اوسه پورے هغه باقاعده قاضیان کوم چه عوامو غوښتل، هغه له تر اوسه پورے نه دی نیولی، واتی چه تنخواګانے نشته، معاون قاضی چه کوم مقرر شوی دی نو هغوی له هم تنخواه نه ورکوی، که داسے اوکړی چه دا تراسی لاکه روپئ چه دوئ کوم مقرر کړی دی، په دے دِ د قاضیانو تنخواګانے مقرر شی او د سټیټ د وختو چه کوم مقامی واره تحصیلونه دی، په هر تحصیل کښ قاضیان اونیسی چه مقامی مقدمے کیږی چه زر نه زر انصاف ملاویږی- او پیسے خو نے شته، تر اوسه خو زمونږ دا خیال وو چه دوئ د پاره پیسے نشته دے چه دا تراسی لاکه روپئ شته نو دا د هغے ته ورکړے شی او که په بل څه څیز باندے نے دوئ خرچ کوی نو هغه د مونږ ته اوښائی چه په څه څه څیز باندے به دا خرچ کوی؟

Mr. Speaker: Nawabzada Mohsin Ali Khan, please.

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب! میں نے تو کٹ موشن ایک دوسری وجہ سے کی تھی مگر اب چونکہ پیر محمد خان نے ایک سوال کیا ہے اور میں نے بھی اس کو ذرا دیکھا ہے، واقعی اگر آپ دیکھیں جناب سپیکر صاحب، یہ Budget Memorandum میں Volume- VI میں یہ بتایا گیا ہے کہ ٹوٹل جو آمدن ہے Merged States, Dir,

Revise Estimates 1996-97 ' جس کیلئے یہ عملہ رکھا گیا ہے Swat and Chatral,

Over eighty میں خیال میرے was only four million as compared to,

جو انہوں نے مانگا ہے اور Next year انہوں نے آمدن رکھا ہے پچاس لاکھ three lacs

اور انہوں نے یہ بتایا کہ آمدن Is from land revenue, stamps reciepts,

اتنا واقعی reciepts from Administration of Justice and other reciepts,

بڑا عملہ رکھ کر جو کچھ اس کا رزلٹ ہمیں مل رہا ہے، بہت تھوڑا ہے۔ اس چیز کے اوپر ذرا غور کیا جائے۔ میں صرف احمد حسن صاحب سے یہ پوچھنا چاہتا ہوں کہ وہ میرے بھائی ہیں اور دیر سے تعلق رکھتے ہیں، میں نے اس کو بڑے غور سے دیکھا ہے اس سارے ڈیمانڈز کو، ایک چیز کے اوپر مجھے بڑا افسوس ہو رہا ہے جناب سپیکر صاحب، اور وہ یہ ہے

کہ جہاں پر یہ Budget Grants for Current Expenditures 1997-98,

میں آنریبل منسٹر سے یہ درخواست کروں گا Volume-III, Part (D) on page 234,

کہ اس کتاب میں تو یہ چھپ گیا ہے مگر آئندہ ایسا نہ چھپے۔ یہاں پر ڈیمانڈ میں دیا گیا ہے "وظیفہ خور" میرے خیال میں آج کل کے زمانے میں یہ کہنا "وظیفہ خور" یہ تو بہت بری بات ہے۔ اس پر انہوں نے چھ پوسٹس دکھائی ہیں اور 1997-98 میں پانچ پوسٹ دکھائی ہیں اور صرف یہ "وظیفہ خور" دیر میں ہیں؛ لہٰذا میں درخواست کروں گا کہ یہ "وظیفہ خور" جو بھی ہیں، ان کو کوئی اور ٹائٹل دیا جائے، یہ بہت بری بات ہے۔ (قہقہہ)

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر ! چونکه همیشه نوابانو او شهزادگانو د غریبانو او د ملنگانو هم دغه شان مذاق اُړاو کړے دے او انجام هم دغه وی چه څنګه د دوی دے۔

Mr. Speaker: The Honouable Minister, please.

وزیر قانون و پارلیمانی امور: تھینک یو ویری مچ، سر۔ میں احمد حسن خان کا بہت زیادہ

مشکور ہوں، انہوں نے مہربانی کی، کٹ موشن واپس لیا۔ پیر محمد خان اور محسن علی خان کا بھی بہت مشکور ہوں، انہوں نے بڑے اچھے پوائنٹس دکھائے ہیں۔ سپیکر صاحب! یہ جو تراسی لاکھ روپے ہیں، یہ کسی کو ایسے ہی نہیں دیئے جا رہے ہیں۔ اس کی تمام تفصیل میرے پاس ہے کہ یہ جو سٹیٹ کے پرانے ملازمین تھے جو کہ کوالیفائڈ نہیں تھے کہ جن کو ہم تحصیلدار، نائب تحصیلدار اور جیسے کیڈرز میں لے آتے، وہاں پولیس کانسٹیبل کوالیفائڈ نہیں تھے، ایسے حوالدار کوالیفائڈ نہیں تھے، ان کے ہاں جتنے نوکر تھے، ان سب کو گورنمنٹ پیسے دیتی ہے اور یہ نہیں ہے کہ وہاں ہماری آمدن جو ہے، وہ پچاس لاکھ ہے اور خرچہ تراسی لاکھ ہے۔ وہ خرچہ آمدن کے ساتھ ہم نہیں Tally کرتے، وہ ہمارے اخراجات جو ہیں اور پرانے جو نوکر سٹیٹ کے ہیں، ان کو ہم نہیں نکال سکتے۔ قانون یہ تھا کہ جب ہم نے Merged کیا تو ان کو ہم نے مکمل تحفظ دیا تھا ان کی تنخواہوں کا۔ پھر یہ بھی میں آپ کو بتاتا چلوں کہ جو لوگ فوت ہو جاتے ہیں، ان کی جگہ کسی دوسرے کی Appointment ہم نہیں کرتے۔ اگر ایک جگہ کوئی آدمی نائب تحصیلدار تھا، وہ کوالیفائڈ نہیں تھا، ہم اس کو تنخواہ دے رہے ہیں اور وہ اگر خدانخواستہ مر جاتا ہے تو اس جگہ ہم نیا تحصیلدار نہیں بناتے کیونکہ ہماری مجبوری تھی جو پہلے لوگ تھے ان کو پیسے دینے کی۔ میرے بھائی نے "وظیفہ خور" کی بات ہے، یہ تو سٹیٹ کے وقت سے لے آ رہے ہیں اور یہ ایک ہمارا کلچر بھی ہے۔ اس میں ایسی کون سی بات ہے جس میں احتجاج ہونے کی بات ہو۔ یہ جو پیسے ہم دے رہے ہیں، اس کی پوری ڈیٹیل میرے پاس موجود ہے۔ ڈسٹرکٹ دیر میں ہم دے رہے ہیں دو لاکھ، چوبیس ہزار، نو سو روپے، ڈسٹرکٹ چترال میں ہم دے رہے ہیں چوالیس لاکھ، انتیس ہزار روپے۔ کس کو دے رہے ہیں؟ یہ جو وہاں کے تحصیلدار کا سٹاف ہے، کلرک ہیں، ہم اس کو Absorb نہیں کر سکتے تھے یا جو سٹوڈنٹس سکالرشپ ہے جو پہلے سے سٹیٹ دے رہی تھی، ان کو مجبوراً

دینا پڑتا ہے کیونکہ یہ ان کا حق تھا اور اسی طرح ہم ڈسٹرکٹ سوات میں تینتیس لاکھ، بیتالیس لاکھ، آٹھ سو پچاس روپے دے رہے ہیں، ڈسٹرکٹ بونیر میں ہم دو لاکھ، انہتر ہزار، پانچ سو بیس روپے دے رہے ہیں۔ تو یہ اس کی پوری Detail ہے۔ کوئی ایسی بات نہیں ہے کہ ہم کوئی پیسہ ضائع کر رہے ہیں یا گھپلے ہو رہے ہیں۔ گھپلے نہیں ہیں۔ یہ جو نائب تحصیلدار، اٹھارہ جونیئر کلرک And two drivers who could not be absorbed due to the lack of qualifications. Similarly scholership to the poor students in District Swat and District Chirtal and District Dir, تو یہ پیسے جو ہیں، یہ کوئی غلط طریقے سے استعمال نہیں ہو رہے ہیں اور ہمیں وہاں سے آمدن بھی پچاس لاکھ ہے۔ باقی میں اپنے بھائی کو انشاء اللہ یہ تسلی دیتا ہوں کہ یہ "وظیفہ خور" کا لفظ انشاء اللہ آئندہ نہیں چھپے گا۔

<u>جناب پیر محمد خان</u>: نه جناب سپیکر صاحب، څنګه چه اتهاره جونیئر کلرک دوئ ذکر اوکړلو او څه ډرائیوران، په محکمو کښې ډرائیور هم نه شی Absorb کولے او جونئیر کلرک هم Absorb کیدے نه شی، دا څنګه چل دے؟ زه خو په دے نه پوهیږم۔ څکه چه د کلرکانو د پاره باقاعده تنخواه څی، د ډرائیورانو د پاره څی، د هر محکمے نوکرانو د پاره، اوس دوئ چه کلرکان هم پکښې شامل کړل۔ 1969 کښې سوات Merge شوے دے په پاکستان کښې۔ اتهایس کال څو د هغے اوشو نو اتهایس کال مخکښې چه سړے کوم جونیئر کلرک وو یا څو هغه هغسے جونیئر کلرک دے یا هغه تا د سټیټ هغه زور خانے په وجه چه کوم خانے ملاؤ شوے دے، هغه په یو محکمه کښې څو به وی۔ اوس هغه سړے کوم خانے کښې کار کوی؟ څکه چه سټیټ څو ختم شوے دے، Merge شوے دے نو د ده ډیوټی په کوم خانے ده؟ د

در اینور په څه څیز باندے ډیوټی ده او د کومے محکمے ګاډے چلوی؟ څه څیز خو دِ دوئ اوښائی۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور، جناب سپیکر صاحب! پیر محمد خان ډیره ښکلے خبره اوکړه۔ چه کومے پورے د Qualification خبره ده، ما خو عرض اوکړو چه یو جونیئر کلرک هغه خو د سټیټ وخت وو، هغه وخت خو Qualification نه وو، انټرویو به نه کیده۔ د والی خوښه به وه که چا سره هر څه مهربانی کوله، هغه به ئے کړی وی خو مونږ به هغه کلرک، یو ان پړه سړے چه کلرک وی، هغه به مونږ په کوم یو ډیپارټمنټ کښ Absorb کوؤ؟ یو سړے په ډرایئونګ نه پوهیږی، هغه د ډرایئور په حیثیت بهرتی شوے دے، نو مونږ به هغه له څنګه موټر یا ګاډے ورکړو چه هغه ډرایئونګ اوکړی او دا خبره چه دوئ وائی چه کوم ځائے کار کوی، کوم ډیپارټمنټ کښ دوئ Absorb شوی دی؟ دا د دوئ Question اوکړی نو انشاء الله هغه Detail به ورته ورکړو۔ خو دا کومے پیسے چه مونږ غواړو د دوئ خلقو له، دا د سټیټ هغه خلق چه کوم مونږ Absorb نه کړے شو په هغه خپل محکمو کښ، هغوی ته مونږ دا پیسے ورکوؤ۔ زه خواست کوم چه دا کټ موشن د دوئ واپس واخلی۔

جناب پیر محمد خان، نه جناب سپیکر صاحب، زه یو Request کوم په دے کښ۔ په دے دغه کښ زما شک نور هم سوا شو۔ که داسے دوئ اوکړی په دے کښ باقاعده یو داسے انکوائری پکار ده ځکه چه په سوات کښ زه تاسو ته دا ډیلے شمه چه والئی سوات چه کلرکان بهرتی کول، هغه ان پړه خلق نه بهرتی کول، هغه به باقاعده پخپله انټرویو کوله او هر سړے به ئے

راوغبنتو۔ استادبہ نے پخپلہ بھرتی کوو، دستخط بہ نے ورتہ کوو۔

جناب سپیکر: پیر محمد خانہ، زما خیال دے چہ منسٹر صاحب تاسو تہ یو Suggestion درکړو چہ Question پرے اوکړئ، Detail بہ نے راشی اسمبلئ تہ۔ Question پرے اوکړئ۔ Withdraw کوئ جی؟ ټول Withdraw کوئ؟

The cut motion are lost being withdrawn . The question is :

"that a sum not exceeding rupees eight million, three hundred and fifty three thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Merged States".

Those who are in favour of it, may say 'yes' and those against it, may say 'No'.

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. The Demand is granted. The Honouable Minister for Industies, to please move his Demand No. 15.

Mr. Yousaf Ayub Khan (Minister for Industry): Thank you, Sir. Sir, I beg to move:

"that a sum not exceeding rupees ten million, two hundred and thirty one thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Mineral Development".

Mr. Speaker: The motion is:

"that a sum not exceeding rupees ten million two hundred and thirty one thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Mineral Development".

Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, please to move his cut motion on demand No. 15.

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکر صاحب! زه په ډیمانډ نمبر 15 کښې د ایک هزار روپو د کټوتی تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees one thousand only. Mr. Ahmad Hasan Khan, MPA, to please move his cut motion.

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر صاحب! زه په دے مطالبه زر نمبر 15 د پانچ سو روپو د کټوتی تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees five hundred only. Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA, please.

نوابزادہ محسن علی خان، جناب سپیکر صاحب! میں اس مطالبہ زر میں دو روپے کی کٹوتی پیش کرتا ہوں۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees two only. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, please.

<u>جناب پیر محمد خان</u>؛ جناب سپیکر صاحب! د تیر کال چورانوے لاکھ روپئ وے دے د پارہ او څښکال ایک کروړ، دو لاکھ څه د پاسه او کارکردگی د محکمے ورخ تر ورخه خرابیږی، صفر کیږی۔ نو حیران زه په دے خبره یمه چه کار کمزورے کیږی او بندیږی او پیسے نورے نورے، زیاتے زیاتے غواړی۔ نو دا خبره ما ته څه عجیبه غوندے ښکاری۔ آپ میری بات کو سمجھتے ہیں؟

<u>وزیر صنعت</u>؛ میں سمجھتا ہوں۔ خیر ہے۔

<u>جناب پیر محمد خان</u>؛ جناب سپیکر صاحب! زمونږ د صوبے په گوټ گوټ کښ معدنیات شته دے، Mineral شته، د هغے طرف ته محکمه خصوصی توجه نه ورکوی۔ معدنیات پراته دی په غرونو کښ او په زمکو کښ بند پراته دی، پټے خزانے دی چه دا ملک په هغے باندے آبادے دے شی او دا ملک پرے ترقی کولے شی۔ هغے طرف ته دوئ توجه نه ورکوی۔ ډیر ځایونو کښ داسے Mines دی چه هغه خلقو په Lease باندے اغستی دی، کار پرے نه کوی۔ با اثره خلق دے، په کال کښ چه د هغے څه قسطونه وی، هغه ورکوی او کارونه ئے پرے بند کړی دی۔ د بل سړی نه ئے هم بند کړی دی چه بل سړے د هغے په نیلام کښ څه حصه واخلی او کار پرے شروع کړی۔ مزدوران به پکښ په کار شی، د هغه زمکو مالکانو ته به پکښ څه رائلټی ملاؤ شی نو د هغوی د کاره ئے هم ایستلے دی او خپله پرے هم کارونه نه کوی خو بس په Lease باندے ئے اغستی دی او بند کړی دی۔ نو دا سلسله ډیره غلطه ده۔ دے طرف ته د دوئ توجه ورکړی چه چا په Lease باندے زمکے اغستی دی او کارونه پرے بند دی د یو کال نه یا زیات نه، نو هغے له

دوئ څه خاص ټائم دے مقرر کړی او د هغے ټائم نه چه پرے زیات وخت چا تیر کړے وی نو د هغوی هغه Lease د ختم کړی او نوے Auction د پرے اوکړی چه بل څوک ئے واخلی- بیا جناب سپیکر صاحب، زمونږه د زمرد غونډے قیمتی څیز ته اوګورئ چه هغه هم خساره کوی او په هغے باندے هم کار بند دے- مقامی طور په سوات کښې د زمردو کوم کانونه چه دی نو په هغے کښې بعضے خو بالکل بند پراته دی- په هغے کښې هغه مقامی خلق خان له که د شپے شپے څه اوکاږی نو بیله خبره ده، خو د حکومت د طرف نه ئے نیلامی نه کیږی- پکار خو دا ده چه په ټهیکه ئے کهلاؤ چا له ورکړے وے- وو چرته څه پیسے خو به د حکومت اکاونټ ته راتلے- یو کان ئے ورکړے وو نو پکار خو دا وه چه ایډوانس پیسے د ټهیکیدارنه ئے اغستے وے ځکه چه دا قیمتی څیز دے، نو په هغے کښې چه یو میاشت څوک کار اوکړی او اوتخښتی نو په یو کښې میاشت هغه دومره آمدن اغستے وی چه هغه هم د ټهیکیدار د پاره ډیر وی- نو دوئ د داسے مهربانی اوکړی چه کوم زمرد غونډے قیمتی کانړی وی، نو په هغے باندے د ټینډر اوکړی- که ټهیکیدار ئے واخلی نو حکومت ته به د ریونیو څه پیسه خو راشی او که دا کانونه دغسے بند پراته وی یا ترے مقامی خلق ځان له څه اوباسی، نو حکومت ته ئے څه فائده نشته او مخصوص غل به چرته کښې په غلا باندے کار کوی، د هغه جیب له به آمدن ځی- جناب سپیکر صاحب، زمونږ په دے صوبه کښې ماربل ډیر زیات دی او ډیر قیمتی قیمتی ماربل دی چه په بهر ملکونو کښې د هغے ډیر لوئے مانګ دے نو د هغے د پاره منډئ کتل او د هغے د پاره انتظامات کول، هغه زمونږ دا محکمه نه کوی- پکار دا دی چه دوئ رابطے

اوکړی۔ مونږ تیر کال چه تلی وو نو دا پته بوونږ ته اولګیده چه هلته په یورپ کښې دا ماربل چه دی، د دے ډیر ښه مانګ دے او که هلته کښې چرے مونږ هغوی سره په دے سلسله کښې خبرے اوکړو نو زما خیال دے چه په دے دوه ضیزونو کښې مونږ ډیره زیاته پیسه ګټلے شو، یو د څرمے په صنعت کښې او بل په ماربلو کښې۔ نو حکومت ته زه دا Request کوم چه دوئ د د دے خپلے محکمے نه دا کار واخلی چه دے ضیزونو د پاره بهر څه د مارکیټنګ انتظامات اوکړی او کوم چه دا زمرد دغسے بند پراته دی، هغے باندے د ټینډر اوکړی او کوم کانونه چه په Lease خلقو بند کړی دی، هغه دِ دے خلقو ته آزاد کړی۔ شکریه جی۔

Mr. Speaker: Mr. Ahmad Hasan Khan, MPA, please.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! ستاسو په مسئله باندے هم پوهیږم، انشاء الله تعالیٰ دوه درے کټ موشن داسے دی چه په هغے کښې زمونږ د علاقے د ترقئ څه خاص دغه دی نو په دے کښې خبره کول مناسب ګڼړو۔ انشاء الله تعالیٰ څنګه چه ستاسو خواهش دے په آخر کښې به مونږ دا کوشش کوؤ چه ستاسو دا بنیادی کوم خواهش وو، د هغے د احترام په بنیاد باندے زر زر ستاسو، بلکه زمونږه مسئله حل شی لکه څنګه تاسو اوفرمائیل۔ جناب سپیکر! ځنګل، د مهیانو افزائش، د سیاحت مد او Mineral development، دا څلور داسے اهم بنیادی خبرے دی چه دا زما په خپل خیال د دے صوبے او Subsequently د دے ملک سره زر دی او د بد قسمتئ خبره دا ده چه دا څلور ضیزونه په کومو ډویژنو کښې دی لکه مثلاً هزاره ډویژن یا ملاکنډ ډویژن، د هغے د عوامو نن دا حال دے چه په ټول ملک کښې "وظیفه خور"

ختم دی او په ملاکنډ ډویژن کښې نن هم "وظیفه خور" شته لکه څنګه چه زما ورور اوونیل- تر دے حده پورے د هغوی غربت دے بلکه زه به دا وایم چه دا د نوابزاده صاحب د عدم توجهئ نتیجه ده- د دوئ د نوابئ او د شان خلاف یو عمل نن دوئ ته ښکاری- دا د دوئ هغه سابقه معاملات راروان دی- لږ ساعت مخکښې خو ده دا خبره کوله، په دے باندے سوچ نه دے کړے تاسو، کله نه کله زه د فرید خان سره په جهګړه شم خو دے نه پس به د ده خلاف زه د ده سره ټینګ ولاړ یمه انشاء الله تعالیٰ څکه جناب سپیکر، چه دا خبرے دی چه نن دوئ زمونږ سره دا توقعے کوی- نن زه دا وایم، زه دا خبرے ختموم، صرف په دے څلورو مدونو کښې او بالخصوص په منرل ډیویلپمنټ کښې زه وایم چه منسټر صاحب نه صرف دا چه Educated دے، Energetic دے او Young دے او انشاء الله تعالیٰ په دے مد کښې د بهترئ د راوستو اراده لری او استطاعت لری، Efficient دے، زما هغه ته دا خواست دے، دا به د دے صوبے او د ملک د تقدیر د بدلولو ذرائع وی- زه ستاسو په وساطت سره د دے ایوان د ټولو مشرانو ته، او دا ټول د خان په شان عاجزانو ممبرانو ته دا خواست کوم چه زمونږ د دے حالاتو د بدلولو د دوئ کوشش اوکړی- جناب! زه د دے سره سره د خپل کټوتئ موشن واپس اخلم چه هغه د په دے باندے همدردانه غور اوکړی-

Mr. Speaker: Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA, please.

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب! Minerals ، معدنیات، جیسے پیر محمد خان نے کہا ہے اور ابھی میرے فاضل بھائی احمد حسن خان نے کہا ہے کہ خدا نے اس صوبے پر بہت فضل کیا ہے، میں صرف اپنے بھائی، یوسف ایوب صاحب سے یہ گزارش

کرنا چاہتا ہوں، تنقید نہیں کرتا ہوں، گزارش یہ کرتا ہوں کہ یہ محکمہ صحیح طریقے سے کام نہیں کر رہا ہے۔ یہ بالکل صحیح بات ہے۔ ابھی دو تین مہینے ہوئے ہیں، یہ اس محکمے کے سربراہ بنے ہیں، وزیر بنے ہیں تو یہ ایک ایسا ڈیپارٹمنٹ ہے، میں سمجھتا ہوں کہ اس ڈیپارٹمنٹ میں کوئی کام نہیں ہو رہا ہے اور میں یہ بھی سمجھتا ہوں کہ انشاء اللہ اس محکمے سے یہ بہت کام لے سکتے ہیں۔ ان میں یہ صلاحیت ہے کہ یہ ان لوگوں سے کام لے سکتے ہیں۔ سب سے پہلے یہ دیکھنا چاہئے کہ اس محکمے نے اس صوبے میں کیا کیا ہے؟ یہ نہیں ہے کہ جناب، جپسم کی Lease دے دی، نمک کی Lease دے دی، ہزارہ میں فاسفیٹ کی Lease دے دی، سوال یہ نہیں ہے۔ یہ دیکھنا ہے کہ کتنی Maping اس محکمے نے کی ہے، کتنے ایریاز کی انہوں نے نشاندہی کی ہے؟ اس کو Map کیا ہے، اس کی Three dimensional drilling ہوئی ہے اور انہوں نے یہ Declare کر دیا ہو کہ جناب، چترال میں یہ Minerals ہیں، ان میں اتنے Deposits ہیں، یہ ذخیرہ ہے اس کا، تاکہ پاکستان کے اندر اور پاکستان کے باہر سے لوگ آئیں اور اس میں Investment کریں؟ ایک تو Mineral Department یہ کام کر رہا ہے، دوسرا ایس ڈی اے یہ کام کر رہی ہے یعنی یہاں پر دو محکمے ہیں جو لگے ہوئے ہیں اور کام کر رہے ہیں مگر Practically on ground جناب سپیکر، ان کے پاس بے شمار Stratrgy ہونگی، اگر آپ Stratrgy ان کی منگوائیں تو اتنا بڑا پلندہ ہوگا لیکن اگر آپ ان کی پریکٹیکل دیکھیں تو کچھ بھی نہیں ہوا ہے، Result is zero. اور میں یہ سمجھتا ہوں جناب سپیکر، جیساکہ پیر محمد خان نے کہا ہے، آپ اٹلی جیسے ملک کو دیکھیں، میرے محترم بھائی اٹلی گئے بھی ہیں، مجھے پتہ ہے پوری دنیا یہ پھر چکے ہیں، اٹلی ساری دنیا کو ماربل ایکسپورٹ کرتا ہے۔ Reason کیا ہے؟ یہ صرف نہیں ہے کہ جی آپ Lease دے دیں، Lease دینا تو بہت آسان ہے۔ آپ نے ایک علاقے کو مارک کر دیا کہ جناب یہ ہم نے آپ کو

دے دیا اور آپ اس کو Mine کریں۔ Question یہ ہے کہ یہ دیکھنا ہے کہ اس میں سے کوالٹی ماربل آپ کیسے نکالیں گے، اس کی کٹائی کیسے ہوگی، اس کی پالشنگ کیسے ہوگی؟ یعنی People have to be tought and this is the job of the Mineral & Industry Department کیونکہ Mineral is the part of the Industry Department. میں یہ سمجھتا ہوں کہ اگر آنریبل منسٹر صاحب اس پر تھوڑی سی توجہ دیں، جو مجھے یقین ہے کہ وہ دیں گے، تو نہ صرف آپ کی آمدن بہت بڑھ سکتی ہے But at the same time جناب سپیکر، Mining ایک ایسی فیلڈ ہے پاکستان میں جس میں Local Entreprenuer جو ہے، وہ اس میں Investment کرنے کو تیار نہیں ہے Because it is a very very heavy investment. اس کیلئے بہت Heavy equipments چاہئے اور بغیر International investment کے آپ اس میں آگے نہیں بڑھ سکتے اور آگے آپ تب بڑھ سکیں گے کہ آپ کے پاس کوئی چیز، کوئی Document ایسی ہو جو آپ ایک فارن پارٹی کو دکھا سکیں کہ جناب ہمارے پاس اتنا بڑا ذخیرہ ہے۔ آج تک Mineral Department کے پاس کوئی Solid Documentation نہیں ہے۔ میں صرف ان سے یہ گزارش کرونگا کہ اس پر وہ ذرا غور کرلیں۔

Mr. Speaker: The Honourable Minister, please.

جناب یوسف ایوب خان (وزیرصنعت): شکریہ، جناب سپیکر صاحب۔ میں شکریہ ادا کرتا ہوں اپنے تینوں بھائیوں کا، بڑی اچھی Suggestions انہوں نے دی ہیں۔ اس چیز کو ہم تسلیم کرتے ہیں کہ اگر صوبہ سرحد کے حوالے سے دیکھا جائے تو میں سمجھتا ہوں کہ جو ہمارا Mineral sector ہے، I agree with Mohsin Ali Khan Sahib اور احمد حسن خان، کہ واقعی ہائیڈرل پاؤر جنریشن کے بعد یہ دوسرا واحد ڈیپارٹمنٹ ہے جس کو ہم

اگر اچھی طرح Develop کر لیں تو یہ ایک بہت بڑا Source of income ہمارے صوبے کیلئے بن سکتا ہے اور انشاء اللہ ہماری کوشش بھی اس سلسلے میں جاری ہے اور اس سلسلے میں ہمارے کافی میٹنگ بھی ہوچکے ہیں اور ہم جو نئی Policies لا رہے ہیں، وہ اسی چیز کو مد نظر رکھتے ہوئے نئی پالیسی Within a month ہم اناؤنس کریں گے۔ پیر محمد خان نے بڑی اچھی Suggestions دی ہیں۔ میں ان کا تھوڑا سا جواب دینے کی کوشش کرتا ہوں۔ انہوں نے کہا ہے کہ ڈیمانڈ میں محکمے کو زیادہ پیسے دینے گئے ہیں، اگر آپ Financially Mineral Department کو دیکھیں تو انکا ٹارگٹ 97-1996 میں 48 ملین تھا۔ میں سمجھتا ہوں کہ یہ واحد ڈیپارٹمنٹ ہے، ڈائریکٹریٹ ہے جس نے 48 ملین سے اپنے ٹارگٹ کو بھی Achieve کیا، پلس 13 ملین Excess پیسے، وہ Generate کئے ہیں۔ اپنے ٹارگٹ سے کافی اوپر گئے ہیں تو ان کی کارکردگی اس مد میں کافی اچھی رہی ہے اور ظاہر ہے یہ Exchequer کو ہی پیسہ آ رہا ہے۔ میرا خیال ہے کہ اس ڈیپارٹمنٹ یا ڈائریکٹوریٹ کی جو کارکردگی ہے، اس کو Appreciate کرنا چاہئے۔ پیر محمد خان نے بڑی اچھی بات کی ہے، I am glad as he cited on the Floor of the House اور یہ واقعی ایک بہت بڑا مسئلہ ہے۔ بڑی عجیب و غریب قسم کی پالیسی ہمارے منرل ڈیپارٹمنٹ کی رہی ہے کہ جس نے پہلے Apply کر دیا، اس کو وہ Lease مل گئی، یہ نہیں دیکھا جاتا کہ جو Lease لے رہا ہے، وہ اس کے قابل بھی ہے یا نہیں؟ جیساکہ محسن خان نے کہا ہے کہ بڑے پیسے چاہئیں Explosion کیلئے، Leasing کیلئے، Mining کرنے کیلئے لیکن جس نے پہلے Application دے دی، اس کو وہ Lease مل جاتی ہے۔ تو ہوتا Normally ایسا ہے کہ دفتر کے جو اپنے چپڑاسی، کلرک اور افسر ہوتے ہیں، انہی کو ظاہر ہے کہ پہلے پتہ ہوتا ہے تو پہلی Application انہی کی آ جاتی ہے۔

Mr. Speaker: First come, first serve.

وزیرصنعت : جی ' First come, first serve. تو اس کی وجہ سے ایک ایک آدمی نے پچاس، پچاس Leases بھی لی ہوئی ہیں اور کام ان پر کوئی نہیں ہو رہا ہے۔ میں چاہتا ہوں کہ یہ ریکارڈ سامنے آ جائے اور یہ بڑی اچھی بات کی ہے۔ میں محکمے کی طرف سے ایک انکوائری کرانا چاہتا ہوں تاکہ پوری ایک لسٹ پورے ہاؤس کو ملے اور ان کو پتہ چلے کہ یہ Leases کس نے کب لی ہیں اور کتنی کتنی Leases لی ہیں اور کتنی Leases پر کام کر رہے ہیں؟ اگر پچاس Leases کسی کے پاس ہیں اور وہ پچاس Leases پر کام کر رہا ہے' وہ تو صوبے کو فائدہ ہے۔ سپیکر صاحب! ایک Economic activity ایک Remote area میں Generate ہوتی ہے' ایک ایک Lease پرکم از کم بیس بیس' تیس تیس آدمی کام کرتے ہیں۔ ہم تو کہتے ہیں کہ ایک آدمی سو Lease سے لیں لیکن کام وہ سب پر کرے۔ نئی پالیسی جو ہم بنا رہے ہیں' اس میں اسی چیز کو Emphasize کر رہے ہیں کہ جس Lease پر Lease Holder کام کر رہا ہے' وہ Lease اس کے پاس رہے گی۔ جس پر کام نہیں کر رہا' That will be cancelled and given to a person who wants work over there. (تالیاں) اور یہ میں لسٹیں یہاں Provide کروں گا۔ Emerald mines کی انہوں نے بات کی ہے' سابقہ حکومت نے مینگورہ کی جو Emerald mines ہیں' اس کو Open auction کیا جو کہ غالباً 8 million rupees per year auction ہوئی ہے اور ایڈوانس پیسے کی آپ بات کر رہے ہیں' اس پارٹی کا ایک کروڑ' اسی لاکھ روپیہ ایڈوانس حکومت کے پاس پڑا ہوا ہے' لہذا کسی قسم کا کوئی خطرہ نہیں ہے کہ وہ Default کرے گی کیونکہ اس کو Quarterly payment کرنی پڑتی ہے۔ ہر Quarter پر ان کو تقریباً بیس لاکھ' پچیس ہزار روپے Payment کرنی پڑتی ہے لیکن پھر بھی ہمارے پاس ان کا 18 ملین روپیہ

Topaz mines اور Emerald جہاں تک باقی ہے ۔ پڑا ہوا In advance
مردان میں ہیں، مینگورہ میں ہیں، تو یہ فیصلہ ہوگیا ہے، ایک سپیشل کمیٹی بنائی تھی چیف
منسٹر صاحب نے اور اس کمیٹی میں یہ فیصلہ ہوا ہے کہ ان کو Open, transparent
طریقے سے Auction کیا جائے گا اور نہ صرف پاکستان میں بلکہ ہم سوچ رہے ہیں کہ یہ
کمپیوٹرز انٹرنیٹ کے ذریعے ایڈورٹائز کریں گے۔ EMail کے ذریعے، اخباروں کے ذریعے
Internationally advertise کریں گے تاکہ Foreign Investors کو بھی
Incourage کریں۔ نہ صرف یہ جو موجودہ Mines ہیں، ان میں وہ Emerald mining
ہی نہ کریں بلکہ اور علاقوں میں Exploration بھی کرسکیں جو بہت Costly کام ہے
اور ہمارے ہاں یہاں کسی Investor کے بس کا کام نہیں ہے۔ Marbals granite
کی بڑی اچھی بات کی ہے۔ جو نئی پالیسی ہم لانا چاہ رہے ہیں سپیکر صاحب، ہماری یہ
خواہش ہے کہ یہ ایک صحیح اور جامع پالیسی ہو۔ Normally ایسا ہوتا ہے کہ Mines صوبہ
سرحد میں ہوتی ہیں، سارا ماربلز، 90% of the marbals and the granite in
Pakistan is in the Frontier, لیکن Unfortunately جتنی انڈسٹریز ہیں، آپ
پشاور دیکھیں، نوشہرہ دیکھیں All over the Province ساری ہماری فیکٹریاں بند پڑی
ہیں۔ اسلام آباد میں، میرا خیال ہے سینکڑوں کے حساب سے ماربل فیکٹریاں لگی ہیں، سارا
ماربل یہاں سے جاتا ہے اور وہاں Process کرتے ہیں۔ ہم پالیسی میں یہ چیز بھی لا
رہے ہیں کہ اچھی سے اچھی Lease ہو، اگر کوئی شخص یہ Commitment دے کہ اسی
Raw material کے Base پر انڈسٹری اسی علاقے میں ہوگی، جیسے دیر ہو گیا یا بونیر
ہوگیا، اسی علاقے میں اگر وہ انڈسٹری لگائے گا تو اس کو ہم First preference دیں
گے اور وہ Lease اس کو دی جائے گی۔ (تالیاں) تاکہ Remote areas میں
کوئی Ecnomic activity genarate ہو، ایمپلائمنٹ کا لوگوں کو کوئی ذریعہ مل سکے اور

یہ بڑی اچھی Suggestions تھیں - Maping کی بات کی ہے محسن علی خان صاحب
نے، پچھلے کئی سالوں سے سرحد ڈیویلپمنٹ اتھارٹی اور منرل ڈیویلپمنٹ کا جو ہمارا
ڈائریکٹوریٹ ہے، سینکڑوں کے حساب سے جیالوجسٹ، کوئی کونسے پہاڑ پر مانگ رہا ہے،
کافی Successed رہے ہیں لیکن آج کل Latest technology ایسی موجود ہے کہ جو
کام ہم دس سال میں نہیں کر سکتے، میرا خیال ہے وہ ایک مہینے میں ہو سکتا ہے۔ لہذا ہم
نے سیٹلائٹ کے ذریعے صوبہ سرحد کے تمام منرلز ایک سپیشل سیٹلائٹ کے ذریعے
Identify کر رہے ہیں کہ کہاں کہاں منرلز ہے تاکہ پورے صوبے کا چارٹ ہمارے
سامنے پڑا ہو اورکوئی بھی آدمی، کوئی بھی Investor چاہے لوکل ہے یا کوئی باہر سے
آتا ہے، اس کے سامنے رکھیں - جس چیز میں وہ Interested ہے، وہ حکومت سے آکر
بات کر سکے۔ جہاں تک ہمارے اپنے ڈیٹا کا تعلق ہے، جس کیلئے ہم نے انفارمیشن پچھلے
پچیس تیس، پچاس سال میں Gather کی ہے، اسی Base پر ابھی Recently ہم نے
ایک ہنگیرین فرم کے ساتھ ایک MOU sign کیا ہے۔ وہ فرم جو ہے That is
based in Hungary but the Directors are from America, from
Australia, from other Europeon countries. Gold exploraton کیلئے ہم
نے ان کو Thirty thousand square kilo metres دیا ہے، احمد حسن خان، یہ ذرا
آپ کیلئے ہے، Thirty thousand square kilo meters exploration کیلئے ہم
نے ایریا ان کو دے دیا ہے۔ یہ تقریباً Upper ہزارہ اور تمام ملاکنڈ کا ایریا جن ایریاز
میں انہوں نے خود Interest show کیا ہے، جس میں وہ Gold base mattled like
platanium, silver copper things like tha مختلف قسم کے Exploration
کریں گے اور اس معاہدے کے تحت تقریباً 10 million dollors یعنی اکتالیس کروڑ
روپے سے زیادہ تک وہ Exploration پر خرچ کریں گے اور اس میں جیساکہ ہمارا ڈیٹا

ہے اور جو ہمارے Experienced staff ہے، وہ ان کے ساتھ کام کریں گے اور اس کے بدلے میں ہم نے اس پراجیکٹ میں Equity % 27 میں Shares بھی لئے ہیں Free of cost، ہم نے نہ کوئی ایک روپیہ Invest کرنا ہے اور نہ ہی کچھ اور کرنا ہے۔ ہمارے پاس اپنا جتنا میٹریل تھا، جن جگہوں کو ہمارے اپنے جیالوجسٹس نے Identify کیا ہوا تھا، وہ ادھر ان کو دیا ہے اور Shares % 27 بھی لیا ہے۔ خود میری ان کے ساتھ Meetings ہوئی تھیں۔ بہت بڑی فرم ہے۔ The Bares Diamonds کا نام آپ نے سنا ہوگا، It is one of the biggest firms in the world یہ جو کمپنی ہے، اس کی Sister company ہے اور وہ خود بڑے Confident ہیں کیونکہ اپنے طریقے سے انہوں نے Information gather کی ہوئی ہے اور مجھے امید ہے Exploration کے تقریباً چھ مہینے، سال کے بعد وہ ضرور یہاں کوئی بہت بڑے پراجیکٹ پہ انشاء اللہ آئیں گے۔ وہ یہ چاہتے ہیں کہ ان کو اس قسم کی کوئی Mine ملے جس کا کم از کم Future اگلے پچیس، تیس، چالیس سال ہو کیونکہ کروڑوں روپے کی Investment کرنی پڑتی ہے۔ تو اس سلسلے میں ہم لگے ہوئے ہیں اور انشاء اللہ مجھے امید ہے کہ جو نئی پالیسز بھی آئیں گی، ان کی وجہ سے کافی Economic activity بھی Rural areas میں Especially generate ہوگی اور Plus Government کے ریونیوز بھی بڑھیں گے۔ تھینک یو۔

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب! ایک Request منسٹر صاحب سے یہ کرنا چاہتا ہوں کہ جتنی یہ Mines ہیں جناب سپیکر صاحب، آپ اگر کسی بھی Financial institution کے پاس جائیں تو وہ چونکہ قانون ایسا بنا ہوا ہے The Mineral Act is in such a way کہ Mines belong to the Government اور جو Leasing terms and conditions ہیں، کیونکہ اگر آپ ایک کارخانہ بناتے ہیں، آپ زمین خرید

لیں گے، بلڈنگ بنا دیں گے، مشینری خریدیں گے That you give as equity

to the bank. In the case of minerals, you have no equity which

That is وہ سارا جو ایریا ہے you can give to the bank because the actual

He will have to examine this as well and تو owned by Government.

اگر آپ بینک کو کوئی see that how can he come out of the law because

سیکوریٹی نہیں دے سکتے، They will not advance you anything on it.

Minister for Industries: This is good suggestion. We will look into it. Thank you.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! ایک بات میں عرض کرنا چاہتا ہوں۔ یہ منسٹر صاحب نے بہت اچھی بات کی کہ ہم پراجیکٹ اس کیلئے بنا رہے ہیں لیکن یہ پراجیکٹ ان کے محکمے کے ماتحت ہوگا یا یہ بھی پی اینڈ ڈی کے ہاتھ میں ہوگا؟ اگر پی اینڈ ڈی کے ہاتھ میں چلا گیا تو پھر تباہ ہو جائے گا سب کچھ۔

وزیرصنعت و حرفت: نہیں، یہ جتنے پراجیکٹس کی میں بات کر رہا ہوں، یہ زیادہ تر پراجیکٹ سرحد ڈیویلپمنٹ اتھارٹی کرے گی جیسے Maping اور اس قسم کی چیزیں جو ہیں، باقی یہ جو Gold exploration کا ہنگرین فرم کے ساتھ ہم نے MOU Sign کیا ہے، That is between that firm and the Sarhad Development Authority تو پی اینڈ ڈی سے فی الحال ہم بچے ہوئے ہیں۔ تو میں Request کروں گا کہ جی اپنا کٹ موشن Withdraw کریں۔

جناب سپیکر: زما خیال دے، Withdraw مو کړو۔

آوازیں: جی۔

Mr. Speaker: The cut motions are lost being withdrawn. The

question is:

"that a sum not exceeding rupees ten Million, two hundred and Thirty one thousand only, be granted to the Provincial Government to defray charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Mineral Development".

Those who are in favour of it, may say 'Yes' and those against it, may say 'No'.

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. The Demand is granted.

جناب احمد حسن خان: یہ Treasury benches کے ممبران کی جو آواز ہے، میرے خیال میں ہلکی ہوتی جا رہی ہے شاید Tea کے موڈ میں ہیں۔

آوازیں: چائے کا وقفہ ہونا چاہئے جی۔

جناب سپیکر: دا یوه محکمه بله اخلو، بیا به وقفه اوکړو۔

جناب پیر محمد خان: لویه محکمه ده جی، دا نه کیږی۔ پینځه منټه کښې به دا اونشی۔ دا ایجوکیشن ډیپارټمنټ دے، ډیره وسیع محکمه ده۔

جناب سپیکر: یو ډیمانډ خو به پکښې اوشی کنه۔ یو به پکښې اوشی جی۔

The Honourable Minister for Education, NWFP, to please move his Demand No. 16.

Mr. Muhammad Hashim Khan (Minister for Education): Thank you, Sir. I beg to move:

"that a sum not exceeding rupees eight thousand, four hundred, thirty six million, seven hundred and twenty seven thousand only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Education".

Mr. Speaker: The motion before the House is:

"that a sum not exceeding rupees eight thousand, four hundred, thirty six million, seven hundred and twenty seven thousand only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Education".

Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, to please move his cut motion on Demand No. 16.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! زه په ډیمانډ نمبر 16 باندے د دس هزار روپو د کټوتیٔ تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The Motion is that the total grant be reduced by rupess ten thousand only. Mr. Ahmed Hasan Khan, MPA, to please move his cut motion.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! زه مطالبه زر نمبر 16 کښ د پینځو سو روپو د کمیٔ تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by

rupees five hundred only. Mr. Anwar Ali Khan, MPA, to please move his cut motion on Demand No. 16.

میاں انور علی: جناب سپیکر صاحب! زه مطالبه زر نمبر 16 کښې د دوه سوؤ روپو د کټوتۍ تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees two hundred only. Mr. Najmuddin Khan, MPA, to move his cut motion on Demand No. 16.

جناب نجم الدین: جناب سپیکر! زه په مطالبه زر نمبر 16 باندے د دوه سوؤ روپو د کټوتۍ تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees two hundred only. Mr. Ghani-ur-Rehman Khan, MPA, please.

جناب غنی الرحمان: جناب سپیکر! زه په مطالبه زر نمبر 16 کښې د پچاس روپو د کټوتۍ تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees fifty only. Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA, please.

نوابزادہ محسن علی خان: جناب! میں مطالبہ زر نمبر 16 میں دس روپے کی کٹوتی کی تحریک پیش کرتا ہوں۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees ten only. Mr. Akram Khan Durrani, MPA, please.

جناب اکرم خان درانی: جناب سپیکر صاحب! زه په ډیمانډ نمبر 16 کښې د دوه

روپو د کټوتئ تحریک پیش کوم۔

Mr . Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees two only.

زما خیال دے چه دا خو یولس نیمے بجے شوے او موشن Move شو او لږ به ورته Refresh شو نو هغے نه پس به ئے بیا واخلو۔ The sitting is adjourned for Tea interval and we will re-assemble at quarter past twelve again. Thank you very much.

(ایون کی کارروائی چائے کیلئے ملتوی ہوگئی۔)

(وقفے کے بعد جناب سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔)

Mr . Speaker: Mr . Pir Muhammad Khan , MPA , please start discussion on Demand No. 16 on Education.

جناب پیر محمد خان: کټ موشن ما بیا پیش کړو۔

جناب سپیکر: او جی، کټ موشن خو تاسو پیش کړو خو له هغے باندے خبرے کول پاتے دی۔

جناب پیر محمد خان: مسنټر صاحب خو له په ایوان کښې نشته دے۔

جناب عفور خان جدون: سرے وړیسے تلے دے، راخی جی۔

جناب سپیکر: تاسو خپله خبره شروع کړئ۔

جناب پیر محمد خان: هاشم خان صاحب له نه دے راغلے، هغه تیارئ له تلے دے۔ زما خیال دے، تیاری کوی۔ ډیمانډ نمبر 16۔ جناب سپیکر صاحب، ایجوکیشن محکمه ډیره یوه اهم محکمه ده۔ کټ موشن زما شوے دے کنه۔

----

جناب سپیکر: شوے دے جی، Move شوے دے، ټول کټ موشنز دی۔ اوس چه زه کوم کوم ممبر صاحب Call کومه، هغه د دے د پاره چه هغه په خپل کټ موشن باندے Discussion اوکړی۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! د دے محکمے د اهمیت نه خو انکار نه شی کیدلے چه ډیره اهمه محکمه ده او فنډز کښې هم د بجټ زیاته حصه ورته ملاویږی۔ نو پکار دا ده چه د دے کارکردگی هم ښه شی۔ خو د محکمے کارکردگی د ښه کیدو په ځائے واپس روانه ده خرابیږی۔ جناب سپیکر صاحب، کافی وخت نه په دیخوا بلکه د ډیرو کالونه راسے خرابیږی۔ زه وایمه چه کارکردگی خو 72-1971 نه په دیخوا خرابه رارروانه ده چه هغه Free promotion شروع شول پکښې۔ هغه وخت چه کوم شے سټارټ شوے دے نو د هغے تر اوسه روک تهام نه شی کیدے۔ د نقل رحجان پکښې ډیر زیات دے دلته کښې۔ زمونږ موجوده حکومت ډیر لوئے میندیټ اغستے دے۔ د میندیټ حکومت دے، د میرټ ډیره دعویٰ داری هم کوی خو که سوچ اوکړئ جناب سپیکر، د امتحان نه ئے واخله او د آخر وخته پورے میرټ نشته او نه کیدلے شی۔ مثلاً د محکمے وزیر صاحب دے، هاشم خان یو معزز سړے دے، منسټر هم دے، که منسټر نه وی نو هسے هم په چارسده کښې ډیر معزز شخصیت دے، که د دوئ بچے په یو هال کښې امتحان ورکوی او په دغه هال کښې د سکول د یو چپړاسی بچے هم امتحان ورکوی، نو د چپړاسی د بچی نه به د دوئ د بچی نمبرے اوچتے وی او د هغه به کمے وی۔ دا ځکه چه دے به کوم مراعات Examiner ته او سټاف ته ورکوی، ګاډے ورته ولاړ وی، روټئ ورله ورکوی، نور خدمت به ئے

کوي، نو دغه کارونو خو به هغه کلاس فورغریب نه شي کولے۔ نو چه کله هغه دغه کارونه نه شي کولے نو چه رزلټ راځي نو ظاهره خبره ده چه د دوئ د بچي نمبرے به زياتے وي۔ دا خو مے هسے مثال پيش کړلو، لازمي نه ده چه هاشم خان وي۔ دے خو ما هسے For example اووئيلو، زه شوم، بل شو، هر څوک چه شو -------

جناب سپيکر: مثال هميشه زما ورکوئ، د ممبران صاحبانو مه ورکوئ، خير دے زه به نه خفا کيږمه۔

جناب پير محمد خان: صحيح ده جي۔ مثلاً ستاسو د بچي په ميرټ کښ او د يو غريب سړي، عام سړي بچي په ميرټ کښ به خواه مخواه فرق وي ځکه چه کوم مراعات چه په نقل کښ، په هال کښ، بطورنقل د يو معزز سړي بچي ته ملاويږي، هغه د يو غريب بچي ته نه شي ملاويدے بلکه ډير واره پکښ داسے وي چه د معزز سړي د بچي بهر پيپرے کيږي او دننه هال ته ورله راځي نو ښکاره خبره ده، هغه پرچه چه بهر ورته استاذانو حل کړي وي نو د يو استاذ نمبرو کښ او د يو شاګرد په نمبرو کښ خو به فرق وي۔ که پرچه استاذ کړے ده، بله پرچه شاګرد پخپله کوي نو ميرټ باندے ښکاره خبره شوه چه استاد به راځي۔ نو دے طرف ته خصوصي توجه پکار ده۔ بل داسے يو طريقه ده جناب سپيکر صاحب، چه مخصوص طبقه ده په دے صوبه کښ، چه هغه کله د مډل امتحان وي نو د هغوي ډيوټي وي پکښ۔ بيا چه د مډل امتحان ختم شي او د نهم ، لسم امتحانونه راشي، په هغے کښ هم د دغه خلقو ډيوټيانے لږي۔ بيا چه د يولسم او دولسم امتحان راشي، هم د هغه خلقو ډيوټيانے لږي۔ داسے که د بي اے يا ايم اے امتحان راځي، څه

مخصوص غونډے داسے یوه لابی جوړه شوے ده چه دوئ خو یه ټول کال مصروفه وی په دغه ډیوټیانو کښ، دوئ به امتحانونه اخلی او په دے څیزونو کښ به دے مصروفه وی او دوئ ته پکښ مراعات ملاویږی او د دوئ خپل هغه شاګردان غریبانان محرومه د سبق نه پاتے شی- خکه چه استاد خو دے د پاره نه دے چه دے به متواتر په امتحانونو کښ ګرځی او شاګردانو ته به پړهانی نه کوی- حق خو دا دے چه بچو ته به هم پړهانی کوی، د بچو د پړهانی په ځانے هغه په امتحانونو کښ مصروفه وی- دغے د پاره خصوصی داسے انتظامات پکار دی چه د یو سړی د ټول کال ډیوټیانے نه وی- یو خل په یو امتحان کښ د ده ډیوټی راغله نو چه باقی ټول کال په دے باندے پابندی وی چه بل خل د ده بیا ډیوټی نه شی لګیدے- جناب سپیکر صاحب، دے محکمه کښ چه کله Purchases کیږی سکولونو د پاره فرنیچرے اخلی یا نور څه ، نو په هغے کښ ډیر لوئے کمیشنے اخستلے کیږی او د هغه کمیشنونو په بنیاد باندے دوئ هغه Purchases کوی بلکه د پاک جرمن کوم کارخانه چه ده، نو هغے له ایډوانس پیسے ورکړی په کروړونو روپئ، نه هغه فرنیچر شته- نه هغه پیسے واپس ملاویږی حکومت ته- هغه کیس مونږ ته کمیټئ ته راغلے وو- نو د داسے قسمه پیسو دوئ له اختیار ورکړے شی نو په هغے کښ کروړونه روپئ هغوی اخوا دیخوا کوی- مانسهره سکینډل مشهور کیس وو، عدیل صاحب او دے ټولو ته او تاسو ته هم پته ده چه په هغے کښ څومره کوششونه اوشو او محنت اوشو لیکن هغه څیز هغه Progress ولے نه اوځی؟ په هغے کښ یو غټ رکاوټ هغه عمله ده پخپله- خکه چه هم د دغے عملے خلق پکښ Involve دی او هغوی خپلو

خپلو پوستونو باندے ناست دی۔ چه ناست دی نو هغوی هره حربه استمالوی۔ اتهائیس کرور روپئ خرد برد شوے دی۔ په دے اتهائیس کرور کښ هغوی آته کرور روپئ خرچ کړی دی په مختلف محکمو باندے۔ په انتی کرپشن ئے خرچ کړی، په بل چا باندے ئے خرچ کړی، لاړ شی کیس اخوا دیخوا شی۔ نو د هغے تر اوسه پورے څه حل راونه وتو۔ دلته غریبانان په زرګونو استاذان Dismiss شول۔ نو که مونږه د هغه غریبانانو فریاد ورته اوکړو نو منلے کیږی نه۔ څوک Courts ته هم لاړل پکښ۔ دا په میرټ نه دی شوی۔ نو هغه د زرګونو خلقو د خولے نه نوړئ لرے شوه څو چه چا دا بهرتی کړے ده، هغه افسران اوس هم په خپلو ځایونو ناست دی۔ ما فرض کړئ چه سفارش د چا اوکړو، Irregularity مے اوکړه۔ زما په سفارش ئے یو سړے بهرتی کړو۔ اول خو حق دا وو چه دے افسر به نه بهرتی کوو۔ چه ده بهرتی کړو نو هغه غریب ته خو سزا ملاؤ شوه ځکه چه هغه خو Dismiss شو او د نوکرئ نه اووتو، خو کوم صاحب چه بهرتی کړے وو، دے ولے په دے کرسئ بیا هغه شانتے ناست دے؟ نو هغه خلق چه هغوی لرے نه کړل، اوسه پورے په هغه کرسو باندے ناست دی او اوس تا ته زه ثابته ووله شم جناب سپیکر صاحب، منسټر صاحب ته مے ښودلے هم دی چه داسے کسان چه هغه زمونږ په سفارش نه، بلکه هغه په Back door نه، لکه مثلاً یو محکمے افسر ما له پینځه کسان بهرتی کول په سفارش، نو بیا لس ئے پکښ ځان له په غلا هم بهرتی کړی دی په پیسو باندے۔ نو کوم چه په غلا بهرتی شوی دی، د هغه کسانو نه ئے دوباره نورے پیسے واغستے او د غوی کیسونه ئے پټ کړل یعنی د هغوی کیسونه ئے د انکوائری نه هم پټ

کړې دي او ما سره شته داسې کیسونه، زه ښودلے شم د ثبوت د پاره چه فلانی خانے کښې، فلانی خانے کښې- زما په پخپله حلقه کښې نے پټ کړې دي- هغه نے پکښې پټ اوساتل او ډیر غریبانان پکښې لاړل، ختم شول- داسے کسان په دے کښې تلے دي جناب سپیکر صاحب، چه 1968 کښې زما په کلي کښې یو استاد بهرتي شوے وو د سابق والئی سوات په وخت کښې او ایم-اے نے کړے دے، بی-ایډ نے کړے دے او سی-ټی پوسټ ورته نه دے ملاؤ، هغه پی-ټی-سی په 1968 کښې بهرتي وو- دویم په 1974 کښې بهرتي شوے وو- نو چه مونږ ورله زور اولګولو چه کم از کم ده له د دوئ حق خو ورکړئ- نو هغه صرف په دے وجه Dismiss شوے دے د سروس نه، چه د هغه د حق د غښتولو د پاره ما سفارش کړے وو- هغه په پیسو چه بهرتي شوے دي، اوس هم په یو سکول کښې دوه درے تنه هغه د غلا ناست دي او بل ترے Dismiss شو- د هغوی په زړه به څهٔ تیریږي؟ او بار بار راځي او اپیلونه نے هم دوئ ته کړي دي او پخپله زه هم ورسره لاړمه او منسټر صاحب ته مے درخواست ورکړو او دوئ پکښې انکوائری مقرر کړه- ونیل نے چه انکوائری به دے کښې کیږي- زما خیال دے چه دوه نیمے میاشتے اوشولے خو هغه انکوائری رپورټ له نه دے راغلے، نه دے شوے- پکار ده چه په داسے کیس کښې یو دستي Quickness ایکشن نے اغستلے چه د هغه سړي به هم تسلي کیده، سروس به نے بحال کیدے- نو داسے محکمه ده چه دا شے ټول څه پیچیده غوندے روان دے- جناب سپیکر صاحب! اوس پکښې مونږ ته دا رپورټ هم راغلے دے، هائیکورټ کښې چه کوم ډیرو خلقو کیسونه داخل کړے وو، مونږ خو هغوی د پاره په وخت هم اوونیل چه هغه

ان د بحال کړلے شی او اوس هم وایو چه دا غریبانان د بحال کړی لیکن
. وخت کښ چه کوم Untrained کسان وو، دوئ ونیل چه دا
Untr ترے نه لرے کوؤ، نو په هغه وخت کښ چه چا سره ډګرئ د
Tra نه وے، اوس ورسره ډګرئ هم پیدا شوی دی- دا اوس چه دوئ
ے انټرویو غوښتلے وے یعنی په هائیکورټ کښ مقدمے چه وے نو
Untrained وو، Untrained بهرتی شوے وو، اوس پکښ ډیرو خلقو
ئ پیدا کړی دی په بیس هزار، تیس هزار روپئ د جامشورو نه، علامه
ل اوپن یونیورسټی اسلام آباد نه او د نورو ځایونو نه ئے هم ډګرئ
ړی دی نو اوس په دے انټرویو کښ هم شریک شوی دی- مطلب دا دے
ه محکمے ورته دا لوبے، دا لارے اوښودلے- د محکمے په ملی بهګت دا
اتے کیږی- په سکولونو کښ د پړهائی خو دا حال دے جناب سپیکر
احب، چه ټوله ورځے ټرانسفرو د پاره د منسټر صاحب په دفتر کښ
ستاذان ناست وی- د ډی-ای-او پرائمری دفتر ته که ځئ نو هلته به هم دوئ
ست وی- که د سیکنډری دفتر ته ځئ نو هلته به هم دوئ ناست وی، که د
ئریکټر دفتر له لاړشئ نو هلته هم دوئ ناست وی، که دلته ډائریکټوریټ
ه راځئ دلته کښ به هم دوئ ناست وی- مطلب دا دے چه استاذان ټوله
رځ په دے دفترو کښ ناست وی- نو چه د دوئ په ځائے ډیوټی څوک
نوی؟ ورو ته سبقونه څوک وائی؟ او بیا د دوئ چهټیانے سالانه څو وی-
ښی دلته دوئ راځی، منسټر صاحب نه بدلیانے غواړی او هلته باقاعده ځی
بیا حاضریانے هم لګوی- نو څه داسے څه روک تهام نشته دے د دے څیز چه
هغه بچو ته پړهانی د پاره دوئ مقرر شوے دی چه هغه اوکړی- بیا -----

جناب سپیکر: لږ مختصر نے کړئ-

جناب پیر محمد خان: مختصر کومه سر- بیا دا استاذانو ته دا څه لږ کوټی ښودنه غوندے پکار ده، جناب سپیکر صاحب، لږ Training دا ورکول غواړی چه د سکول استاد وی نو د سکول د ماشوم یعنی د خپل شاګرد نه نسوار غواړی، د هغه نه سګریټ غواړی، نو چه د استاذ د شاګرد سره د نسوارو او د سګریټو آزادی شی، نو هغه استاذ به بیا دے ورو ته پړهائی څه اوکړی؟ هغه ورو کښ به د ده څه احترام اوشی؟ نو دا څه مختصر شانتے تجاویز ما ورکړل- امید لرم چه دے ته به دوئ خصوصی توجه ورکوی-

Mr. Speaker: Mr. Ahmed Hassan Khan, MPA, please.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! که تاسو اوګورئ دا ډیمانډ، آتهٔ ارب، تینتالیس کروړ یو ډیر زیات رقم دے- د صوبه سرحد غوندے کښ خوارے صوبے د پاره دومره رقم لوئے رقم دے- مونږ ته دا هم پته ده چه جناب منسټر صاحب په دے محکمه کښ څه د اصلاح کولو کوشش هم شروع کړے دے- جناب سپیکر، تر څو پورے چه میرټ د زندګئ په تمام شعبو کښ ښکاره شوے نه وی نو د هغے هغه مقاصد نه شی حاصلے دے، کوم مقاصد چه مونږه حاصلول غواړو- که میرټ مونږ د دے د پاره کوؤ جناب سپیکر، چه معیار تعلیم ښه شی نو په هغے کښ د تعلیمی قابلیت او د Training سره سره د افسرانو تعیناتی په غیر جانبدارانه بنیاد باندے، د هغوی د اهلیت په معیار باندے کول پکار دی- په دے کښ جناب سپیکر، قابل افسوس خبره دا ده، د محکمه تعلیم ټول ریکارډ تاسو اوګورئ، تاسو هم

وکالت کړے دے جناب سپیکر، ستاسو نه څه موده پس مونږ وکالت کړے دے، چه ستاسو قابلیت ته ګورو او بیا خپل نالائق توب ته ګورو او سوچ پرے اوکړو جناب سپیکر، نو بیا دا د معیار تعلیم هغه پریوتونکے چه کوم ته مونږ وایو " *گرتا ہوا معیار* " دا د هغے عکاسی کوی۔ زمونږه استاذان کوم چه مونږ Ex-state سره تعلق لرو، که هغه د سوات خلق وو، که د دیر خلق وو، هغه زمونږ استاذان چه هغه د څه خاص سکولونو او یونیورسټیز Qualified نه وو، ډګری هولډرز نه وو، فارن ګریجویټس نه وو، زمونږ په ذهن کښ چه نن مونږه څوارلسم پاس کړے دے، بیا مو په یونیورسټئ کښ دوه دوه کاله تیر کړی دی جناب سپیکر، مونږه خپل قابلیت ته اوګورو او د هغوی د مدرسے د جمات د کوټے هغه تعلیم ته اوګورو نو مونږ ته یکدم د سپینے ورځے په شان او د تورے شپے په شان فرق معلوم شی۔ دا محکمه ورځ په ورځ غټیږی، کال په کال غټیږی۔ ډویژنل سطح باندے ډائریکټران مقرر شو، ډسټرکټ سطح باندے ډی-ای-اوز ته هغه اختیارات ملاؤ شو کوم چه د نن نه شل کاله مخکښ جناب سپیکر، هغه سیکنډری ډائریکټر ته د صوبے په لیول باندے ملاؤ وو، هغه نن هغوی ته ملاؤ دی بلکه زه به دا اووایمه چه یو ایس-ډی-ای-او ته هغه اختیارات نن ورکړے شوے دی چه هغه اختیارات به څه موده مخکښ یو ډائریکټر ته د صوبے په بنیاد باندے ملاویدل۔ بیا دا د زنانه شعبے ډی-ای-او ده، ایس-ډی-ای-او فیمیل ده، بیا ایس-ډی-ای-او میل دے، ډی-ای-او میل دے۔ بیا پکښ دا Learning Coordinaters دی، بیا پکښ اے-ایس-ډی-ای-اوز دی۔ جناب سپیکر! د دے فوج د بهرتی کیدو باوجود، د دے اخراجاتو زیاتو کیدو باوجود زمونږه

قومی المیه نن دا ده چه زموږ معیار تعلیم لاندے ځی او جناب سپیکر! زما
ته پته ده چه هغه بله ورځ د امریکے په کونسل خانه کښې ناستو په هغه ځای
کښې نه وې او زما رونړه ناست وو، د هغوی د کونسل دا وینا وه چه
پاکستان کښې معیار تعلیم ښه کیږی ولے نه؟ او هغه دلیل چه ...
او زما دا وینا ده چه معیار تعلیم ښه کیدلو سره به د دے ملک معاشی حالات هم
ښه کیږی، دا د هغے د پاره بنیادی خبره ده او په هغے باندے ...
بحث اوشو۔ مونړه هغه مطمئن نه کړلو ځکه چه هغه نه مونړه بحثے ...
خو نه شوے کولے ځکه جناب سپیکر، لکه څنګه چه وینا ده "چه ځیلے
ګندا جامے د پردو خلقو مخکښې وینځل نه دی پکار"۔ دا ...
روان دے۔ میرټ د دے محکمے په تمامو شعبو کښې د یکسانیت په بنیاد ...
او د غیر جانبدارئ په شکل کښې راتلل پکار دے۔ بیا جناب سپیکر زه ...
ته دا ښودلے شم بعض خو داسے پرائیویټ ادارے دی لکه ...
ایچی سن سکولونه دی یا آرمی پبلک سکول دے یا پشاور پبلک سکول
یا یونیورسټی پبلک سکول دے یا فضل حق کالج دے، چه په هغے کښې ...
زرګونو روپئ هغوی ته ملاویږی او مونږ به دا وایو چه د هغوی ...
تعلیم ښه دے۔ داسے پرائیویټ ادارے شته چه د هغے منتظمین په ...
کښې استاذانو ته د حکومت د محکمے د استاذانو نه ورله ...
ورکوی خو هلته کښې معیار تعلیم ښه دے د حکومت د دے سکولونو ...
خبره زه په شرط سره کولے شم۔ زما په کلی کښې داسے ...
هیڅ چرته ورته نوکری نه ملاویږی او د سرکار په شرح ورته ...
ملاویږی نو په کمه شرح باندے په پرائیویټ سکول کښې به ...

هغے پرائیویټ سکول هغه تعلیم زما د هغه هائر سیکنډری سکول او هائی سکول د تعلیم نه ښه دے او نن زه تاسو ته وایم جناب سپیکر، چه ملاکنډ ډویژن کښې د ښځینه د یو عام پبلک سکول، د آکسفورډ پبلک سکول بچے چه کوم دے هغه فرسټ راځی۔ نو دا دلته کمزوری راغله، دلته خامی راغله، د انتظامیے خامی او کمزوری چه راغله نو د هغے ذمه داری به منسټر صاحب قبولوی چه د نن نه دا زما ذمه داری ده، دا به زه لرے کوم۔ د نن نه مخکښے د چا وه، ښکله وه، ولے وه؟ د نن نه Onward ---------

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی</u>: سپیکر صاحب! معافی غواړم تاسو نه۔ دوئ همیشه تاسو ته وائی چه "تاسو ته وایم"، نن وائی چه "تا ته وایم" نو دا لږ "تاسو" او "تا" کښې نن دوئ فرق اوکړو۔

<u>جناب احمد حسن خان</u>: جناب سپیکر! تاسو ته د خپل خان په باره کښې زما د احترام پیمانه معلومه ده، د چا د تصدیق ضرورت نشته۔

<u>جناب سپیکر</u>: خیر دے، خیر دے۔ بعض وخت خبره کښې داسے کیږی۔

<u>جناب احمد حسن خان</u>: ما هم په ګپ کښې کړے ده جناب سپیکر۔ نو زما دا عرض دے چه که مونږ دا وایو په ښه سکولونو کښې، په ډیرو تنخواګانو کښې او په ډیرو خرچونو باندے ښه تعلیم ورکړے کیږی، نو زمونږ دا هم عملی مشاهده ده، نن زما ټولو رورڼو ممبرانو ته پته ده چه هلته کښې په کم خرچ باندے او په کم ماهانه تنخواه باندے ښه تعلیم ورکړے کیږی۔ نو دلته فرق پکار دے۔ بیا جناب سپیکر، دا اساتذه کرام چه کومه یوه ډیره د احترام طبقه وه او نن د هغوی هغه احترام نشته دے جناب سپیکر، دا څکه چه نن هغوی خپله ډیوټی نه کوی۔ دو تهائی د کال وخت چه کوم دے، نو دا دوئ په

چهتیانو کښې تیر کړی۔ دا د ژمی چهتی ده، دا د اوری چهتی ده، دا د اپریل ده، دا د سپرلی چهتی ده، دا د امتحان چهتی ده، دا د قائداعظم د پیدائش چهتی ده، دا د علامه اقبال چهتی ده، یوه ورخ مخکښې، یوه ورخ وروستو، دا سلسله شروع وی۔ جناب سپیکر، نو ایک تهائی یا ایک چوتهائی به کار کیږی، نور نه کیږی۔ دا داسے یوه محکمه ده زما په خیال چه دلته بے روزګاری الاؤنس ملاویږی ماسترانو ته، دوئ ډیوټی نه کوی۔ بیا جناب سپیکر، بله لویه المیه دا ده چه زمونږ په علاقو کښې بالخصوص په صوبه سرحد کښې بلډنګونه جوړیږی۔ نن هم زه تاسو ته وایم چه یو نیم کال مخکښے هائی سکول په ډوګنی رباط دره کښې جوړ شوے دے، زه منسټر صاحب ته یو درخواست کومه، زه بطور منسټر په دے کښې نه یم کامیاب شوے، چه د فنانس ډیپارټمنټ د دے پوسټونو منظوری ورکړی۔ جناب سپیکر صاحب، دا هغه المیه ده یا دا هغه مسئله ده چه په دے باندے مشترکه ناسته پکار ده چه غور پرے اوکړو۔ یو نیم کال اوشو چه آفتاب خان د دے صوبے وزیر اعلیٰ وو، دا تیر کال نه او هغه بل کال په نومبر کښې هغه دوره کړے وه او د هغے سکول افتتاح هغه کړے ده۔ زه د محکمه تعلیم د افسرانو نه نه یم خبر، زه د فنانس محکمے د افسرانو نه نه یم خبر، بلکه یوه موقع داسے هم راغله چه دیر ته په دوره باندے آفتاب خان تلو، زه ورسره په هیلی کاپټر کښې ناست وومه، ما ورته وئیل چه دا لاندے کوم پرکیدونکی سپین سکول ته وینے چه د تیمانو چهت ئے دے، د دے یو کال اوشو جناب، او د دے له فنانس والا Sanction نه ورکوی، ایس-این-ای لاره، ایس-این-ای راغله۔ زما په خپل خیال که د هغے سکول نن تاسو په چا باندے انسپکشن

اوکړئ، نو زما دا یقین دے چه په هغه اتلسو لکهو جوړشوی سکول کښې د څلورو لکهو روپو د نور ریپیئر ضرورت دے څکه څوک پکښې گډے تړی، څوک پکښې بیزے تړی، څوک ئے بندوبست نه کوی۔ د دے د پاره یوه کمیټی پکار ده د فناس، د ایجوکیشن، د پی اینډ ډی۔ په دے ناسته پکار ده چه دوئ به کله دغه منظوری رالیږی؟ جناب سپیکر! زه چه کله ډپټی سپیکر ووم، زمونږه یو سکول د پیپلز پروگرام لاندے منظور شوے وو۔ بیا د قومی اسمبلئ نه د هغے مونږه اجازت اخستے دے۔ جناب سپیکر! اوس چه زه محکمے ته گورم، څوک پکښې وائی چه د دے ایس این ای نه ده راغلے، څوک وائی چه دا په Annual Development Plan کښې نه دے راغلے، په اے ډی پی کښې پیسے شته۔ د مقامی محکمه تعلیم د افسر په نوټس کښې شته، دا خو د هغه ذمه داری ده، زما حو نورے ډیرے ذمه واریٔ دی۔ زه خو په دے خبرو پسے منډے نه شم وهلے۔ بیا جناب سپیکر، یو خاص خبره ستاسو په خدمت کښې عرض کوم، هغه دا ده چه د جونیجو صاحب د پانچ نکاتی پروگرام، د جناب نواز شریف صاحب د تعمیر وطن پروگرام، بیا د پیپلز پارټئ د 1988 د پیپلز ورکس پروگرام، بیا د 1993 د پیپلز ورکس پروگرام او د دے مختلفو حکومتونو چه کوم د ایم این ایز او ایم پی ایز په ذریعه باندے سکولونه جوړ کړی دی، څه جوړشوے دی، څه نیمګړے دی، د خدائے د پاره د هغے خو څه بندوبست اوکړئ کنه۔ څه حساب کتاب خو ئے اوکړئ کنه۔ نیمګړی پراته دی۔ د بعضو چتونه نشته دے، د بعضو کهړکئ نشته او په هغے باندے 80 percent پیسے لگیدلی دی۔ زما په خپل خیال د دے اسمبلئ ممبران به ټول زما سره د دے خبرے تصدیق اوکړی چه د دے د

پاره یو کمیټي پکار ده. زه تاسو ته سوال کوم، د خدائے د پاره په دے بانذے د قوم ډیره عظیمه سرمایه خرچ شوے ده، تقریباً 80 percent کار په دے مکمل شوے دے او په روپئ کښ د دوه آنو یا د څلور آنو کار پاتے دے او په دے کښ هیڅ ګناه نه ده شوے که ما بطور پیپلی د پیپلز پارټئ په ګورنمنټ کښ یو سکول آخری حد ته بوتلے وو او نن د اے این پی د ممبر رور دا ذمه داری جوړیږی، د مسلم لیګ د حکومت دا ذمه داری جوړیږی چه هغه نیمګری کارونه مکمل کړی. که مسلم لیګ والا کړی وو چه هغه مونږ مکمل کړے وے او که تر ننه پورے نه دی شوی نو نن زما دا درخواست دے چه د خدائے د پاره د دے د پاره یو کمیټی جوړه کړئ چه په ټوله صوبه کښ د اوګرځی او د متعلقه افسرانو نه د معلومات اوکړی او مکمل رپورټ د په ایوان کښ پیش کړی. جناب سپیکر! دا محکمه تعلیم داسے یوه شعبه ده مونږ دا وایو چه حکومت له دا کوشش پکار دے او کوشش کوی او د دوئ سره د عوامو د اعتماد یو ووټ بینک دے، چه دوئ دا کار کولے شی نو کیدے شی چه مونږ په نورکټ موشنز بانذے دومره زیاتے خبرے اونکړو سواد میلیږ نه یا د بل داسے خاص دیپارټمنټ نه. خو دا ډیره ضروری ده چه دے کښ زه خصوصی درخواست کوم. په دے کښ زه سکلو په حواله سره بشیر خان ته چه هغه یو قسم له دلته کښ د چیف منسټر صاحب نمائندګی کوی As Law Minister دوئ د د هغه خولږ ته [illegible] کابینے ته د [illegible] چه نوولې 80 percent د ټیکیدارانو Liabilities پاتی دی. [illegible] پراجیکټ [illegible] بانذے یو سکول [illegible] لاکه پچیس هزار [illegible] مونږ هغه سکول یو پراجیکټ [illegible]

ایک لاکھ، پچهتر هزار ورکړے دے- نن هم په هغه پرائمری سکول اوچ کښ دا د هغے پراجیکټ لیډر چالیس هزار روپئ پاتی دی زما د ډپټی سپیکرئ د وختو یا د ایم این اے توب د وختونه- دا زما شک دے چه د کوم یو وخت نه پاتے دی- هره ورځ زما کورته ماښام ناست وی او وائی چه ما ګناه څه کړے ده؟ جناب سپیکر! که هغه کار نه وی کړے، که سکول جوړ شوے نه وی، که ماشومان پکښ سبق نه وائی، دا ویئلے کیږی چه دا د ایم پی اے پیسے وے، هغه بندے شوے دی، دا د ایم این اے پیسے وے- دا Successive Government چه ختمیږی، د هغوی دا منصوبے ختمول جناب سپیکر، دا هغے پارټئ ته نقصان نه رسی، دا قوم ته نقصان رسی- نن داسے سکولونه شته، زه درته ډیل سکولونه هم ښودلے شم جناب سپیکر، دا ټول Statistic مونږ هم راغونډولے شو، محکمه والا د هم راغونډ کړی او په دے باندے د غور اوکړی- مونږه به درسره تعاون اوکړو- د دے کال په دوران کښ دے له ایډیشنل فنډز ورکړئ او دا نامکمل منصوبے مکمل کول پکار دی- جناب سپیکر، دے نه علاوه ډیرے داسے زیاتے خبرے شته دے خو پیر محمد خان صاحب هم په دے باندے خبرے اوکړے او په دے باندے نور هم ډیر کټ موشنز دی- زه ستاسو په وساطت سره وزیر تعلیم له دا تسلی ورکومه او حکومت له چه دا یو شعبه د قوم د کامیابئ او کامرانئ شعبه ده، په دے کښ زمونږ د امداد او د تعاون چه څومره ضرورت کیدے شی، مونږه انشاء الله تعالیٰ هغه تعاون ورکولو ته تیار یو خو زما دا یقین دے چه دا حکومت به کم از کم دے له د ټولو نه په ترجیحی بنیاد باندے، په خصوصیت سره توجه ورکړی- Thank you, Mr. Speaker.

Mr. Speaker: Mr. Anwar Ali Khan, MPA, please.

میاں انور علی: بسم اللہ الرحمٰن الرحیم۔ جناب سپیکر صاحب! ډیره شکریه۔ پیر محمد خان صاحب او احمد حسن خان چه کومے خبرے اوکړے نو دغه خیالات زما هم دی لیکن زه یو مثال ورکومه د خپل ډپی ایف۔ 69 د یو سکول چه هغه څوارلس کاله مخکښ مډل سکول منظور شوے دے، اته کمرے دی خو چهت پرے نشته دے۔ اوس هغه ماشومان چه هغوی په دے طمع کښ وو چه په دے سکول کښ به مونږ سبق وایو نو د هغوی هم بچی اوشو هغه په هغه کهنډراتو کښ لوبے کوی۔ نو زه ستاسو په وساطت سره دا وایم چه دغسے پچاس سکولونه نور زما په حلقه کښ د کهنډراتو په شکل کښ پراته دی، ستاسو په وساطت سره زه جناب وزیر تعلیم صاحب ته دا درخواست کومه چه دا کهنډرات دوئ مکمل کړی او د هغه ماشومانو دا ارمان پوره شی چه زمونږ پلاران په دے ارمان کښ وو چه دا سکول به جوړ شی، اوس زمونږه دا ارمان دے۔ که چرته د دغه بچو دا ارمان پوره شی او په دغه سکولونو کښ د هغوی بچی سبق اووائی۔ جناب، دغه یو سکول په شنګو کښ دے، دا مډل سکول دے۔ په اتو کمرو باندے مشتمل دے۔ د هغے چهت نشته او نه په هغے کښ د سبق څه بندوبست شته دے۔ د دے نه علاوه زه جی ستاسو په وساطت سره جناب وزیر صاحب ته د خپلے حلقے په باره کښ دا خبره هم کول غواړم چه هلته کښ ډګری کالج نشته۔ هائر سیکنډری سکول دے خو کلاسز پکښ نه دی لګیدلے۔ په هغے کښ د سائینس د کلاسز څه بندوبست نشته دے۔ زه جناب وزیر صاحب ته ستاسو په وساطت دا خبره کوم چه مدین هائر سیکنډری سکول کښ د د سائنس د کلاسز بندوبست

اوکړے شی۔ هلته کښ پراجیکټ هم څه لږ ډیر کارونه کړی دی۔ جناب سپیکر صاحب، زه ستاسو په وساطت سره جناب وزیر تعلیم صاحب ته دا خواست کوم چه زما په حلقه کښ دِ د جینکو د تعلیم د پاره یو هائی سکول دے چه هغه په بحرین کښ دے۔ په مینگوره پسے دویم نمبر زما حلقه ده مدین، چه هغه د زنانه په تعلیم کښ دویم نمبر ده لیکن هلته کښ یو مډل سکول دے، هائی سکول نشته دے، جینکئ نے پنخویشت میله لرے ځی او هلته کښ سبق وائی۔ د پښتنو علاقه ده چونکه دلته د دے د پاره مونږه تاسو ته دا یو Request کوو چه دلته د د هائی سکول منظوری اوشی۔ د دے نه علاوه په دے تعلیمی پالیسئ باندے پیر محمد خان صاحب او احمد حسن خان پوره بحث کړے دے۔ زه خپل کټ موشن نمبر 16 واپس اخلم۔

Mr. Speaker: Thank you very much. Mr. Najmuddin Khan, MPA, please.

جناب نجم الدین: جناب سپیکر صاحب! ډیره شکریه۔ زما نه مخکښ جی پیر محمد صاحب او احمد حسن خان چه کومه خبره اوکړه، زه د هغے سره اتفاق لرم او ورسره ورسره څه تجاویز زما هم شته۔ د ټولو نه مخکښ د تعلیم منسټر صاحب چه کوم پروګرام شروع کړے دے د میرټ، زما دا یقین دے انشاء الله تعالیٰ چه په دے طریقه وی نو کم از کم دا یو تسلی زمونږه شوے ده چه د خلقو به په دے ښه طریقه کار باندے تعلیم روان شی

(تالیاں)

نو دے سره جی زما څه تجاویز هم دی۔ نورے خبرے خو هغوی اوکړے د تعلیم په مسئله کښ، زه دا وایمه چه په پرائمری ایجوکیشن یا په سکولونو باندے چه کوم فیس لګیدلے دے، زمونږه په تیر حکومت کښ

هغه لګيدلے وو۔ په هغه ټائم کښې چه کوم نن د اقتدار په دے بنچونو ناست کسان دی، نو دوئ به ځانے په ځانے باندے ونيل او په دے اسمبلئ کښې پرے هم Discussion شوے دے چه يره، دا زياتے دے او هلته کښې چه کوم دے ډير غريبان خلق دی او هغه خلقو سره زياتے شوے دے،بلکه تر دے پورے چه د سکولونو هلکان او دغه کسان روډونو ته هم راوتی وو او دوئ ئے نمائندګی هم کړے ده۔ نو د دے اسمبلئ په وساطت سره زه د دوئ هغه وعده دوئ ته وريادومه چه کم از کم د دغه پرائمری ايجوکيشن، بلکه د ټولو سکولونو نه دِ هغه فيسونه واپس واخلی کوم چه دوئ لګولی دی۔ زما خيال دے، په دے کښې به زما سره دا ټول متفق وی۔ دوئ هم وائی چه او۔ دويم جی دا د مينډيټ حکومت دے، په دے کښې خو هډو له څه خبره نشته دے۔ چه د مينډيټ حکومت دا خبره او نه منی نو بل خو ئے هډو د سره تسليمولے نه شی جی۔ دويم جی کوم بلډنګونه چه جوړ شوے دی، هغه بلډنګونو په باره کښې احمد حسن خان خبره اوکړه چه تر اوسه پورے بلډنګونه ولاړ دی ليکن په هغے کښې تر اوسه پورے د استاذانو درک نه لګی، سټاف ورله نه راځی، شپږ شپږ او اته اته کاله اوشو، زما دغه هم درخواست دے چه وزير تعليم صاحب دی طرف ته خصوصی توجه ورکړی۔ دريم د سکولونو موجوده چه کوم اے ډی پی او بجټ پيش شوے دے، نو په دے کښې هائر سيکنډری سکولونه جوړ شوے دی، هائی سکولونه جوړ شوے دی، په هغے نوے پرسنټ او آتی پرسنټ کارونه مکمل شوی دی ليکن موجوده اے ډی پی چه مونږ ګورو نو Building خو تيار شوے دے، په هغے کښې Final touches کښې کارونه پاتے دی۔ او په اے ډی پی کښې د دے

هائر سیکنډری سکولونو او هغه بلډنګونو نه پیسے کټ شوی دی- په دے راروان کال کښ هغے له یو پیسه هم نه ده ایښودلے شوے- زما درخواست دا دے چه کم از کم تاسو دے ته سوچ اوکړئ چه یو سکول کښ نوے پرسنټ کار Complete شوے دے او په هغے کښ یو کال کار بند شی نو راتلونکی کال به بیا په هغے باندے دومره پیسے لګوی چه څومره لګیدلے دی- پرون جی مونږ راتلو په دے ټولو ایم پی ایز صاحبانو پسے ټهیکیداران ګرځیدل او ورته ئے وئیل چه مونږ ته ورک آرډر ملاؤ شوے دے، د دے سکولونو او د دے روډونو د Complete کولو د پاره کاغذات مونږ ته ملاؤ شوی دی چه دا تاسو Complete کړئ او که په ټائم مو Complete نه کړو نو جرمانه به درباندے لګی- سکولونه او کارونه مونږ Complet کړی دی لیکن د هغه ټهیکیدارونو چه کوم Liabilities دی، نن هغه جی دے ته ناست دی چه بهنی جون به راشی،اے ډی پی کښ به زمونږ سکیمونه راشی او په هغے کښ به مونږ ته پیسے ملاؤ شی او چه د مزدورانو یا د نورو خلقو کومے پیسے دی، هغه به ورکړو لیکن هغه نشته- زما خصوصاً دا درخواست دے د سی اینډ ډبلیو منسټر صاحب ته او ایجوکیشن منسټر صاحب ته چه کم از کم کوم سکولونه په Completion حالاتو کښ دی، دے ته دِ پیسے کیښودلے شی او دِ دے ټهیکیدارانو چه کوم Liabilities دی، دغه د هم ورکړے شی- دریم جی، خلق وائی چه 'Hard Areas' declare شوی دی، کالام شوے دے جی، نورخایونه شوی دی لیکن زمونږ دیر طرف ته جی توجه نه ده ورکړے شوے- زه درخواست کومه چه زما یو عرض دے جی چه نن زمونږ په علاقه کښ، ما مخکښ هم دا وئیلی دی چه مونږ نن هم په دے شلمه صدئ کښ

پیټی په شا کړے وی او شل شل کلومیټره، دیرش دیرش کلومیټره پیدل روان یو په غرونو کښ، د واورو علاقه ده، د غرونو علاقه ده لیکن کالام او نورے علاقے Hard areas declare شوی دی، زه دا هم درخواست کومه چه په دغه طریقه باندے دِ دیر، وارډ سب ډویژن یا جندول د هم Hard area declare شی ځکه چه هغه خلقو ته د هغوی چه کوم خپل حق دے، هغه هغوی ملاؤ شی۔زه خصوصاً جی د ضلع دیر بالا چه هغه ځان له District declare شوے دے، ځان له هغے ته د ضلعے نوم ورکړے شوے دے "ضلع دیر بالا"، میرټ زمونږه د ضلع په سطح هم کیږی او په میرټ کښ زه تاسو ته ښودلے شم۔ دا خبره زه ستاسو په ذهن کښ راولم چه مسنټر صاحب د یو انکوائری ټیم مقرر کړی،لاړ د شی جی او هغه د د کوهستان او د دیر په ایریا کښ د انسپکشن اوکړی او هغه سکولونه د اولټوی چه کوم سکولونو کښ د نورو ځایونو نه خلق راغلی دی، قسم په خدائے چه هغه استاذان صرف د تنخواه ورځے له ځی ځکه چه هغه ډیرے اوږدے علاقے دی۔ نو زما دا درخواست دے چه کم از کم زمونږ د ضلع دیر بالا میرټ د جدا کړی او د دغے علاقے چه کوم مسائل او مشکلات دی، د هغے د حل کولو کوشش اوکړی۔ کوهستان ته زما د ذهن مطابق د تیمرګرے سړے نه ځی۔ هغه هلته ډیوټی نه شی کولے۔ دا د ادینزیٔ سړے هلته ډیوټی نه شی کولے۔ نو زما دا درخواست دے چه هغوی له د هلته پوسټونه Create کړی او کم از کم د دغه خلقو د دغے پسماندګیٔ ته د اوکتلے شی۔ د Hard area چه ما کومه خبره اوکړه، دا زمونږ سره ظلم شوے دے جی۔ په صوابیٔ کښ دوه درے ځایونه Hard area ورکړے شوی دی او زمونږ دیر پاتے شوے دے۔ مانسهره کښ

شوی دی نو دیر هم جی تاسو لیدلے دے، ټولو لیدلے دے، مونږ ته د هم دغه رعایت منسټر صاحب د دے اسمبلئ په فلور باندے راکړی- دے سره سره زمونږ یقین پیدا شوے دے چه څه نه څه به په ایجوکیشن کښ Improvement کیږی- د دے سره زه خپل کټ موشن هم واپس اخلم او د منسټر صاحب نه د دے دوه درے خبرو دیقین دهانی د اسمبلئ په فلور باندے درخواست کوم- (تالیاں)

Mr. Speaker: Mr. Ghani-ur-Rehman Khan, MPA, please.

جناب غنی الرحمان: جناب سپیکر، شکریه- جناب سپیکر! ایجوکیشن یوه Heavy محکمه ده او ډیر اهمیت لری او د توجه قابله ده چه دے ته دِ توجه ورکړلے شی- موجوده حکومت چه کوم په میرټ باندے تبادلے او یا په میرټ باندے Appointment کوی نو دا ډیره ښه خبره ده- د حکومت فیصله ښه ده خو مخکښ کول د منسټر صاحب Follow کار دے او منسټر صاحب هم چه کوم هغه بله ورځ د میرټ متعلق د خپل خیالاتو اظهار کړے دے، زمونږ توقع ده چه انشاء الله هغه به هم په دے باندے پابند وی- جناب سپیکر، د ایجوکیشن پرابلم چه څومره ملګرو مخکښ بیان کړو، تقریباً د ټولو دا پرابلمز دی- اکثر خایونو کښ پرائمری سکولونه زمکے د سټامپ په ذریعے باندے محکمه تعلیم ته Allot شوے دی، هغوی ته سټاف نه ملاویږی- څو څو کالو نه هغه سکولونه پراته دی خو سټاف ورته اوسه پورے ملاؤ نه شو- بعضے خایونو کښ سکولونه جوړ دی، سی اینډ ډبلیو ته د Maintenance د پاره پیسه راشی او د بجلئ د پاره پیسه راشی خو هغه کار په سکولونو کښ او نه شی، چرته اخوا دیخوا اوشی- دے محکمے کښ ډیر

مشکلات دی۔ زما یقین دے او د دوئ نه دا طمعه لرم چه دا دِ دے میرټ د هغے نه جدا کړی۔ زما د ذهن مطابق د تیمرگرے سرے کوهستان ته نه خی۔ بعضے خایونو کښې سکولونه جوړ دی۔سی اینډ ډبلیو ته د Maintenance پیسه راشی او د بجلئ د پاره پیسه راشی خو هغه کار په سکولونو کښې اونشی، چرته اخوا دیخوا اوشی۔ بعضے سکولونه هم په دے وجه باندے د دے قابل نه وی چه ایجوکیشن ته Hand over شی، هغه سکولونه هم هغسے "جوں کے توں" پراته وی، سټاف ورته نه ملاویږی۔ د سټاف کمے خو هسے هم دا یوه داسے اهم خبره ده چه همیشه هر یو سکول کښې د سټاف کمے دے۔ کوم خائے کښې چه پوښتنه کوے نو یا هیډ ماسټر نه وی یا تے سائینس ماسټر نه وی یا بل داسے کوم موزوں پوسټ وی، هغے د پاره سټاف نه وی۔ خو دے نه علاوه چه کوم سکولونه جوړ هم دی، بالکل تیار دی، د ایجوکیشن محکمه په دے کښې دا غفلت کوی چه اکثر نے پی سی فورتیار نه وی، فنانس ډیپارټمنټ ته ئے په وخت نه رسوی، قسما قسم حیلے بهانے پکښې کوی۔ د دغے نه مونږه سیاسی Elected خلقو ته دا پرابلم وی چه چا زمکه ورکړی وی سکول له، هغه خلق مونږ پسے راخی چه سکول تیار دے او تاسو سټاف راکړئ۔ دا ډیر زیاتے دے۔ زمونږ پکښې بدنامی هم کیږی او ورسره ورسره خلق زمونږ نه خفه کیږی هم، چه یره سکول تیارشو، زمکه مو درله درکړے وه او اوسه پورے تاسو مونږ ته سټاف نه راکوئ۔ سټاف زمونږ په وس کښې نه وی او محکمه هغے باندے عمل نه کوی چه هغه فنانس ته راوستوی۔ او مطلب دا دے چه په هغے باندے عملدرآمد اوکړی۔ داسے خبرے شته، دا زه د منسټر صاحب په نوټس کښې

راوستل غوارم- بعضے خایونو کښې په نګران دورکښې د پرائمری سکول چه کومه کوټه وه، هغه د پرائمری ډی-ای-اوز او د Establishment چه کوم اسسټنټ ډی-ای-او دی، هغوی هغه کوټه خرڅه کړے ده، په قیمت نے خرڅه کړے ده او شاید دا نور ایم پی ایګان رونړه به هم د دے خبرے نه خبر وی- نو دا زما منسټر صاحب ته خواست دے چه مونږ په کوم خائے کښې پوهیدو چه دا کوټه خرڅه کړے شوے ده، پیسے پکښې اخستے شوی دی نو مونږ دا کوشش کړے دے چه دا سکولونه د جوړ نه شی او د دے خبرے د دوئ پخپله هم نوټس واخلی او انشاء اللّٰه مونږ به دفتر ته ورشو او دوئ ته به د هغے نشاندهی اوکړو- بل ګورنمنټ دا پالیسی Announce کړے وه چه کوم افسران دی، دا به پخپلو ضلعو کښې نه تعینات کیږی، نه به لګی، خو بعضو ضلعو کښې هغه لوکل خلق لګیدلی دی- زه خو دا وایم چه زمونږ کوهاټ کښې په نګران دورکښې یوه ډی-ای-او لګیدلے ده، ما خو پیژنده هم نه، پرون مے ورته یو ټیلیفون اوکړو چه هغوی کومه رویه وه؟ اوس مے د اورنګزیب خان نه پوښتنه اوکړه، ما ورته ونیل چه دا څوک ده، نو دوئ راته څه د هغے نشاندهی اوکړه- زه هم ډیر حیران شوم چه دا خو د دے پوسټ قابله نه وه او زما خیال دے چه دا به منسټر صاحب پخپله Explain کړی- داسے الفاظ زه نه شم استعمالولے چه هغه کوم قسم ښځه ده، چه کومه هلته کښې لګیدلے ده- پرائمری زنانه چه نګران دورکښې لګیدلے ده- د دے نه علاوه څنګه چه بی بی دا خبره اوکړه چه د دے پرائمری سکولونو هغه داسے بنیاد ایښودل او بلډنګونه جوړیدل، دا یو قسم له د حجرو جوړیدل دی- هغے سره زما مکمل اتفاق دے- د دے په خائے په علاقے کښې مډل

سکولونه، هانی سکولونه زنانه او مردانه د زیات شی او زما په خیال د نورو پرائمری سکولونو جوړیدلو په علاقے کښ مزید گنجائش نشته دے بلکه دا په مونږ باندے هم یو دباؤ دے۔ ولے چه خلق ئے بیا غواړی او ضرورت هم نه لری نور۔ یعنی مطلب دا دے چه څومره د دے ضرورت وو نو هغه ټولو ته ملاؤ شوی دی البته چه کوم د مکتب د سکولونو د ختمیدو خبره شوے ده، هغه به مونږ او ایجوکیشن ډیپارټمنټ گورو که کوم ځائے موزوں وی چه هلته کمرے جوړے شی، نو هغه به بهتره وی چه کوم مکتب سکولونه دی نو انشاء الله منسټر صاحب نه دا توقع ساتو چه مونږ به کوم نشاندهی ورته اوکړو نو هغے باندے به د انکوائری هم کوی او د هغے باره کښ خپله تسلی به هم کوی او ورسره ورسره منسټر صاحب ته مونږ دا خواست هم کوو چه دا سیاسی تبادلے چه کومے شروع دی، دا هم پکار ده چه نه کیږی۔ دے سره سره زه خپل کټوتی موشن واپس اخلم۔

Mr. Speaker: Thank you. Mr. Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA , please.

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب! تقریباً آٹھ ارب سے کچھ زیادہ ڈیمانڈ وزیر تعلیم صاحب نے پیش کی ہے۔ جناب سپیکر صاحب! میں اس سلسلے میں صرف یہ کہنا چاہتا ہوں کہ میں یہ سمجھتا ہوں کہ یا تو محکمہ تعلیم اور یا محکمہ فنانس، اب میں دونوں میں سے کسی ایک کی نشاندہی نہیں کر سکتا ہوں کہ کس پر الزام لگاؤں؟ لیکن میں یہ سمجھتا ہوں کہ وزیر کا ایسی ڈیمانڈ پیش کرنا بہت زیادتی ہے چونکہ جناب سپیکر صاحب، تین مہینے نہیں ہوئے کہ ابھی نئی حکومت بنی ہے، لوگوں کی توقعات بہت زیادہ ہیں جو بھی تھوڑا بہت ان بجٹ Documents کو سمجھتا ہو اور وہ ان Budget documents

کو دیکھے تو اس کو یہ سمجھ آ جائے گا کہ ڈیپارٹمنٹ نے، چاہے آپ اس کو محکمہ تعلیم کہیں، چاہے اس کو ڈیپارٹمنٹ آف فنانس کہیں، انہوں نے اس وزیر کے ساتھ کیا مذاق کیا ہے؟ وجہ یہ ہے جناب سپیکر صاحب، کہ آج تو بجٹ پاس ہو جائے گا لیکن کل Questions ہوں گے 'ایڈجرنمنٹ موشنز ہوں گے، پریویلج موشنز ہوں گے' Because this is a document presented in this August House. Now this is

ہیں ' the sancturity of the House. Whether Opposition benches Whether Government کی Benches ہیں، وہ اٹھ کر وزیر تعلیم صاحب سے کہیں گے کہ جناب، آپ نے بجٹ لیا ہے، آپ کو پیسے ملے ہیں، ہماری یہ پوسٹس کیوں نہیں Sanction ہو رہی ہیں؟ ہمارے یہ کیوں کام نہیں ہو رہے ہیں؟ یہ ڈیپارٹمنٹ کیوں سستی کر رہا ہے اور Factual position کیا ہوگی کہ There will be no money. میں چند چیزیں آپ کی توجہ میں لانا چاہتا ہوں اور میں سمجھتا ہوں کہ اس طرح ان کو نہیں کرنا چاہئے۔ جناب، Before I go to the padding, جو فرضی Figures دیئے گئے ہیں، سب سے پہلے میں صرف ایک دو سوال وزیر صاحب سے پوچھنا چاہتا ہوں۔ ایک تو یہ ہے کہ On page 15of the Demand جہاں پر انہوں نے Summary دی ہے ڈیمانڈ کی، لکھا ہے 'Professional/ Technical Universities, Colleges, Institutes' اس میں جناب، یہ تقریباً سارے جو ہیں، یہ Mainly 90 % is salaries. اس میں کوئی ڈیویلپمنٹ کا عنصر نہیں ہے۔ اس میں جو Figures دیئے گئے ہیں اور جناب، میں اسلئے حیران ہوا کہ ایک طرف تو وزیر اعلیٰ صاحب نے بھی کہا ہے کہ تین سو روپے ہم تنخواہ زیادہ کریں گے Upto grade 16 انہوں نے اس معزز ایوان کے فلور پر اعلان کیا ہے۔ پچھلے سال کا جو بجٹ ہے جناب، جو Budget Estimates ہیں اور جو Revised Estimates ہیں، وہ تقریباً برابر ہیں یعنی 265 million and 188

اس میں thousand, This is the 1996-97 Budget and revised estimates.

In 1997-98 how has this gone down to 202.314 کہ ہوں ہوا حیران یہ

ایک طرف تو آپ تین سو روپے بڑھا million. How can salaries go down?

Then how can the figure go down? I would like the رہے ہیں

Hon'able Minister if he kindly explain this. Now Sir, I come on to

the portions which I would like to bring on the record for the

During the course of the year, جناب سپیکر صاحب ' کہ کل یا simple reason

Let me draw the Minister's notice to page 19 - اس پر بہت بات چیت ہوگی

and Sir, this is just for his information, volume- III, Part A,the

Head is 59900-146 and what do they say Sir, unforseen charges on

disposal of whom, not Education, at the disposal of the Finance

Department. How do you place unforeseen charges at the

disposal of the Finance Deptt. in the Education Budget and the

amount is what, Sir? It is alarming. The revised estimate was 385.

713160 million and the estimates given for 1997-98 are 572 million,

یعنی اس میں 158 thousand Clear cut padding ہے اور اس میں یہ بھی نہیں

what has the the Finance got to do for unforseen بتایا گیا ہے کہ

expenditure in the Education Department? Sir, then I would to go

to page 24 where there is total commodities, 1996-97 the figure is

And in 1997-98, they have ' اٹھارہ لاکھ ' چون ہزار ' پانچ سو چالیس 1854540,

70 million یعنی taken up the amount to 70 lac, 990 thousand and 850,

When the amount is not ایسا ناجائز کرنا ' they have taken up. Sir,.

This is just an میں یہ سمجھتا ہوں کہ going to be available to the Minister

outright, outright manner and method to embarrass this Minister.

Deliberately done either by his Department or by whoever

printed this Budget, on page 28, Sir,it is exactly the same, again-

unforseen charges at the disposal Finance Department. In 1996-97,

Current جو 1997-98 اور پانچ لاکھ ' چالیس ہزار' چار سو چالیس the amount was

Budget ہے' چالیس لاکھ روپے ہے یعنی پانچ لاکھ' چالیس ہزار سے لے کر انہوں نے

چالیس لاکھ روپے Unforseen amount of the Finance Department. Now

I do not expect the Minister to give me an explanation because I

know he can not---------

جناب جان محمد خان: سپیکر صاحب! اجازت دے؟

جناب سپیکر: کہ جی دا د Tension لرے کولو د پارہ خہ توقہ کوئ نو بالکل اجازت دے او کہ خہ ٹیکنیکل خبرہ کوئ نو بیا روستو بہ نے اوکرئ۔

جناب جان محمد خان: نہ جی، زہ ٹھیک خبرہ کوم۔ دے چہ کوم لگیا دے -----

جناب سپیکر: د خپل وخت سرہ بہ نے اوکرئ، Please, please and you have got only one minute left.

نوابزادہ محسن علی خان: All right Sir. Sir, I go on page 30, there also the آخر میں سر، میں آنریبل منسٹر سے ایک Request کروں گا اور وہ یہ thing like this. کہ میں نے منسٹر صاحب پر کوئی تنقید نہیں کی ' I am criticizing the

Department who has made this Budget, who has prepared this

Budget without consulting him. میری وزیر صاحب سے ایک گزارش ہے کہ
اس صوبے میں ہر ایک ضلع میں جو ووکیشنل انسٹی ٹیوٹس ہیں یا اور کمرشل کالجز ہیں یا
اور قسم کے کالجز بنے ہوئے ہیں، وہ مہربانی کریں اور ان کالجوں کا جائزہ لیں۔ میں نے
ابھی اس کتاب کو دیکھا جو غفور خان صاحب نے میرے پاس سے ابھی غائب کر دی
ہے اور اس کتاب میں جناب سپیکر صاحب، اگر آپ دیکھیں اور شاید آپ کے حلقے میں
بھی ہو اور اور ضلعوں میں بھی ہو، میں صرف کرک کے بارے میں دیکھ رہا تھا، آپ کو
جب میں دیکھتا ہوں تو مجھے بڑا یاد آتا ہے (قہقہے) جناب سپیکر! ووکیشنل انسٹی
ٹیوٹ ہمارے کرک میں ایک چھوٹا سا ادارہ ہے۔ میں یہ سمجھنے کی کوشش کر رہا تھا کہ
جب ایک انسٹی ٹیوٹ آپ بناتے ہیں اور اس کو آپ ووکیشنل انسٹی ٹیوٹ کا نام دیتے
ہیں، تو Why should there be a difference in staffing? سٹاف میں فرق
کیوں ہو Between Swabi and Karak یا Between Banu and Kark یا

Between Kohat and Kark? Why should there be a difference in

staffing? اگر ایک ووکیشنل انسٹی ٹیوٹ گورنمنٹ نے بنایا ہے تو It should be
the same. ایک ہی ادارہ ہر ایک ضلع میں آپ نے بنایا ہے، Why the
difference? The last question. Similarly, میں وزیر صاحب سے کہوں گا کہ وہ
کمرشل کالجز کی بھی ذرا بعد میں تفصیل دیکھ لیں تو then اس میں کچھ جو differences
ہیں، جو Anomalies ہیں، ان کو صاف کرنے کی یہ کوشش کریں۔

<u>Mr. Speaker:</u> Thank you. Mr. Akram Khan Durani, MPA, please.

<u>جناب اکرم خان درانی:</u> جناب سپیکر صاحب! ما نه مخکښ ډیر ښه ښه
تجویزونه او مشورے منسٹر صاحب ته ورکړے شوے، زه زیات په

تفصیل کښې نه خم خو صرف د محکمه تعلیم متعلق به دا اووایم چه حقیقت دا دے چه دا یوه وسیع محکمه ده په دے صوبه کښې او هر یو کال دے محکمے ته د دے صوبے په اے ډی پی کښې یو غټ بجټ کیښودلے شی لکه دے کال هم د دے محکمے د پاره کافی پیسه ده خو صرف جی فرق دا دے چه دے محکمے له پیسے خو ایږدی خو د هغے استعمال چه دے، هغه طریقه لږ څه جدا غونډے ده۔ زه به صرف دومره اووایم چه کتل دا پکار دی چه په هر یو ډسټرکټ کښې د هغے آبادی څومره ده، د هغے د پاره د څومره کالجونو او سکولونو تعداد پکار دے؟ فرض کړه په یوه ضلع کښې یو کالج دے، هغه دے اوکتے شی چه په دے کښې څومره طلباء دی؟ بیا که Next د گورنمنټ څه پروګرام وی او دا غواړی چه په هغه ضلع کښې د یو بل کالج یا د یو هائر سیکنډری سکول منظوری ورکړی نو بیا هغه په دے انداز باندے نه دی کول پکار چه یا منسټر صاحب د هغے حلقے وی او یا په هغه حلقه کښې با رسوخه خلق وی او د هغے په وجه باندے په هغه حلقه او په هغه ضلع کښې غیر ضروری هغه فنډ خرچ کړے شی۔ زه به مثال درکړم جی لکه صرف بنوں چه ده، نو هغه یو ډیره زړه ضلع ده او په هغے کښې صرف یو ډګری کالج دے او نن په هغے ډګری کالج کښې تقریباً سارهے تین هزار طلباء دی او په هغه ضلع باندے بوجهـ چه دے، هغه د مختلف ایجنسو نه هم دے لکه زمونږ میرانشا ساںډ دے، نارتهـ ساؤتهـ دے، ورسره نوره داسے هغه ټرائبل علاقے دی چه د هغے خلق هم دے خانے ته راخی۔ درے خله جی په اے ډی پی کښې زمونږ دے سیکنډری کالج د پاره پیسے راغلے خو په افسوس سره زه وایم چه هغه پیسے خرچ نه کړے شوے۔ په څه طریقه باندے، په څه

ذریعه باندے، په څه هدایاتو باندے هغه پیسے بیا سنټر ته واپس شوے او په بل ځائے باندے هغه پیسے خرچ کړے شوے۔ په موجوده دے اے ډی پی کښې چه مونږ څه په طمع وو چه هغه زمونږ سیکنډری ډګری کالج چه په کاغذونو کښې خو شته دے خو په عملی شکل کښې نشته دے، نو په دے اے ډی پی کښې هغه کالج سره د بنیاد نه ویستلے شوے دے۔ نو دے ته کتل پکار دی۔ زمونږ منسټر صاحب ته دا ګزارش دے چه کوم داسے ضرورت منده علاقے دی، چه هغه Backward دی، چه هغے ته دوئ خصوصی مراعات ورکړی۔ بل جی لکه مخکښې یو طریقه کار وو د پی ټی سی د پاره، چه چا به Training اوکړو نو د هغوی به Session-wise merit وو نو هغه کوم چه قابل هلکان وو، هغوی به په Top کښې واغستلے شو او وروستو نالائقه هلک چه نمبرے به ئے هم کمے وے، هغه ته به په هغے سیشن کښې وروستو روزګار ملاؤ شو۔ اوس جی دا یوه نوے فیصله شوے ده چه دا به د ټولو سیشنو هلکان غونډ وی او په هغوی کښې به میرټ کوی۔ نو که داسے سلسله شروع شی بیا چه هغه کمزوری هلکان دی جی، چا چه په Training کښې کال کال، دوه دوه کاله ضائع کړی دی، هغوی ته به په ټول Life کښې موقع ورنه کړے شی۔ نو زمونږ دا ګزارش دے منسټر صاحب ته چه هغوی د په دے باندے بیا نظرثانی اوکړی۔ مونږه هم میرټ غواړو خو هغه Session-wise merit چه دوئ په هغه طریقه باندے کار شروع کړی۔ باقی جی لکه غنی الرحمان خان اووئیل چه دلته مونږ زور ورکړے دے پرائمری سکولونو ته او هغه صرف زیات په دے وجه باندے جوړیږی چه یا د یو سړی خوشحالول وی یا هغه ته ځائے جوړول وی نو که په دے کښې دومره

وبه بندے اوشی چه د پرائمری سکولونو په خائے باندے ترجیح
ړے شی مډل سکولونو ته، هائی سکولونو ته، هائر سیکنډری سکولونو
او هغے کښې هم زیات ترجیح چه ورکیدے شی نو هغه په Female side
ے پکار ده۔ په Male side باندے د یو خائے نه بل خائے ته خلق تلے شی نو
ونکه زمونږ خو ټولے علاقے داسے دی چه پرده دارئ دی نو په هغے کښې
زنانو د پاره لرے لرے تلو کښې ډیر مشکلات وی او باقی زمونږه چه
جوده د میرټ کومه خبره ده، حقیقت دا دے چه محکمه تعلیم ډیر زیات
راب شوے دے او زمونږ منسټر صاحب نه ډیر توقعات دی۔ دے یو ښه
ړے دے چه دے به په میرټ باندے سخته پابندی اوکړی او نورهم ورسره
ونږ ډیر توقعات دی۔ مونږه خپل گزارش ده ته په وړاندے کړو، باقی زه
خپل کټ موشن واپس اخلم۔

Mr. Speaker: Thank you. Hon'able Minister for Education, please.

جناب محمد ہاشم خان (وزیر تعلیم): زه د اکرم درانی صاحب او د نجم الدین خان
شکوریم چه خپل کټ موشنز ئے واپس واخستل۔ جناب سپیکر صاحب،
ه ښنگه تاسو ته پته ده، د بجټ 37 % تقریباً په ایجوکیشن ډیپارټمنټ لگی۔

جناب سپیکر: هاشم خان صاحب! کټ موشن تقریباً ټولو واپس اخستی دی،
تا هم نه دی پریښودلے خو هغه Suggestions ئے درکړی دی۔ د هغے په
ره کښې ورسره خبره اوکړئ۔

جناب پیر محمد خان: لا ټول نه دی واپس شوی جی، څه پکښې شته۔

وزیر تعلیم: دوئ ټول اخستی دی۔ د دوئ ټولو مشکور یم۔ خیر دے،

ایدوانس کښې نے مشکور یم۔ زه به دوئ ته صرف یوه خبره اوکړم چه په
1995-96 کښې حکومت 1500 Primary Schools جوړ کړل، 250
Shelterless Schools renovation اوشول او Reconstruction of
Schools چه کوم وو هغه 250 وو او په پوره صوبه کښې نے 750 Class
rooms جوړ کړل او Conversion of Masque Schools to regular
primary schools 400 وو۔ په دے کال کښې مونږ اینبودے دی 1600 New
Primary Schools او بیا 250 Shelterless Schools او 250 New
reconstruction of Primary Schools او 650 New Classrooms دی او
Masque Schools conversion to regular primary Schools
approximatly 400 دی۔ د 1999 to 2000 پورے ایجوکیشن ډیپارټمنټ به
تقریباً 8400 New Primary Schools جوړه وی او 1100 Shelterless
approximatly and reconstruction of Primary Schools 1100 and 3000
Classrooms وی او داسے 2250 Masque Schools conversion to
regular Primary Schools او د دے سره Major renovation لکه چه کوم
داسے سکولز دی چه هغه غورزیږی، هغه تقریباً 2500 دی۔ نو د دے ټولو د
جوړولو د پاره، د دے ټولو د تعمیر کولو د پاره بیا دے له Staff provide
کولو د پاره ضروری خبره دا ده چه د پیسو به ضرورت وی او دا فنډز
کوم چه دے گورنمنټ په دے خپل بجټ کښې اینبودے دے، فنډز دغه شان
حکومت Provide کړے هم دے۔ په دے کښې به ممبرانو صاحبانو ته صرف
یوه خبره اوکړم چه تیر شوی خل مخکښې حکومتونه چه کوم وو، په
هغوی باندے تنقید نه کوم، خو صرف دومره به اووایم چه چا میرټ نه وو

Follow کړے او ایجوکیشن ډیپارټمنټ هر یو حکومت خان له استعمال کړے وو او هغه خلقو خان له استعمال کړے وو۔ او دا ئے د بیروزګارو د پاره د روزګار یوه ذریعه کتلے وه۔ چه کله دا حکومت تیر شو، ختم کړے شو او نګران حکومت راغے نو هغوی چه Inquiries اوکړل او معلومات ئے اوکړل نو Irregular and illegally لکه چه هغه کوم وو نو هغه اته زره کسان وو، هغه اویستلے شو او دا خلق بیا هانیکورټ ته لاړل او هانی کورټ بیا آرډر اوکړو چه کوم کسان په میرټ باندے پوره دی، د هغوی سره خپل سرټیفکیټ شته، چا Training کړے دے، د هغوی نه انټرویو واخلئ او هغوی په انټرویوز کښ Include کړئ او بیا ئے دوباره Re-appoint کړئ او درے میاشتے ئے ورکړے چه دا درے میاشتو پورے به دا خلق کار کوی، دوئ له به تنخواګانے ورکړئ۔ حکومت اوس هم هغه کسانو له تنخواګانے ورکوی، هغه د Payroll په لسټ باندے دی او نوے انټرویوز چه مونږه کوم اوکړل، هغه څه په دے ترتیب باندے دی۔ زه صرف دے ممبرانو صاحبانو ته هسے ونیل غواړم د دوئ د تسلئ د پاره چه مونږ د خپلے طریقے مطابق کوشش کوو چه ایجوکیشن ډیپارټمنټ لږ ښه شی۔ لکه فرض کړئ یو هلک، میټرک ئے کړے دے، سی-ټی، پی-ټی-سی ئے کړے ده یا ډی-ایم ئے کړے دے، چه څه د هغه کوالیفیکشن دے، نو که فرسټ ډویژن ئے اخستے دے نو بیا مونږ Out of 100 هغه له 25 marks ورکړی دی، Second Division ته مو 20 Marks and 15 marks to 3rd Division مو ورکړی دی۔ بیا Further که هغه ورسره نور Higher education کړے دے نو هغے کښ لکه د ایف۔اے د پاره 25 Marks, 15 for B.A and extra 25 marks for M.A

and M.Sc او د Extra qualification د پاره 06 Marks ایښودے دی او د انټرویو افسر چه کوم سره به مخکښې تقریباً 30 marks وو، چه هغه به په هغې دیرش نمبرو د میټرک سرے بالکل Accommodate کولے شو او هغه به هغه بهرتی کولے شو او بل High qualified سرے به هغه پریښودو، هغه صوابدیدی اختیارات مونږه د هغه نه واغستل او هغه ته مونږه صرف شپږ نمبرے پرښودے- شپږ نمبرو کښې هم دوه نمبرے مونږه د هغه د پاره ایښودے دی چه کوم سرے ده ته انټرویو ورکوی، د هغه بول چال او انټرویو، د هغه د طور طریقے د پاره، دوه نمبرے د هغه د جامو او Cleanliness د پاره، دوه نمبرے د هغه دَ Behaviour د پاره دی- نو دے کښې چه کوم دا میرټ مونږ ایښودے دے، دے کښې مونږ د انټرویو اغستلو والا افسر نه هغه اختیارات اغستی دی او Complete هر څه چه مونږ کړی دی، هغه مونږ په داسے طریقے باندے کړی دی چه کوالیفائیډ خلقو له مونږه ځائے برابر کړے دے او هغوی ته مو لاره روغه کړے ده- دا هم درته زه ونیلے شم چه پرون او نن نه هم دغه چه دا کوم اته زره کسانو چه انټرویو ورکړے ده، دوئ ته مونږه Orders issue کوؤ او دا هم زمونږ د پارټئ د مشرے، د محترمے بی بی هدایات دی چه څنګه Orders issue شی او دا ټول میرټ لسټ مونږ خپل خپل ډسټرکټس ته اولیږو، دا لسټ به مونږ په چوراهو کښې، په سکولونو کښې او د ډی-ای-اوز په هغه دفترو کښې څرګند اویزان کوؤ- که د کوم سړی په هغے باندے اعتراض وو چه زه High qualified ووم او ما نه Low qualified سرے بهرتی شوے دے، هغه د مونږ ته اووائی- مونږ به د هغے ذمه وار یو- اوس هم On the floor of the House دے ټولو ته وایم چه ما

پخپله حلقه کښې نالائقه سړے نه دے بهرتی کړے او هیڅ قسمه جانبداری مو نه ده کړے۔ نو دا دے ټولو ته وایم چه انشاء الله دا هر څه به په میرټ کیږی۔ که د چا په علم کښې داسے څه قصه راغله، مونږ ته د اووائی۔ انشاء الله د هغے به مونږه سدباب کوؤ۔ مونږ کوشش کوؤ چه معیار تعلیم ښه شی۔ دویمه خبره مے کول غوښتل چه تیر شوی وخت کښې به په درے سوه پینځه شپیته ورځو د کال کښې تعلیمی ورځے ډیر په مشکله باندے یو نیم سل ورځے وے۔ لکه یو نیم سل ورځے به سکول کهلاؤ وو او نور به دوسوه او تقریباً پنځلس ورځے سکول بند وو۔ یا به درے میاشتے د گرمئ چهټیانے وے یا به پنځلس ورځے د یخنئ چهټهیانے وے یا به شل پنځویشت ورځے د Spring holidays یا به چه څنګه ده اوونیل چه قائداعظم چهټی به وه، د محرم به وه، د اختر به وه، څلور ورځے په میاشت کښې د اتوار چهټیانے دی، هغه مونږ د راتلو سره کمے کړے او اوس لکه چه سکولونه به په یکم جون باندے بندیدل نو څښځکال مونږه په پندره جون باندے بند کړی دی، پنځلس ورځے مونږ د سکول ورځے زیاتے کړے دی۔

جناب سپیکر: کیتو تی مو کړے ده۔

وزیر تعلیم: داسے مونږه په نورو ورځو کښې هم لکه د ستمبر د اړخ نه هم، په چهٔ، سات ستمبر باندے به سکولونه کهلاؤیدل، مونږ کوشش کوؤ چه هغه په بیس، پچیس اگست باندے کهلاؤ شی، هغه هم چه موسم لږ ښه وی۔ که فرض کړه ډیره گرمی وه نو بیا به زمونږه چهټیانے وی۔ دا صرف ستاسو نه یو دوه منټه دے د پاره اخلم او دوئ ته صرف دومره وئیل غواړم چه

زمونږ کوشش دے، خواهش مو دے چه د ایجوکیشن ډیپارټمنټ چه کوم سکولونه دی یا تعلیمی معیار دے، دا زمونږه په حکومت کښ ښه شی او سبا ته څوک په مونږه باندے څه قسمه اعتراض او نه کړی۔ پیر محمد صاحب خبره اوکړه چه نقل کیږی۔ دا سخکال په رومبی ځل په کالجونو او په سکولونو کښ چه کومے ډیوټیانے د استاذانو لګیدلی دی، دا مونږ په کمپیوټر باندے کړی دی، کمپیوټرائزډ شوی دی او ګورنر هاؤس ته ټول لسټونه تلی دے۔ سیکرټری، ګورنر او د هغوی عمله هلته کښ ناسته وه او د هغوی په مخکښ دا ډیوټیانے لګیدلی دی او په هغے کښ څه قسمه جانبداری نه ده شوے او نه پکښ څه قسمه ګړ بړ شوے دے۔ دا هم زه دے هاؤس ته تسلی ورکوم چه انشاء الله مونږ به دا کوشش کوؤ چه په دے سلسله کښ مونږه نور هم مخ په وړاندے لاړ شو۔ نقل سلسله کښ خو مونږ کوشش کوؤ چه نقل ختم شی، نقل کم شی۔ دا خبره هم د دوئ صحیح به نه وی چه فرض کړه د با اثره سړی خو به نقل کوی او بل د غریب سړی نقل نه شی کولے۔ نن صبا دا خلق ډیر هوښیار شوی دی۔ په یو هال کښ چه ټول ناست وی نو هغه اثر او با اثره والا قصه نه وی۔ د هغه ټولو هلکانو مغزه یو شان وی او هغوی یو شان سوچ کوی۔ که یو هلک پوهیږی چه دے هلک له نقل راغے او ما له رانغلے، هغه هلک هغه وخت کښ شور جوړولے شی۔ ستاسو څه خیال دے؟ دا هغه وخت خو نه دے۔ دا خو جی یویشتمه صدی ده۔ په دے کښ هر یو سړے هوښیار دے او هر یو سړے پوهیږی او دغه سلسله خو چرته شوے نه ده او که چرته داسے اِکا دُکا شوے وی نو مونږ ته د دوئ د هغے نشاندهی اوکړی۔ انشاء الله مونږ به د هغے هم سدباب اوکړو۔

مثال دوئ داسے ورکړه لکه سپیکر صاحب، تاسو پکښ اووئیل چه ما یادوئ، زما خوئے مه یادوئ، زه دوئ له تسلی ورکوم، زما خوئے ښنبکال په میټرک کښ امتحان ورکړے دے خو ما چرته اوسه پورے تپوس نه دے کړے چه د هغه امتحان اغستلو والا Invegilaters څوک وو؟ زما خوئے په یولسم کښ امتحان ورکړے دے په کیډټ کالج کوهاټ کښ، ما چرته تپوس نه دے کړے چه د هغه امتحان اغستلو والا څوک وو چه امتحان ئے واغستو؟ په آخر کښ چه زه خبر شوم، زمونږ یو سینئر انګلش ټیچر چه وو، هغه د خوش قسمتئ نه د چارسدے او د بابړے نه وو خو ما هغه وخت کښ او پیژندو چه کله ئے امتحان واغستو او راغے او ما ته ئے اووئیل چه جی زه هلته تلے ووم او ما امتحان اغستے دے۔ دا زه On the floor of the House وایم ----------

جناب محمد اورنګزیب خان: دا خو جی ډیر غیر ذمه وار پلار دے --------

وزیر تعلیم: نه غیر ذمه وار نه ووم، زه غیر ذمه وار نه ووم۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! بچے ئے ډیر ذمه وار دے۔ هغه ته پته وه چه څه خیر دے۔

وزیر تعلیم: زه په دے سلسله کښ صرف دوئ ته دومره وئیل غواړم چه زما پخپله دومره خواهش دے چه زه کوم شے د بل د پاره غواړم، نو دغه باندے به زه پخپله هم شروع کوم۔ زه واحد پکښ داسے یو ایجوکیشن منسټر یم چه زما په دور کښ دا کمپیوټرائزډ ډیوټئ لګیدلی دی۔ زه تلے یم بورډ ته، ګوچه دا بورډ زمونږ سره نه راخی، دا د ګورنر د لاندے راخی، زه تلے یم بورډ ته، ما هلته کتلی دی، ما هلته معلومات کړی دی او اوس هم چه ما له

ځوک خبر د بورډ متعلق راکړي، څه شکایت راکړي، نو وقتاً فوقتاً مونږ د هغې خلاف شکایت کوؤ او زه هغه چیئرمین بورډ سره رابطه باقاعدګۍ سره ساتم چه بهنی، دا قصه ولې داسې کیږي؟ مونږ کوشش کوو چه اصلاحات په دې بورډونو کښې اوشي- خرابۍ پکښې شته، دا نه ده چه خرابۍ پکښې نشته، شته پکښې خرابۍ خو مونږ کوشش کوؤ چه انشاء اللهٔ مونږ دا خرابۍ ختم کړو او ډیرې خرابۍ دي په دې ډیپارټمنټ کښې، خو په دې دوه میاشتو کښې خو نه ټهیک کیږي- مونږ لګیا یو دا به انشاء الله ټهیک کوؤ- ستاسو تعاون به هم مونږ سره په دې کښې شامل وي- د فرنیچر دوئ خبره اوکړه چه پینځه کروړه روپئ فرنیچر له منظورې شوی دي او پرائمری ایجوکیشن له ورلډ بینک پینځه کروړه روپئ د فرنیچر اخستلو د پاره ورکړې دي- په اپریل کښې چه کله مونږه راغلو، زمونږه حکومت راغلو، مونږه د دوئ سره خبره اوکړه چه بهنی، دا فرنیچر په دې طریقه باندې تاسو واخلئ چه په دې کښې ځوک کمیشن وانخلی او دا په داسې طریقې سره ټینډرشي چه هغه صفا او شفاف وي- ورلډ بینک والا ونیلی وو او د هغوی دا شرائط وو چه یو میاشت به ټائم د ټینډرنه پس ورکوئ چه هغه خلق ټینډر ډک کړي- بیا پنځلس ورځې د هغې د Acceptance د پاره وې- نو هغه داسې لنډې تنګې ورځې وې چه هغه تیس جون ته نه برابریده- مونږ هغه قصه پریښوده او ورلډ بینک سره مو خبره را اوچته کړې وه چه په دې دوه میاشتو کښې پوره صفا او شفاف کار نه شي کیدې، مونږ له Extension راکړئ نو انشاء الله مونږ به ئې د فرسټ جولائی نه پس دې New financial year کښې دا فرنیچر د سکولونو د پاره اخلو او دا هم دوئ ته یقین

دهاني ورکوم چه انشاء الله داسے طريقے سره به تيندر کوؤ، داسے طريقے سره به مونږ فرنيچر اخلو چه څوک پکښې کميشن وانخلي او دا خبره پاکه اوشي۔ دوئ پکښې خبره اوکړه چه مخکښې به يو ډائريکټر وو په صوبه کښې او هغه به پوره صوبه چلوله او اوس پکښې ډير ډويژنل ډائريکټران هم راغلل او ډير ډي۔اي۔اوز، ايس۔ډي۔اي۔اوز هم پکښې راغلل۔ دا منو، بالکل پخوا به يو ډائريکټر دا هر څه چلول خو هغه وخت به جي زمونږه تعداد د خلقو دومره زيات نه وو۔ دومره سکولونه نه وو زيات شوي، دومره کالجونه نه وو زيات شوي۔ اوس چه لکه څنګه ما تاسو ته اووئيل چه اته زره او څلور سوه سکولونه خو دا مونږه تقريباً په راتلونکي پينځه کلونو کښې جوړوؤ نو دومره ورسره هائي سکولونه هم راځي او دومره ورسره مډل سکولز هم راځي او داسے ورسره کالجز هم راځي۔ نو د دے ټول Management کولو د پاره د لاندے سطح پورے د انتظامي امور چلولو د پاره ډي۔اي۔اوز هم راغلي دي، ايس۔ډي۔اي۔اوز هم شته او د دے ديکھ بهال کوي۔ تير شوي حکومتونو به چه دا افسران لګول نوسياسي طريقے باندے به ئے لګول، ځان د پاره به ئے لګول۔ هغه سړے به دوئ رابدلاؤ چه کوم به د دوئ تابع وو۔ دا نوے حکومت چه راغے، دوئ دا پاليسي جوړه کړه چه هر يو هغه ډي۔اي۔او په کوم ډسټرکټ کښې چه وي، هغه به د هغے ضلعے نه وي۔ چه د بلے ضلعے راشي، د هغه به د دے ضلعے سره څه خپل مفاد نه وي۔ دا به نه وائي چه زه د خپل سړے بهرتي کړم يا زه د د خپل خپلوانو سره خير ښيګړه اوکړم۔ دغه شان ايس۔ډي۔اي۔او چه دے، هغه مونږه په خپل تحصيل کښې نه دے پريښودلے، بدلوؤ به ئے۔ دا Process

روان دے۔ غنی محمد خان یوه خبره اوکړه چه زمونږ د ضلعے له نه دی بدل شوی، مونږ څه بدل کړی دی، څه اوس لګیا یو بدلوو۔ کوشش پکښې کوو چه ښه او پاک سړی راشی۔ کوشش پکښې کوو چه هغه ډی۔ای۔اوز مونږ اولګوو چه په چا باندے د تیر شوی حکومت د دغه اته زره کسانو د Illegal and Irregular appointments cases نه وی او د هغے چهان بین کوو۔ کوشش پکښې کوو چه هغه سړے راشی چه هغه د دے خپل ګریډ مطابق برابر وی۔ لکه BPS-19 باندے به ډی۔ای۔او وی، مونږه BPS-17 or BPS-18 والا نه لګوو۔ دا مونږ نه کوو چه د تیر شوی حکومت، لکه ډویژنل ډائریکټر چه وو، هغه اتهاره ګریډ والا وو او پوسټ نے ورله د بیس ګریډ ورکړے وو۔ هغه یو ډویژنل ډائریکټر وو، د دوو ډویژنو او د شپږو ډی۔ای۔اوز پوسټ هغه سره وو۔ مونږ دا نه کوو۔ مونږ هر یو هغه افسر له هغه ذمه واری ورکوو چه هغه د هغے قابل دے او د هغه د ګریډ مطابق وی۔ نه نے کم ورکوو او نه نے زیات ورکوو۔ دا دوئ ته تسلی ورکوم چه انشاء الله هر څه به د قاعدے قانون مطابق وی۔

<u>جناب سپیکر</u>: لږ بنچ خو ټکوئ جی۔ منسټر صاحب دومره ښے خبرے کوی نو لږ خو تاسو هم داد ورکوئ۔ هسے خو تاسو وایئ چه منسټر صاحب یاتم نه راکوی۔ څه Encouragement خو کوئ کنه۔ ډیر شومان شوی یئ۔ خدائے خبر شه چه خوب درخی او که څه چل دے؟ (تالیاں)

<u>جناب عبدالسبحان خان</u>: د منسټر صاحب خبرے دومره خوږے دی لکه چه مارته بیم غږوے، مونږه نے داسے غلی کړی یو۔

<u>وزیر تعلیم</u>: پیر محمد خان خبره اوکړه چه اوس هم داسے استاذان پاتے شته

چه کوم Untrained دی او نه دی ویستلے شوی۔ مونږ د دے ټول ډی-ای-
اوزنه او بیا د دے ډائریکټرز نه یو Affidavit اغستلے دے، بیان حلفی مو
ترے اغستے ده چه زما د علم مطابق اوس چه کوم لسټ ما تا له درکړو، دا
حتمی دے، نور نشته۔ که پس د دے نه څه را اووتل نو د هغے به هغه ذمه
وار وی۔ اوس هم زه دوئ ته دا وئیل غواړم چه که چا سره داسے معلومات
وی، د چا په حلقو کښ داسے خلق وی نو مونږ له دِ هغه لسټ راکړی۔
مونږه به د هغه ډی ای او او د هغه افسر خلاف محکمانه کارروائی کوؤ۔
مونږه خو به خوشحاله یو چه دوئ ځومره زمونږ مدد اوکړی هغه هومره
به مونږ ته فائده وی او مونږ ته به آسانه وی۔ زه په دے ضمن کښ یوه بله
خبره کول غواړم د ایجوکیشن ښه کولود پاره که زه صرف دے ایم پی اے
صاحبانو ته دا اووایم چه ستاسو په حلقو کښ ځومره سکولز دی او یو
کوشش اوکړئ چه کم از کم په میاشت کښ ورته دوه ورځے اوباسئ چه په
دے چکر اووهئ او د دے دیکھ بهال اوکړئ او په دے د دوئ معلومات
اوکړی او دوئ د اوګوری چه هغه استاذان چه کوم دوئ پخپله خو ښه خپلو
حلقو ته رابدل کړی دی، آیا هغوی کار کوی او که نه کوی؟ آیا دوئ ورته
وئیلے شی چه تاسو کار اوکړئ، سبق اوښائیئ؟ کم از کم په دوئ هم دا ذمه
واری راځی چه دوئ دِ هم لاړ شی او د خپل سکولز او د خپلو تعلیمی
اِدارو خبر د واخلی۔ اوس هم لکه د لسم نتیجه اووته، زما به دوئ ته دا
خواست وی چه دوئ د هغه خپلو هائی سکولونو نتیجے اوګوری او راوا
دِ خلی او چه د کومو سکولونو نتیجے خرابے وی او د څه وجے نه خرابے
کیدے شی؟ هیډ ماسټر نے خراب وو، هغه ټیچر نے خراب وو چه کوم

هغه سبجیکټس ښودلو، چه د هغے د وجے نه ماشومانو سبق اونه ونیلو نه استاذ نه راتلو د سبق ښودلو د پاره؟ دوئ د مونږ له تجاویز راکړی- د داسے کار اوکړی چه خراب استاذان د دوئ As a punishment ډسټرکټ ته اولیږی، بل د prposal مونږ له راکړی، مونږ به د دوئ Proposal ته خوش آمدید وایو- (تالیاں) دویمه خبره مو کول غوښ چونکه بل مونږ پرائمری ایجوکیشن د پاره دا کوشش کوو چه څوم پرائمری سکولز دی، په هغے کښ چه څومره بچی سبق وائی، د هغے بچو والدینو مونږه یوه کمیټی جوړه کړو، هغے ته به Parents committee وایو چه په هغے کښ به پنځلس یا لس کسان وی د هر یو سکول په مطابق باندے او هغه ماشومانو والدین به په هغه سکولونو باندے نظر ساتی چه آیا سکول کښ سبق ښودلے شی او که نه شی ښودلے، معیار ئے ښه دے او که معیار ئے ښه نه دے؟ (تالیاں) زمونږ کوشش دا دے چه Quality of education ښه شی- مونږ Quantity نه زیاتول غواړو، مونږ Quality ښه کول غواړو- دوئ خبره اوکړه د پرائیویټ سکولونو د پاره چه پرائیویټ سکولونه خو ډیر ښه چلیږی او په کمو تنخواګانو باندے چلیږی او نتیجے ئے هم ښے وی، نو زه به صرف دومره وایم چه دے کښ څه لږه ډیره غلطی به زمونږه هم وی، غلطی به داسے زمونږه وی چه مونږ خو پرائیویټ سکول ته چه خپل څوئے بوځو او داخل ئے کړو، اول به لټون کوو چه ښه سکول دے او که نه، بیا د هغه استاذ نه هم تپوس کوو چه بهنی، سبق ئے اوښودلو او که نه- بیا مو هغه بچی له ټیوشن هم نیولے وی چه هغه ماشوم ته استاذ هوم ورک اوښائی- د حکومت پرائمری سکولونو ته زیات تر د غریبانانو بچی

راخي، په هغوی کښې د چا سره د کتاب اغستلو پيسے وي او چا سره نه وي- څوک په يونيفارم کښې تلے شي او څوک پکښې نه شي تلے- که لاړ شي نو سبق اووائي- ټهيک ده چه معيار به ئے دومره ښه نه وي خو زمونږ کوشش به دا وي چه دا ښه شي او چه کله يو څيز خيراتي شي يا يو څيز مفت شي، نو عموماً زمونږ خلقو سره بيا د هغے څيز قدر نه وي- غټه خبره دا ده- او چه کله زمونږ د جيب نه پړے يو دوه روپئ لاړے شي نو مونږ کوشش کوؤ چه د دے لږ تپوس اوکړو چه پيسے ورکوؤ نو چه ښه شے مونږ ته ملاؤ شي- نو زه به خپل احمد حسن ورور او نجم الدين خان ته دا خبره اوکړم چه دوئ خبره اوکړه چه هغه کوم ټيوشن فيس چه د دوئ حکومت لګولے وو، اوس د حکومت هغه فيس د هلکانو نه اخلي او هغه د واپس کړي، نو زه دوئ ته يقين دهاني ورکوم چه کوم ټيوشن فيس چه تاسو لګولے وو او هغه ماشومانو په هغے باندے احتجاج کوؤ، هغه مونږ Defer کړے دے، لا في الحال هغه مونږه نه اخلو او کوشش کوؤ چه مونږ په دغه طريقے سره دا اوچلوؤ- بيا که نه چليدو او يا ستاسو تجويز پکښې راغے چه خيراتي څيز او مفت څيز نه چليږي نو لږ لږ پيسے ترے چارج کړئ نو بيا به انشاء الله ستاسو په مشورے سره مونږه هغه ستاسو په نقش قدم باندے خو- دوئ خبره اوکړه چه بلډنګونه شته او سکولونه پکښې نشته او سټاف هم پکښې نشته- ټهيک شوه، زه به دوئ ته دومره اووايم چه دوئ د مونږ ته د بيل بيل سکول حواله راکړي يا د Question راکړي يا د مونږ ته داسے حواله راکړي چه کوم بلډنګونه څه جوړ دي او څه نه دي جوړ، څه Percentage مطابق جوړ شوي دي، دا مسئله يوه داسے راغلے

وه چه بعضے سکولونه هغوی د Saving نه جوړ کړی وو Non ADP schemes باندے وو، اوس فنانس ډیپارټمنټ هغوی له پیسے نه ورکوی۔ بعضے سکولونه داسے وو چه هغه پانچ نکاتی پروګرام کښ وو یا په پیپلز ورکس پروګرام کښ وو، هغه پانچ نکاتی پروګرام هم ختم شو او پیپلز ورکس پروګرام هم ختم شو۔ هغه سکولونه د ډیر معمولی کار د وجے نه نیمګړی پراته دی۔ دا خبره مونږ د فنانس ډیپارټمنټ سره را اوچتوؤ، کوشش کوؤ چه د دے څه حل رااوځی۔ ځکه چه پیسے پرے هم د حکومت بندے شوے یا خرابے شوے دی۔ احمد حسن خان خبره اوکړه چه څلویښت زره روپئ زما د ډپټی سپیکرشپ د وخت راسے د ټهیکیدار بندے دی زه خو ډیر افسوس کوم، کوشش به کوؤ چه انشاء الله مونږ ورله دا اوکړو خو چه تاسو ډپټی سپیکر وئ او بیا اوس راتلئ نو غالباً د 1985 to 1997 درے خله شاید چه د دوئ دا حکومت هم راغلے دے او درے خله پکښ دوئ لاړل راغلل، دوئ خو اونکړے شو، زمونږ به خپل کوشش وی چه دا پیسے دغه ټهیکیدار ته په څه طریقے سره ملاؤ شی (تالیاں) زمونږ ډیر معزز ممبرانو صاحبانو دا خبره اوکړه چه پرائمری سکولونه ډیر شو او اوس مډل یا هائی سکولز پکار دی نو حکومت دا پالیسی څخکال نه شروع کړے ده چه پرائمری سکولونه مونږه کموؤ او چه دا څومره پرائمری سکولونه په دے تیر شوی دوه درے کالو کښ جوړ شو، د دے دا څومره سټوډنټس چه دی، دا ماشومان چه کوم راوتی دی، نو دوئ د پاره اوس مونږ کوشش کوؤ چه راتلونکی وخت کښ د دے د پاره څه حل راوځی۔ څښکال هم په دے بجټ کښ مونږ پیسے ایښودی دی۔ د مډل د پاره هم ورله

اینبودے دی او د هانی د پاره هم اینبودی دی- نو دا کوشش کوؤ چه دا خلق اوس مډل ته شی او هانی ته شی او دا سلسله روانه شی- دا نه چه ماشوم د پرائمرئ پورے سبق اووائی او بیا ورله مډل، هانی نه وی- نو زمونږ دا کوشش دے چه د دوئ د پاره مډ ل او هانی سکولونه جوړ شی- دا هم پکښ کوشش کوؤ چه زیات توجه یا زیات ترجیح مونږ د جینکو سکولونو ته ورکړو خکه چه د جینکو تعلیم هم دَ هلکانو سره سره ضروری دے-
(تالیاں)

جناب سپیکر: زما خیال دے بی بی، چه ستاسو سره به زه هم لاس اوچپوم خکه چه زه هم Neutral یم او تاسو هم Neutral یئ- (قہقہے)

وزیر تعلیم: سی اینډ ډبلیو متعلق دوئ خبره اوکړه چه سکولونه جوړ شوی دی او سی اینډ ډبلیو له ایجوکیشن ډیپارټمنټ ته نه دی ورکړی یا PC-IV ئے نه دے جوړ شوے، نو هغه د سی اینډ ډبلیو خپل Procedure دے، هغوی ئے پخپله برابروی- مونږ به د منسټر صاحب سره کیښنو او دا خبره به ورسره اوچته کړو چه کوم داسے Pending schools دی او د څه د وجے نه پاتے دی، که Minor څیزونو د وجے نه پاتی وی، نو مونږ به کوشش اوکړو چه زر تر زره دا مسئله حل شی او مونږ دا سکولونه روان کړو- Hard area متعلق نجم الدین خان خبره اوکړه نو مونږه چه کله دا Criterea جوړوله نو مونږ یو څو ډسټرکټس په Hard areas کښ ورکړی وو او که تاسو ما ته اجازت راکوئ نو زه به دوه څلور کلی اووایم- Only in the cases of hard areas preference should be given to the trianed and eligible candidates of that area, irrespective of their District/constituency

merit. If trained candidates are not available in that area then

untrained but qualified candidates of that area will be recruited on

لکه د هغه خاص contract basis for five years, for a specific School.

سکول د پاره، چه کوم په Hard area کښې راځی او دغه د پاره وی هغه به د

هغے سکول نه بدلیږی نه - Such candidates will be regularized if they

acquire the required training certificates, othewise their services

د کاله پینځه کوم چه دے دا مطلب dismiss on the expiry of that date.

پاره ورله مونږ وخت ورکړے وی چه هغه کلے، چه کومه Hard area ده،

هغے کښې به مونږ یو Untrained سړے واخلو۔ مطلب Untrained داسے به

وی چه پی ټی سی یا سی ټی به نه وی، کوالیفائډ به وی په هغے Age

relaxation هم شته دے۔ هغه یو ریټائرډ سړے هم کیدے شی، هغه فوجی هم

کیدے شی۔ هر یو ریټائرډ سړے ملازمت کولے شی او پینځه کاله به ورله

ورکوو چه دے پینځه کاله کښې هغه پی ټی سی ټریننګ اوکړی یا خپل هغه

کوالیفیکشن پوره کړی او که هغه کوالیفیکشن پوره نه کړو نو مونږ به هغه

بیا د هغے نه پس Dismiss کوو۔ Hard area Districts چه دی نو هغه

کوهستان ډسټرکټ دے، کالا ډهاکه، مانسهره، الائی او په هری پور کښې یو

اباژتی یو بیل بره سائډ باندے دے، کچی اینډ بارانی ډی آئی خان کښې دے او

کالام ډسټرکټ کښې یو بیل Specific ځایونه دی، هغه مونږ Hard areas کښې

ورکړے دی ---------

جناب نجم الدین: پوائنٹ آف آرڈر، سر۔

جناب سپیکر: صبر اوکړه چه دوئ خبره Complete کړی بیا تاسو خبره

اوکړی۔

وزیر تعلیم: ډیر، کوهستان متعلق مونږ به انشاء الله کوشش کوؤ چه ستاسو په دے تجویز باندے هم غور اوکړو۔ دوئ خبره اوکړه چه پیسے په دے باندے ډیرے لګی او معیار تعلیم هیڅ هم نشته نو حقیقت دے، واقعی زمونږ د بجټ کافی حصه په دے باندے لګی، اوس که اوګورو د دولس سوه نه ورک چارج پنځلس سوه شو، هغه هم زیات تر په ایجوکیشن ډیپارټمنټ کښې دا ورک چارج دی، نو د دے درے سوه روپو نه به څومره پیسے جوړیږی؟ دا هم تقریباً په دے خزانے باندے به بوجھ راځی خو حکومت به انشاء الله که خیر وی، ورکوی به ئے۔ د Postings/transfers خبره اوشوه چه Victimization د نه کیږی، نو زه دوئ ته یقین دهانی ورکوم چه مونږ خو په حکومت کښې راغلو نو مونږ ته هر څوک برابر دی، مونږ ته ټول یو شان دی، انشاء الله تعالیٰ Victimization باندے به مونږ Postings/transfers نه کوؤ البته دا شے شته چه تیر شوے خل لکه تیر شوی حکومت کښې داسے خلق به خواه مخواه وی چه هغوی به د خپل کلی نه، د کورنه بهر ټرانسفر شوی وی، هغوی به اوس کوشش کوی چه ما خو درے څلور کاله وخت بهر تیر کړل نو که زه راغلم، نو ما ته د موقع ملاؤ شی نو ضروری خبره ده چه پوسټ به یو وی او خلق به پرے ګنړ وی نو کوشش زمونږ دا دے چه هر یو سړے د خپل کور ته په آسانه او په نزدے سره ټرانسفر شی بغیر د Political victimization نه۔ محسن علی خان خبره اوکړه چه فنانس ډیپارټمنټ مونږ سره دهوکه کړے ده چه پیسے ئے کمے ایښودلے دی۔ زه خو په فنانس باندے دومره ښه نه پوهیږم، دوئ زما نه ښه ماهر دی او دا خو

بی بی مخکښې ورخو کښې خبره کړے وه چه ډیرے ګوتے دوئ له هم ورخی چه کوم طریقے سره دوئ دا دغه کوی، صرف دومره به وایم چه فنانس ډیپارټمنټ والا وانی لکه چه دوئ وانی چه پیسے کمے ایښے دی او زمونږ Expenditure زیات دے نو هغه On 15 page باندے دوئ صرف سمری کتلے ده، هغے کښې دوئ وانی چه 15 % د دے SAP د پاره دی- Donors دا پیسے د چاک او ټاټونو د پاره دی- نور چه کوم مونږ ته د Foreign Aid نه ملاویږی د SAP لاندے، ایشین ډیویلپمنټ بینک هم راکوی، جرمن بینک هم راکوی او جاتیکا والا هم راکوی، نو زیات تر هغوی Donors دی او هغوی ئے Provide کوی- بهرکیف که بیا هم څه داسے خبره وی نو دوئ د مونږ سره کښینی او ما د پرے پوهه کړی، زه به انشاء الله خان پرے پوهه کړمه او که څه داسے ښه تجویز وی یا داسے څه خبره یا زمونږ نه خطا شوی وی نو مونږ به انشاء الله کښینو او هغه به مونږ د دے Crorrection اوکړو- زمونږ خو دے ټولو ممبرانو ته دا خواست وی چه که چرے ستاسو د ایجوکشن باره کښې څه ښه تجویزونه وی نو هغه مونږ ته راکړئ نو انشاء الله مونږ به کوشش کوؤ چه ستاسو هغه تجویزونه قبول کړو او دا زمونږ د ټولو په شریکه ذمه واری ده او دا زمونږ په شریکه خواهش دے چه مونږ په دے صوبه کښې تعلیمی معیار ښه کړو- نو هغه به ستاسو په تعاون سره ښه کیږی او که دا چلیږی نو هم ستاسو په تعاون سره به چلیږی انشاء الله مونږ به ستاسو د تعاون هر وخت خواهش مند یو چه تاسو مونږ سره تعاون جاری اوساتئ- زه ستاسو مشکور یم او امید دے چه دوئ به خپل کټ موشن واپس واخلی-

جناب توفیق محمد خان: جناب سپیکر صاحب! ما ته جی لږ اجازت اوکړئ، زه د دوئ نه یو سوال کومه- دا ---------

جناب سپیکر: لږ صبر اوکړئ جی ------

جناب توفیق محمد خان: یو منټ جی، صرف دوئ ته دا وایم جی ---------

جناب سپیکر: چه تاسو له ټائم درکوم نو بیا به ټولو له ورکوم- خبره اوکړئ، شابه اوکړئ-

جناب توفیق محمد خان: دوئ د Hard area خبره اوکړه جی، نو زه دوئ ته دا Request کومه جی چه زمونږ دا حلقه پی ایف-21 هم په دے Hard areas کښې شامل کړی خکه -----------

بیگم نسیم ولی خان: پوائنٹ آف آرڈر ......

جناب توفیق محمد خان: جناب سپیکر صاحب! ما ته جی لږ اجازت اوکړئ، زه د دوئ نه یو سوال کومه ---------

جناب سپیکر: لږ صبر اوکړئ جی ----------

جناب توفیق محمد خان: یو منټ جی، صرف دوئ ته دا وایم جی ---------

جناب سپیکر: چه تاسو له ټائم درکوم نو بیا به ټولو له ورکوم- خبره اوکړئ، شابا خبره اوکړئ-

جناب توفیق محمد خان: دوئ د Hard area خبره اوکړه جی، نو زه دوئ ته دا Request کومه جی چه زمونږ دا حلقه پی ایف-21 هم په دے Hard areas کښې شامل کړئ خکه ---------

بیگم نسیم ولی خان: محترم سپیکر صاحب! دا خو څه طریقه نه ده- دا خبره د

دوئ بیا کښینی منسټر صاحب سره دِ اوکړی یا د چیف منسټر سره خبره اوکړی، دا خو په اسمبلیٔ کښ د ګرانټس دَ منظورئ خبره ده ګنی نو سوال د اوکړی، کونسچن د اسمبلیٔ ته راوړی- دا خو به اوس هر یو سړے پاځیږی او خبره به کول غواړی- زه به اول پاځم او وایم به چه Hard area شته، د شبقدر سره څه چل کوئ، ورسره قبائلی علاقه ده؟ دا خو به هر یو سړے پاځی، دا سسټم او دا طریقه به غلطه شی- د اسمبلئ وخت ته اوګورئ او دے خپل ګرانټس ته اوګورئ او خپل ټائم ته اوګورئ-

جناب سپیکر: اوس څوک پاځی- (قهقهے)

جناب فرید خان طوفان (وزیر بلدیات): اوس خو څوک سوال نه شی کولے-(قهقهے)

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! بی بی ډیر په طریقه د شبقدر دا ذکر اوکړو- (قهقهے) دا چل د مونږ ته هم اوښائی-

بیګم نسیم ولی خان: شبقدر زما علاقه نه ده، یعنی زما حلقه نه ده- هسے یو خبرے پورے مے اووئیل- ما ته چونکه علاقه معلومه ده، اوس به د هغے سړے هم پاځی، وائی به چه دا حلقه ده-

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! مونږه ډیر حده پورے مطمئن یو او مونږ خپل ډیمانډز چه کوم دی، کم از کم زه خپل ډیمانډ واپس اخلم خو صرف یوه دوه خبرے دی- خیر دے هغوی د بیا روستو پرے سوچ اوکړی- یو د درجه چهارم ملازمینو په سلسله کښ دوئ چه کوم آرډرز کړی دی، په هغے کښ اکثر و بیشتر غریبانانو خلقو دوه دوه کاله نوکرئ کړی دی، د هغوی په حال د رحم اوکړی- جناب سپیکر! هغوی قابل رحم دی او هغوی اکثر د زمکو په بنیاد باندے نوکران شوی دی، نو د هغے نه به یوه مسئله

جوړه شی- بل جناب سپیکر، نجم الدین خان یوه خبره اوکړله ، لکه زمونږ په دیر ډسټرکټ کښې پینځه داسے هائر سیکنډری سکولز دی چه هغه په Finishing touches کښې دی، هغه اوس د ایجوکیشن ډیپارټمنټ پراپرټی ده --------

جناب سپیکر: هغوی خو تاسو ته اوونیل چه د دے لسټ راکړئ -------

جناب احمد حسن خان: د هغے Liability د ټهیکیدارانو نن یوه مسئله ده- مونږ ته پنځوس تنه ټهیکیداران په ایم پی اے هاسټل کښې ناست دی- نو صرف دومره خبره کوم، خبره ختموم، دوئ د مهربانی اوکړی او د هغے د پاره دِ دَ فنډ بندوبست اوکړی-

Mr . Speaker: The cut motions are lost , being withdrawn . The question is:

"that a sum not exceeding rupees eight thousand four hundred and thirty six million , seven hundred and twenty seven thousand only , be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Education".

Those who are in favour of it, may say 'Yes' and those against it, may say 'No'.

(The motion was carried.)

Mr . Speaker: The 'Ayes' have it . The Demand is granted . The honourable Minister for Health to please move his Demand No. 17.

نجم الدین خان! تاسو دا خپل مائیک لږ بند کړئ۔

Mr. Sanaullah Mian Khel (Minister for Health): Mr. Speaker Sir, I beg to move:

"that a sum not exceeding rupees two thousand, one hundred fifty five million, four hundred and ninteen thousand only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Health Services".

Mr. Speaker: The motion befrore the House is:

"that a sum not exceeding rupees two thousand, one hundred fifty five million, four hundred and ninteen thousand only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Health Services".

Mr. Ahmad Hassan Khan, MPA, to please move his cut motion on Demand No. 17.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! په مطالبه زر نمبر 17 زه پوره د زرو روپو د کټوتی تحریک وړاندے کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees one thousand only. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, please

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب ! زه په ډیمانډ نمبر 17 کښې د هزار روپو د کټ موشن تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees one thousand only. Mr. Najmuddin Khan, MPA, please.

جناب نجم الدین: جناب سپیکر ! زه په مطالبه زر نمبر 17 کښې د دریو سوؤ روپو د کټ موشن تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees three hundred only. Mr. Hamidullah Khan, MPA, please. Haji Muhammad Yousaf Khan Tarand, MPA, please.

حاجی محمد یوسف خان: جناب سپیکر ! په مطالبه زر نمبر 17 کښې زه د سلو روپو د کټوتی تحریک پیش کومه۔

Mr. Speaker: The Motion is that the total grant be reduced by rupees one hundred only. Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA, please.

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر ! میں مطالبہ زر نمبر 17 میں پانچ روپے کٹوتی کی تحریک Move کرتا ہوں۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees five only. Mr. Akram Khan Durrani, MPA, please.

جناب اکرم خان درانی: جناب سپیکر صاحب ! زه د څلورو روپو د کټوتی تحریک پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees four only. Mr. Ahmad Hassan Khan, MPA, please.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر ! د وخت هم ډیر قلت دے او جناب منسټر صاحب دے محکمے سره نوے دے. تاسو زما دے کټ موشن ته اوګورئ نو په دے کښې ما یو خاص پهلو د متعلقه وزیر صاحب ګوش ګزار کولو کوشش کړے دے چه "محکمہ کی کارکردگی انتہائی ناقص ہے، بوجوہ یہ کہ محکمہ تقریباً بارہ سو ڈاکٹروں کی تعیناتی کے باوجود لوگوں کو علاج معالجہ کی سہولت پوری طرح فراہم نہ کرسکا" زما په خپل خیال د سابقه حکومت په نورو ډیرو ښه کارونو کښې، قابل ذکر تاریخی کارنامو کښې یوه غټه کارنامه په دے صوبه کښې د دولس سو ډاکټرانو د بهرتئ هم وه چه اوس د تاریخ یوه حصه ده. د دے ډاکټرانو د بهرتئ په وخت کښې ډاکټرانو صاحبانو دا یو عام تاثر ورکړے وو چه د روزګار د ملاویدو نه پس به د هغوی تعیناتی چه هر چرته اوشی نو هغوی به ډیر په خلوص او ایماندارئ سره ډیوټی کوی. خو اوس بطور ایم پی اے، او د دے نه مخکښې هم، چه په کومو علاقو کښې د دے طرفونو ډاکټران بهرتی شوی دی چه په دے کښې مونږ ګرخو نو اوس هم د هغے ډاکټرانو هلته کښې تقررپانے خو شوے دی خو هغوی هلته کښې ډیوټی نه کوی. دا د دے د پاره د حکومت دا خزانه په هغوی باندے خرچ کیږی او د دے د پاره د هغوی په تعلیم باندے دا خرچ شوے دے، د دے د پاره د هغوی مور او پلار د هغوی نه ډاکټران جوړول غوښتل او دوئ د دے جذبے سره په دے پروفیشن کښې داخله اغستے وه چه دوئ به د دکهی انسانیت خدمت کوی. دا یو ډیره اهم خبره ده. زه د منسټر صاحب نه طمع لرم چه د دے به

څه حل رااوباسي- ورسره ورسره دوئ چه کوم په لوے هسپتالونو کښې نوے د هیلتھ یو سسټم شروع کولو کوشش کړے دے، زما خیال دا دے چه چا هم شروع کړے دے، هغې کسانو منسټر صاحب هم په اعتماد کښې نه دے اغستے، چیف منسټر صاحب ئے هم په اعتماد کښې نه دے اغستے او چه دوئ نه دي پوهه شوي نو دوئ اول خپل ملګری او بیا دا ټوله صوبائی اسمبلی په اعتماد کښې نه ده اغستے او د دے کارکردګئ فائدے ئے نه دی ښودلی- د دے نه چه غریبانانو خلق ته کوم تکالیف دي، د بد قسمتئ نه په دے مخکښو ورځو کښې زمونږ د بهادر خان ماما د بچی او وراره د ایکسیډنټ په سلسله کښې د څو ورځو نه زمونږ دے هسپتال ته تلل راتلل دي، نو کوم د زړه د مرضونو سره تعلق لرونکی کوم غریبانو مریضانو ته یا نورو خلقو ته چه نن کوم مشکلات دي، هغه ډیره یو لویه خبره ده- په هغې باندے که چرته منسټر صاحب د بجټ نه وروستو د دے خوبئ عوامو ته اوښائی، په داسے یو ملک کښې چه د هغې معاشی حالات خراب وي، چه هغه پاکستان وي، برطانیه نه وي، هغه صوبه سرحد وي جناب سپیکر، هغه د انګلینډ یو کاونټی نه وي یا د امریکے یو حصه نه وي او د هغے د خلقو معاشی حالت دا وي لکه دا کوم چه دے، چرته چه د پبلک د صحت انشورنس پالیسی نه وي او ګورنمنټ د هغه ذمه واری نه پوره کوی کومه چه هغې له پوره کول پکاردي، زما په خپل خیال داسے پالسیی باندے عملدرآمد کول، خوب لیده دي، ارمان کیده دي، عملی طور په دے باندے عمل نه شي کیدے- خو زه په هغې باندے زیات وخت نه اخلم- دا صرف ما د خپل زړه د جذباتو ترجمانی اوکړه- د دے نه پس که دوئ دا مهربانی اوکړي، که ډویژنل وائز وي یا که د

صوبے په سطح باندے وی، که د صحت د پالیسئ په شکل کښې دوئ د معزز ایوان اراکین په اعتماد کښې واخلی او کومو ته چه دوئ ښه اقدامات وانی، په هغې باندے دِ مونږه پوهه کړی او عوامو ته چه د دے نه څه تکالیف دی، په هغې باندے د مونږه دوئ پوهه کړو، نو انشاء الله د باهمی افہام تفہیم په ذریعه باندے به که د دوئ په دے پالیسئ کښې څه نقص وی نو دوئ به ئے پریږدی او که مونږ په غلطه یو نو انشاء اللهٰ تعالیٰ مونږ به غلطه خبره نه راتینګه وو۔

جناب سپیکر: هسے زه ستاسو نوټس کښې یو شے راولمه۔ چیف منسټر صاحب دا مهربانی کړے وه، هغوی وئیلی وو چه تاسو ډسټرکټ وائز ایم پی ایز راوغواړئ او هیلټھ سیکرټری به راخی او هغوی به تاسو(ته) دے کار باندے پوهه کړی۔ خو هغے کښې داسے کار اوشو چه د پشاور ډسټرکټ خو اوشو Immediately، چونکه وریسے د بجټ سیشن راغے، نو زه معافی غواړم، هغوی ما ته دا خبره کړے وه چه تاسو ایم پی ایز سره خبره اوکړئ نو ما بیا هغوی ته دا اووئیل چه چونکه دا بجټ سیشن دے نو د هغے نه پس به دا کار اوکړو۔ نو دا شے Already شوے دے۔ د پشاور ډسټرکټ زما ایم پی ایز رونړه ناست دی، هغوی ټولو له ئے په دے ښه Briefing ورکړے دے، باقاعده ټول هر څه ئے راوړی وو، Comments ئے پرے غوښتل، تجاویز ئے پرے غوښتل۔ نو دا خو ما ته پته ده چه که خیر وی، دا سیشن ختم شی نو انشاء الله تاسو له به په هغے باندے Briefing درکوی، دَ دے نه زه خبر یم۔

جناب احمد حسن خان: جناب! زمونږ خو دا خیال وو، لکه څنګه چه د بجټ د مشورو په سلسله کښې په مشورو کښې مونږ نظر انداز شوی وو نو شاید په

دے کښې به هم يو۔ لهٰذا دا زما مجبوري وه او زه ستاسو د راهنمائي مشکور يم۔

جناب سپیکر: دا ما تاسو ته صحیح خبره اوکړه۔

جناب احمد حسن خان: نور د ملاکنډ ډویژن، زما صرف يو تجویز دا دے جناب سپیکر، چه لویو هسپتالونو ته د ترقئ د دوئ چه کومه منصوبه بندی ده،هغے سره دا مسائل نه حل کیږی، تر څو پورے چه دوئ Referal هسپتالونه د ضلع او د ډویژن په سطح هسپتالونو له ترقی نه وی ورکړے۔ نو زما په خیال دوئ ته به دلته دا تکلیف وی، بے شکه نور هسپتالونه به جوړوی، په جمرود روډ باندے په هسپتالونه جوړیږی، په پشاور جی ټی روډ باندے به جوړیږی، دا خلق به راځی، پشاور Already congested دے۔ زما په خیال دوئ له پکار ده چه دوئ پخوانی هسپتالونو، د نن نه شل کاله مخکښې سیدو گروپ آف هاسپیټلز چه کوم حالت کښې وو د مرحوم والی صاحب په وخت، کښې نن زما په خیال د هغے حالت ته چه مونږ اوگورو، دے مخکښنی حکومت د ملاکنډ ډیویلپمنټ پیکج تحت دغے هسپتال له او نورو هسپتالونو له د Donors Agencies په ذریعه باندے د ډیرو لویو پیسو د اینبودو څه بندوبست کړے وو۔ زه په دے سلسله کښې دا عرض هم کول غوارم چه ټولے دا خبرے چه د سابقه حکومت ټولے خبرے ټهیک نه وے یا ټولے منصوبه بندئ چه کومے وے، قابل عمل نه وے یا د هغے د پاره څه نه وو، زه د دے سره اتفاق نه کوم۔ ډیرے خبرے به زمونږ ټهیک وے، ډیرے به غلطے وے۔ د هغے نشاندهی پکار ده۔ ډیرے خامیانے اوس هم کیدے شی، ډیرے ښه پالسیانے اوس هم راتلے شی۔ د هغے

نشاندهیانے کیدے شی۔ مونږ دوئ ته دا ښودلے شو چه په ملاکنډ ډیویلپمنټ پیکج کښې څه وو او تر څه حده پورے په هغے باندے عملدرآمد شوے وو او څه کول پکار وو۔ په هغے سلسله کښې د سیدو گروپ آف هاسپټلز ته او ډسټرکټ هاسپټل ته بشمول د دیر او د ملاکنډ ایجنسئ چه څه حق کیدو نو هغه د ورله ورکړی۔ د دے جذباتو د اظهار سره زه خپل کټ موشن واپس اخلم۔

<u>جناب سپیکر</u>: مسټر پیر محمد خان، ایم پی اے، پلیز۔ ټائم لږ دے جی۔

<u>جناب پیر محمد خان</u>: جناب سپیکر صاحب! دا محکمه ډیره اهمه ده۔ نو بعض محکمو باندے که مونږ لږے خبرے اوکړو یا ئے هسے Withdraw کړو نو څه خبره نه وی خو دا د صحت معامله ډیره اهمه محکمه ده۔ جناب سپیکر صاحب، جناب احمد حسن خان د سوات دا خبره اوکړه د سیدو گروپ آف هاسپیټلز، تیر کال هم بجټ کښې دا خبره راغلے وه۔ د هغه وخت منسټر، خټک صاحب دا وعده هم کړے وه چه هلته به مونږ یو نیورو سرجن ورکو او سی ټی سکین مشین به پکښې لګوؤ۔ هغه تر اوسه اونشو او په دے بجټ کښې هم څه رانغلل۔ دا بعضے څیز دلته کښې د دے بوجهه د کمولو د پاره هم ضروری دے خو هلته د هغے خلقو تکلیف ته هم کتل پکار وی خکه چه د نیوور سرجن زیات ضرورت په ایکسډنټونو کښې راځی او هلته کښې د Head injury او Coma په حالت کښې په بیهوشی کښې مریضان راوړے شی او ورته شوی وی نو که د هغے ځائے نه ئے راوچتوی او دلته پیښور ته ئے رارسوی، نو دلته کښې دوئ روزانه آپریشن هم نه شی کولے ځکه چه د نیورو سرجن په هفته کښې یو دوه ورځے وی د Operation days ، نو هغه

که لیټ کیږی، نو مړ کیږی- نو که هغوی ته هلته کښې مقامی نیورو سرجن او سی ټی سکین وی نو د هغوی به هلته کښې مقامی طور باندےعلاج کیږی خکه چه ایکسیډنټ کښې بعضے وخت ډیر مریضان په یو ځائے باندے هسپتال ته راورسولے شی او چه بیا ئے د لرے ځایونو نه راوړی نو هغه په لاره لاره کښې خراب شوی وی نو منسټر صاحب د مهربانی اوکړی او دے طرف ته دِ توجه ورکړی چه کم ازکم نیورو سرجن او ورسره سی ټی سکین د بهر ضلعو ته ورکړی- بل احمد حسن خان خبره اوکړه، ما په بجټ سپیچ کښې پرے لږه خبره کړے وه خو تاسو وئیلے وو چه بعضے خبرے په کټ موشن کښې راولئ- زمونږه د صحت سیکرټری صاحب ډیر قابل سړے دے، د هغوی په ټی وی هغه انټرویو به تاسو هم کتلے وی او کنه، ما خو کتلے ده نو هغوی وئیلی وو چه مونږ په کوهاټ روډ باندے یو هسپتال جوړوو، په جی ټی روډ باندے یو غټ هسپتال جوړو چه دا رش کم شی خو ورسره ئے پکښې دا خبره هم اوکړه چه په پیښور ښار کښې یو ډسپنسری ده او پینځه، شپږ ډاکټرانو ذکر ئے اوکړو چه د هغوی پکښې ډیوټی ده او مریضان ورته نه راځی، مریضان بیا هم ټول ایل- آر- ایچ او شیرپاؤ هسپتال ته راځی- نو چه دومره تجربه اوشوه چه په ښارکښې یو هسپتال شته خو هغے ته څوک نه ځی او هم دے دوؤه هسپتالو ته راځی نو که په کوهاټ روډ ورته هسپتال جوړ کړئ او که په جی ټی روډ ورته جوړ کړئ، زه د هغے خلاف نه یم، زه خو وایم چه په پیښورکښې څومره زیات جوړ شی نو ښه به وی خکه چه دا خو زمونږ مرکز دے- دلته ښه ښه سهولتونه پکار دی خو په دے باندے رش نه شی کمیدے- رش به هله کمیږی چه په هر ضلع کښې

دوئ بنه بنه هسپتالونه جوړ کړي چه مقامي طور د خلقو کارصحیح کیدے
شي لکه چه په بهر ملکونو کښ چه وي- که مقامي هسپتالونه جوړشي نو
پیښورته به رش نه راځي او دلته به خاص خاص داسے کیسونه راځي چه د
هغے بالکل هلته علاج نه کیږي، نو بیا به دلته راځي او دلته به ئے کار
کیږي- جناب سپیکر صاحب، زمونږ په سیدو ګروپ هاسپټلز کښ، څومره
غټ او اهم هسپتال دے، په هغے کښ اوس هم د ډاکټرانو چهبیس پوسټونه
خالي دي- په دے کښ سپیشلسټ او نان سپیشلسټ ډاکټران دي نو چه په یو
هسپتال کښ د ډاکټرانو پوسټونه د دوو، دریو، څلورو او شپږو کالو
راسے خالي پراته وي او که دومره شوے وے چه هلته په کنټریکټ باندے
بهرتي اوشوے، نو په هغے کښ ئے ورله هم ورنه کړل- نو آخر د خلقو
خدمت به څنګه اوشي؟ پکارخو دا ده چه په هغے کښ Over staff وے لیکن
دلته په ایل ار ایچ او په شیرپاؤ کښ Over staff شته خو هلته کښ الټا هغه
خپل سټاف نه پوره کیږي - دے طرف ته دِ توجه ورکړي چه هغه سټاف
ورله پوره کړي چه د خلقو هغه ضروریات پوره شي- جناب سپیکر
صاحب! په هسپتالونو کښ اکثر یو خو د دوائیانو کوم Purchasing چه
کیږي نو هغه یو خو غلط اوشي- په موقع باندے دوئ د بنه دوائیانو ټینډر
ورکړي او بیا د لاندے کمپنو والا مال واخلي مثلاً دلته کښ هدایت الله خان
آفریدي ډاکټر دے نو دے په دے باندے زیات پوهیږي، دے په دے فیلډ کښ
پوهیږي چه بعضے دوائیانے په یو نوم باندے، هغه Generic names چه کوم
دي نو په هغے کښ په یو نوم باندے مختلفے کمپنئ دوائیانے جوړه وي مثلاً
سپټران شو، د یو کمپنئ سپټران دے، اصلي نوم ئے "کوټراني میتهازول"

دے، بله کمپنی چه ده، هغه ورته "ټرانمیکس" وائی او بله ورته بل نوم وائی، نو دوئ هغه د "کوټرائی میتهازول" په نوم باندے ئے واخلی نو بیا دلته کښ Purchasing د حکومت نه دَ "سپټران" په قیمت باندے اوشی ځکه چه دا قیمتی ده، Payment اوشی او هلته دوائی د هغه ردی کمپنئ نه مال واخلی- ډیر ځیزونه ما هسپتالونو کښ لیدلے دی چه هغه بالکل جم شوی وی- هغه دوائی چه وی نو هغه جم شوی وی اومریض له دَ ورکولو نه وی ځکه چه دوئ ردی مال اخستے وی- بل دوئ سره هسپتال کښ ایکسپائرډ دوایئانے وی، ویکسین پکښ ایکسپائرډ وی- هغه لیونی سپی چه ځوک اوخوری نو هغے سپی چه چیچلی وی نو هغه ته د ویسکینو ایکسپائرډ انجکشن اوکړی نو د هغے هغه ته هیڅ فائده اونه شی او اُلټا هغه غریب لیونے شی او ایکسپائر شی- نو د ایکسپائرډ دوائیانو خاص خیال ساتل غواړی ځکه چه دا خو د انسان د مرګ او د ژوند مسئله ده- نور کوم ویکسین چه دوئ هسپتالونو کښ ساتی نو هغه هم ایکسپائرډ وی- په دے هسپتالونو کښ ډیرے دوائیانے ما پخپله داسے لیدلی دی چه هغه د سترګو دوائیانے وی، آننتمنټ ډی یا نور داسے دوائیانے، نو چه په هغے باندے سرے ایکسپائری ډیټ اوګوری نو هغه ایکسپائر شوی وی- نو زه په دے نه یم پوهه چه یا خو دوئ د کمپنئ نه ایکسپائرډ او ردی شوی دوائیانے اخلی او یا خو ئے دوئ دلته کښ چا له ورکوی نه او ساتی ساتی ئے چه ایکسپائر شی نو بیا ئے را اوباسی- مونږ ته خو دا اطلاع ده، ډیر داسے کیږی چه کله اصلی مال راشی نو هغه بهر خان له خرڅوی- دَ دوئ په سټورونو کښ خرد برد ډیر زیات دے- دَ دوئ چه Purchase کیږی، تاسو چه ګهرئ ته اوګورئ نو زما ساه

دوبیږی ---------

جناب سپیکر: پیر محمد خان چه خپل ټائم پوره واخلی بلکه زیات، نو بیا په آخره کښې رول 20 ما ته ښائی چه سپیکر صاحب، ټائم ختم دے۔ د نورو د پاره رول 20 ښائی، خان د پاره نه ښائی۔

جناب پیر محمد خان: دا خبره بس شارټ کومه سر۔ جناب سپیکر! د سیدو گروپ هاسپټلز د پاره زمکه اغستے شوے وه نو زمکه چه اغستے شوه نو دَ دے خائے نه ورله کمیټی مقرر شوه۔ عدیل صاحب پکښې وو او هلته کښې لاړو د هسپتال سره کومه جُخته او اَرزان قیمت باندے کومه زمکه چه وه نو هغه نے پرینبے وه، هغه نے نه ده اغستے او د هسپتال نه لرے چه په مینځ کښې خوړ هم دے، د بل چا زمکه پکښې هم وه او سی اینډ ډبلیو والا هم مسترد کړے وه چه په دے کښې په Protection wall باندے ډیره لویه خرچه راځی، بیا پرے پل هم جوړول غواړی، نوهغه زمکه نے په گران قیمت باندے واغسته۔ په هغه وخت کښې هغه نزدے زمکه نے ورله په پنتالیس، پچاس روپے فټ ورکوله، نو دوئ په پچانوے یا نوے روپے فټ واغسته او دا نزدے زمکه نے وانغسته۔ د هغے ځیز تر اوسه پورے څه معلومات اونه شو، متنازعه زمکه نے اغستے ده او صفا زمکه نے پرینبے ده۔ نو پکار دا دی چه منسټر صاحب د هغے غور اوکړی ځکه چه هغه متنازعه زمکه نے چه اغستے ده نو هغه هم له تر اوسه حواله نه شوه۔ بیا په هغے باندے د Building کار، پوره ډیرے ضروری خبرے دی، ما خان سره ډیر شے پوائنټس لیکلی دی جناب سپیکر صاحب، آخری او شارټ خبره به بله دا اوکړم چه دوائیانے خو ډیرے گرانے دی او د مریضانو د پاره هم ډیر لونے تکلیف دے او د

مریضانو د پاره دا یونانی دوانیانے او هومیو پیتهک والا دواتیانے اَرزانے هم دی او کار پرے هم کیږی، ډیر ښه کار پرے کیږی، نو که دویَ داسے اوکړی چه هسپتالونو کښې د ورسره دغه شعبے هم کهلاؤ کړی نو زما خیال دے چه مریضانو ته به د هغے نه ډیره فائده وی۔ ډاکټران د هغوی سره ضد او عناد نه کوی چه طبیب او حکیم پکښې نه پریږدی یا پکښې هومیو پیتهک نه پریږدی۔ زمونږ مقصد خو د مریض فائده ده۔ ځکه چه زما خپله علاقه کښې کنفرم کینسر کیسونه راغلی دی او زما په علاقه کښې حکیم دے ډیر ښه او مشهورحکیم دے او هلته خدائے پاک ښه کړی دی او ټهیک شوی دی۔ نو که دغسے دویَ دلته کښې دے طب ته ځائے ورکړی نو مونږ به ورته ښه ښه حکیمان اوښایو ، په پیسو نه ، Free treatment به کوی۔ شکریه ، جناب سپیکر صاحب۔ ستاسو نه زیاته په محسن باندے تادی ده۔

Mr. Speaker: Mr. Najmuddin Khan, MPA, please.

جناب نجم الدین: جناب سپیکر! ډیره شکریه۔ د منسټر صاحب به زه ډیر ټائم نه اخلم۔ خپلے اهمے اهمے مسئلے به ورته وړاندے کړم ځکه چه ایجوکیشن منسټر زمونږ ډیرے خبرے اومنلے ، کیدے شی چه دویَ هم دَ اسمبلیَ په فلور باندے اعلان اوکړی۔ خو بل طرف ته دَ حکومت دے بنچونو ته اوګوریَ ډیر کمے دے پکښې، وخت په وخت باندے روان دی۔

آوازیں: ډیر دی جی، ډیر دی۔

جناب نجم الدین: زه منسټر صاحب ته درخواست کوم ، خپل Proposal ورکوم، ډیر تقریر نه کوم۔ دا کوم هسپتالونه چه دی، په دے کښې اکثر ډسټرکټ هیډ کوارټر هسپتال یا چه په صوبه کښې کوم هسپتالونه دی، نو په

دے کښې آپریشن تهیټر، Anaesthesia مشینان، دا ټول خراب دی۔ زما منسټر صاحب ته دا درخواست دے جي چه په دے باندے دوئ څه عملدرآمد اوکړی د دے د ټهیک کولو د پاره ځکه چه دا څیزونه نه وی نو علاج بیا ډیر ګران وی۔ اکثر دوائیانے، کومے دوائیانے چه د هسپتالونو نه سټور ته راځی نو د هغے هیڅ څه تپوس نشته دے۔ د سټورونو نه ډاکټران په خپل لیول باندے دوائیانے بهر ته اوړی او په پرائیوټ سټورونو باندے ئے خرڅوی۔ نو د دے د هم تدارک اوکړی ځکه چه د دے د پاره هم غټ فنډز اینبودے شوے دے۔ ورسره ورسره هسپتالونو کښې ډیر ډاکټران په ډیوټئ باندے نه وی، دے غټو هسپتالونو کښې خو نه، خو زمونږ د ډیر په علاقو کښې هغوی اکثر د هسپتال د ډیوټئ په ټائم کښې پرائیویټ پریکټس کوی، نو په دے باندے د هم پابندی اولګولے شی ځکه چه درے سوه روپئ، دوه سوه روپئ فیس اخلی۔ زه دے ته حیران یم سپیکر صاحب، نو زما خیال دے چه په دے باندے د عملدرآمد اوشی۔ احمد حسن خان اووئیل چه زمونږ په وخت کښې حکومت دولس سوه ډاکټران بهرتی کړی وو، مونږ خو وئیل چه د مینډیټ حکومت به راشی او دا به ئے راټینګ کړی او بیا به مکمل ډیوټی به ترینه واخلی۔ په هغه ټائم کښې جی مونږ هر آر ایچ سی له یو ایمبولینس هم ورکړے دے، نن صبا د مریضانو د اوړو راوړو د پاره پوره انتظامات شوی دی - زه جی خصوصاً په هغے باره سو ډاکټرانو په سلسله کښې یوه خبره کوم جی په کلکوټ کښې یو ډاکټر دے او هغه په دریو کالو کښې هډو د سره حاضر شوے نه دے۔ په هغه باندے خپل افسر لیکلی دی، چا چه د هغه چیکنګ کړے دے چه دے د یو کال نه غیرحاضر دے لیکن د ده خلاف هیڅ

څه ایکشن وانغستے شو۔

آوازیں، داد کوم حکومت خبره ده۔

جناب نجم الدین، دا د 1993 یا د 1994 خبره ده۔ زما خیال دے که د دوئ دا رویه وی نو بیا خو دا بجټ نه پاس کیږی۔ دوئ خو قصداً عمداً مونږ په خبرو کښں الجهاوئ چه دا بجټ پاس نه شی خو مونږ به ټهیک دا بجټ پاس کوؤ۔ دا بجټ به پاس کیږی له خیره سره۔ (قہقہے) صبا له به له خیره سره دا خبره ختموؤ (تالیاں ـــ قہقہے) زه دا درخواست کومه جی، زمونږ تحصیل هیډ کوارټر هسپتال دیر چه کوم دے، اوس خپلو مسائلو له راځم، کوم چه زمونږ علاقے سره تعلق لری، هغے کښں یو چلډرن سپیشلسټ دے، ګائنی سپیشلسټ ده، سرجیکل سپیشلسټ دے پکښں، سینیئر میډیکل افسر دے پکښں، وومن سینیئر میډیکل افسره ده پکښں، ډینټل سرجن دے پکښں، دا ټول په اتهاره ګریډ کښں دی او ورسره نور لس ډاکټران دی۔ په دے کښں جی یو ډاکټر ګریډ سترہ والا هلته ډیوټی کوی او هغه د هغے ټول هسپتال انچارج دے۔ باقی چه دا کوم ډاکټران دوئ لیکلی دی، درے څلور ورسره نور ډاکټران دی، زما منسټر صاحب ته دا درخواست دے، زه د منسټر صاحب ډیره شکریه ادا کومه، دا د دے حکومت نه، د دے مینډیټ د حکومت نه، چه کوم مینډیټ دوئ اغستے دے، نو دا مینډیټ لکه د پری د دوئ مرئ ته پروت دے او انشاء الله دا پرے به مونږ راکاږو او د دوئ نه به د دے تپوس کوؤ، زما درخواست دا دے چه بل په دغے هسپتالونو کښں، زمونږ د دیر په هسپتالونو کښں یو رواج جوړ شوے دے، وائی چه جنرل ډیوټی ده، د جنرل ډیوټئ دا مطلب دے جی چه په یو

هسپتال کښې Strength دے، هغه خو د هغې د ضرورت مطابق مقرر شوی وی خو هلته کښې د جنرل ډیوټئ د پاره شپږ اته کسان بدل کړی، هغه خائے په خائے خپل میډیکل سټوروونو کښې ناست وی او ډی ایچ او صاحب وائی چه نه دا په جنرل ډیوټئ باندے دئ۔ زما دا درخواست دے جی چه د دے جنرل ډیوټئ څه پروسیجر دے او دا د څه د پاره شروع شوے دے؟ په دے کښې خو سبا له منسټر صاحب په مونږ باندے مهربانی کړے ده، مونږ به Meeting هم کوؤ او زما دا خیال دے چه منسټر صاحب به دے خبرو ته توجه ورکړی۔ زما د دغې هسپتالونو دا سټاف به هم پوره کړی۔ دغه علاقه ډیره Backward area ده۔ غریبان خلق دی۔ زما د ذهن مطابق لکه څنګه چه ایجویکشن منسټر صاحب په مونږ باندے مهربانی اوکړه، داسے به زمونږ دا منسټر صاحب هم په مونږ مهربانی اوکړی او زمونږ د دے مسائلو حل کولو د پاره به دَ دے اسمبلئ په فلور باندے تاسو سره وعده اوکړی او زمونږ دا مسئلے به هوارے کړی۔

<u>Mr . Speaker:</u> Mr . Yousaf Khan Tarand , MPA , please . Mr . Muhammad Yousaf Khan Tarand.

<u>جناب محمد یوسف خان</u>: جناب سپیکر! د وخت د کمی په وجه باندے به زه خپله خبره را لنډه کرمه۔ ستاسو په وساطت سره زه منسټر صاحب ته دا ګزارش کوم چه محکمه صحت ډیره اهمه محکمه ده او د دے د پاره حکومت ډیر وسیع خرچ کوی، د دے د پاره چه عوامو ته سهولت اورسی او په ټائم باندے خلقو ته د علاج معالجے سهولت ملاؤ شی۔ حقیقت دا دے جی چه دغه توقع نه پوره کیږی۔ نو ستاسو په وساطت باندے زه منسټر صاحب ته دا

درخواست کومه چه Young دے، خوان دے، ښه تعلیم یافته دے، دے طرف ته د توجه ورکړی او خاصکر غرنیزے علاقے چه کومے دی چه په هغے کښ کوم هسپتالونه دی یا بی ایچ یوز دی یا دسپنسرئ دی، په هغے کښ یو طرف ته دَ سټاف د غیر حاضرئ په بنیاد باندے خلقو ته هغه سهولت نه ملاویږی او بل د دوائیانو د پاره چه کوم ډیر لوئے رقم حکومت مختص کوی نو هغه دوائیانے هم خلقو ته نه ملاویږی او دے سره به زه خپل کټ موشن واپس واخلم او خپله خبره به ختمه کړم۔

Mr. Speaker: Thank you. Mr. Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA , please.

نوابزادہ محسن علی خان: Thank you, Sir. جناب سپیکر صاحب! میں تو اپنی کتاب بھی آج لانا بھول گیا ہوں۔ میں وزیرصحت کو چند تجاویز دینا چاہتا ہوں جناب سپیکر صاحب۔ ایک تو یہ ہے جناب سپیکر صاحب، وزیر اعظم پاکستان نے بجٹ اجلاس سے پہلے قوم سے خطاب کیا تھا اور انہوں نے خود بہت دردمندانہ واقعات بیان کئے تھے، میں اس کو دوبارہ دہرانا نہیں چاہتا، انہوں نے بھی شاید ان کی تقریر سنی ہوگی مگر میں وزیر صحت سے یہ درخواست کرنا چاہوں گا کہ جناب، جو واقعات وزیر اعظم صاحب نے خود بیان کئے تھے، ایسے واقعات اس صوبے میں ہر روز ہوتے ہیں، تو کم سے کم یہ اپنے سارے عملے کو Through-out the Province یہ ہدایت دیں کہ اگر کوئی بھی مریض، جو زخمی ہو، چاہے وہ ایکسیڈنٹ میں ہو، چاہے اس کو گولی کا نشانہ بنایا گیا ہو، جیسے بھی ہو، اس کو کم سے کم Immediate first aid دے دینا چاہئے۔ یہ نہیں کہ جناب، جاؤ پولیس میں پرچہ کاٹو، یہ کرو، وہ کرو، آگے پیچھے بھاگو۔ He must be immediately given treatment ایک تو میں ان سے یہ درخواست کروں گا

جناب سپیکر صاحب۔ دوسری میری یہ گزارش ہے ان سے اور میں ذرا بی بی کی بھی توجہ چاہتا ہوں اس میں، کہ ہماری ساری توجہ ڈاکٹروں کی طرف ہے، Total concentration ڈاکٹرز کے اوپر ہے اور میں یہ سمجھتا ہوں جناب سپیکر صاحب، کچھ پالیسی میں تبدیلی لانی چاہئے۔ میں یہ سمجھتا ہوں جی ابتدائی ایڈ جو مریض کو ملتی ہے That is always given By paramedics، جناب سپیکر صاحب اگر آپ دیکھ لیں دنیا میں، کہیں بھی دنیا میں چلے جائیں، ایمبولینس والے جو ہیں، جو آپ کو ہسپتال لے کے آتے ہیں، وہ پیرامیڈیکس اگر صحیح اپنا کام کریں تو وہ مریض بچ جاتا ہے، عموماً بچ جاتا ہے، ہاں اگر بہت زیادہ اس کی حالت خراب ہو تو وہ دوسری چیز ہے۔ But majority cases میں اگر اس کو صحیح امداد دی جائے تو اس کے بچنے کے چانسز بہت زیادہ ہوتے ہیں۔ یہاں پر جناب سپیکر صاحب، میں یہ سمجھتا ہوں کہ پیرا میڈیکل سٹاف کی جو ٹریننگ ہے، وہ انتہائی کمزور ہے بلکہ میں کہونگا کہ نہ ہونے کے برابر ہے، "انستھیزیا" کو آپ لے لیں جناب سپیکر صاحب، میں خاصکر وزیرصحت صاحب سے یہ عرض کرنا چاہتا ہوں کہ یہ ایک ایسا شعبہ ہے کہ ڈاکٹروں کی خود یہ کوشش ہوتی ہے کہ جناب ہمیں "انستھیزیا" میں نہیں ڈالا جائے، وجہ کیا ہے کہ ان کو پرائیویٹ پریکٹس سے تقریباً" کچھ بھی نہیں ملتا ہے، صرف تنخواہ پہ ان کو نوکری کرنا پڑتی ہے۔ تو ہر ایک کی یہ کوشش ہوتی ہے کہ بھئی میں مین سٹریم میں چلا جاؤں اور انستھیزیا سے اپنے آپ کو باہر رکھوں۔ جتنے بھی ہسپتال ہیں صوبہ سرحد میں، ضلعوں میں ہوں، تحصیل میں ہوں جہاں پر یہ آپریشنز کئے جا رہے ہیں، ہر ایک جگہ پہ "انستھیزیا" کی تکلیف ہے۔ میری یہ گزارش ہوگی وزیرصحت صاحب سے کہ کم سے کم اگر وہ خود نہیں کرنا چاہتے، وہ اس کے اوپر ایک ماہرین کی کمیٹی بناتے ہیں یا اسمبلی کی کمیٹی بناتے ہیں، وہ یہ دیکھیں کہ جناب، ایسی کونسی سہولتیں آپ ان ڈاکٹروں کو دے سکتے ہیں جو انستھیزیا کے پیشے کو اپنائیں تاکہ

ان کو بھی کچھ ایسی مراعات ملیں کہ وہ اس شعبے میں جائیں؟ جناب سپیکر صاحب، جہاں تک صحت کا تعلق ہے، اس پر گھنٹہ تقریر کی جا سکتی ہے۔ سی ٹی سکین کی آپ نے بات سنی۔ یہ کہہ رہے ہیں جناب سی ٹی سکین سیدو میں لگوائیں، بالکل لگانا چاہئے، میں نہیں کہتا کہ نہیں لگانا چاہئے۔ ہر ایک جگہ لگنا چاہئے۔ میں جب وزیر خزانہ تھا تو میں نے بجٹ تقریر میں کہا تھا کہ ہر ایک ڈویژنل ہیڈ کوارٹر میں انشاء اللہ تعالیٰ ہم سی ٹی سکین لگائیں گے۔ سب سے پہلے آپ انجام دیکھیں۔ جو ہم نے سی ٹی سکین پشاور میں لگائی ہے لیڈی ریڈنگ ہاسپیٹل میں، وہ وجہ کیا ہے جناب سپیکر صاحب، کہ مریض لیڈی ریڈنگ ہسپتال جاتا ہے، وہاں پر سی ٹی سکین اکثر آپ دیکھیں گے کہ وہ کام نہیں کرتے اور وہ کہہ دیتے ہیں کہ جناب، آپ باہر سے جاکر سی ٹی سکین کراکر لائیں کیونکہ لیڈی ریڈنگ ہسپتال میں میرے خیال میں پانچ سو روپے ہے یا ہزار روپے ہیں، جو وہ چارجز لیتے ہیں۔ وہ مریض اگر وہ باہر بھیج دیں تو کم سے کم اس مریض کو تین ہزار روپے اپنی جیب سے خرچ کرنا پڑیں گے ایک سی ٹی سکین کرنے کیلئے۔ مجھے صحیح فگر معلوم نہیں۔ حیات آباد میڈیکل کمپلیکس ہے جناب سپیکر صاحب، حیات میڈیکل کمپلیکس کیلئے ایک ایم آر آئی مشین Provide کی گئی تھی اور سننے میں یہ آرہا ہے جناب سپیکر صاحب، مجھے اس کا مکمل علم نہیں ہے مگر سننے میں یہ آرہا ہے کہ OECF نے اس کیلئے Loan بھی دیا تھا، ٹینڈر بھی ہوا تھا، ایک قسم کا وہ ٹینڈر، کمیٹی نے اس کو Approved بھی کیا تھا مگر سننے میں یہ آرہا ہے کہ اس کو ڈراپ کر دیا گیا ہے۔ جناب سپیکر صاحب! سی ٹی سکین اور ایم آر آئی میں زمین اور آسمان کا فرق ہے۔ آج اس صوبے کے کتنے لوگ ہیں جن کو MRI کی ضرورت پڑے اور اس کیلئے اگر ریفر ہوں تو جناب سپیکر، یا تو ان کو لاہور جانا پڑتا ہے یا کرچی جانا پڑتا ہے۔ میں سمجھتا ہوں جی کہ یہ وجہ کیا ہے کہ محکمہ صحت وہ ایم آر آئی مشین جس کیلئے پیسے بھی ان کو دیئے گئے ہیں اور OECF loan بھی اس

کیلئے موجود ہے، وجہ کیا ہے کہ وہ اس چیز کو لگانے سے گریز کر رہے ہیں؟ میں وزیر صاحب کے علم میں اور بیگم صاحبہ کے علم میں یہ بات لانا چاہتا ہوں کہ ملاکنڈ پیکج کی باتیں ہوئیں، ملاکنڈ پیکج کو ڈراپ کر دیا گیا ہے، اگر بحال ہو سکتا ہے تو ان کی مہربانی ہوگی۔ اگر نہیں بحال ہو سکتا ہے، وہ رقم جو Spanish Government نے ملاکنڈ پیکج کو دینے کیلئے صوبہ سرحد حکومت کو جو آفر دی تھی جناب سپیکر صاحب، وہ 30 years loan تھا، میں یہ بات آپ کے ریکارڈ پر لانا چاہتا ہوں کہ وہ تیس سالہ قرضہ تھا، 10 years اس میں آپ کیلئے Grace period تھا اور اس میں مزے کی بات یہ ہے کہ وہ واحد ایک ایسا قرضہ تھا جس میں کوئی Rupee component حکومت صوبہ سرحد کو ضرورت ہی نہیں تھی۔ پہلے تو آپ اگر بجٹ کرتے ہیں، تو آپ کو Rupee component رکھنا پڑتا ہے، اس کے بعد آپ فارن ایکسچینج کو استعمال کر سکتے ہیں۔ Spanish Government نے آپ کو ایک ایسی آفر دی تھی جس میں آپ کو Rupee component یعنی آپ کو پہلے پیسہ دینا نہیں پڑ رہا تھا، وہ آپ کو سامان سپلائی کرنے کیلئے تیار تھی At the rate of 4 percent آپ نے تقریریں سنی ہیں جناب سپیکر صاحب، بجٹ میں 4 % میں 30 years loan صوبہ سرحد کی حکومت کو کون دے گا؟ اس کو کیوں رد کیا جا رہا ہے؟ وجہ کیا ہے کہ محکمہ صحت اس کو استعمال کرنے کیلئے تیار نہیں ہے؟ میں یہ پوچھنا چاہتا ہوں جناب وزیر صحت صاحب سے، کیا سیمین کمپنی سپین میں نہیں ہے؟ کیا فلپس کمپنی سپین میں نہیں ہے؟ جتنے یہ Large Corporations ہیں، انٹرنیشنل کارپوریشنز ہیں، ان سب کے دفتر وہاں موجود نہیں ہیں؟ وجہ کیا ہے کہ صوبہ سرحد کی حکومت ان سے اس پر بات کرنے کیلئے بالکل تیار نہیں ہے حالانکہ EAD (اکنامک آفیئرز ڈویژن) نے اس چیز کو منظور بھی کیا ہے اور اس کیلئے صوبہ سرحد کی حکومت کے سامنے انہوں نے پیشکش کی ہے کہ یہ پیسے آپ ہم سے

ے لیں؛ تو میری یہ گزارش ہے وزیرصحت سے کہ وہ ماہرین کی کمیٹی بنائیں، چاہے وہ اسمبلی کے حکومتی پارٹی کی کمیٹی بنائیں، وہ اس چیز کو دیکھیں کہ جو سامان ان ہسپتالوں کیلئے چاہئے اور اگر ان کو اچھی شرائط پر مل سکتا ہے اور اس وقت جو مالی بحران ہے، حکومت کے پیسے نہیں ہیں، آپ کو ایک چیز مفت مل رہی ہے، آپ ایسا سمجھیں کہ آج آپ کو وہ چیز مفت مل رہی ہے، تیس سال میں آپ نے جاکر پھر اس کی Payment کرنی ہے اور دس سال تو آپ کو چھوٹ مل گئی ہے۔ For ten years you don,t make any payment, تو میں یہ سمجھ نہیں پا رہا ہوں کہ اس میں محکمے کو تکلیف کیا ہے کہ وہ کہتا ہے کہ نہیں جی، یہ ہم استعمال کرنے کیلئے تیار نہیں؛ یہ بھی اس کے اوپر ذرا غور کر لیں اور آخر میں میں ایک اپنے حلقے کے بارے میں ان سے گزارش کروں گا جناب سپیکر صاحب ، انہوں نے یہ مہربانی کی ہے کہ کرک ضلع کا جو ہاسپٹل ہے، اس کیلئے اس سال جناب وزیر خزانہ، وزیر اعلیٰ صاحب نے اپنی تقریر میں بھی کہا کہ اس ہسپتال کو اس سال مکمل کیا جائے گا، یہ ان کی بہت مہربانی ہے کہ اس سال اس ہسپتال کو مکمل کیا جائے گا مگر میں صرف وزیر صاحب کے نوٹس میں یہ لانا چاہتا ہوں کہ ہسپتال تو مکمل ہو جائے گا، اس میں کوئی شک نہیں ہے، مین بلڈنگ اور اس کا سب کچھ مکمل ہو جائے گا مگر جب تک آپ فیز 2 جو ہاسٹل ہے، جو کہ ڈاکٹرز کے گھر ہیں، اگر آپ وہ نہیں بنائیں گے تو مکمل ہاسپٹل کے ساتھ آپ کریں گے کیا؛ ڈاکٹر کہاں جائیں گے جناب؛ تو میں ان سے یہ گزارش کرونگا کہ اس کے اوپر بھی ذرا نظر ثانی کرلیں۔

Mr. Speaker: Mr. Akram Khan Durrani, MPA, please.

جناب اکرم خان درّانی: جناب سپیکر صاحب! ستاسو شکریه۔ زه زیاتے خبرے کول نه غوارم، یو څو خاص تجویزونه د منسټر صاحب په مخکښې وړاندے کوم۔ هغه دا دی چه یو څو دلته دا زمونږ په صوبه کښې یو طریقه

کار دے چه د نمر د ختمیدو نه وروستو د پوسټ مارټم رپورټ نه شی تیارے دے او چه چرته داسے یوه حادثه اوشی چه څوک قتل کړے شی یا څه بله واقعه اوشی نو هغه هلته په هسپتال کښې پروت وی ټوله شپه۔ ورسره پوره خاندان او ټول رشته داران ټوله شپه په هغه هسپتال کښې ناست وی۔ نو پکار دا دی چه یا خو په دے کښې څه تبدیلی راشی چه دا پوسټ مارټم رپورټ د شپے هم تیارے دے شی او که چرته په دے کښې څه قانونی طریقه کار وی نو چه هغه ورته بدل کړے شی او که هغه چرته نه وی نو بیا چه دومره اوکړے شی چه په هغه مرده خانه کښې د شپے د تیرولو د پاره د فریزر یا لکه دلته چه د ایل۔آر۔ایچ سره دے یا د بل هسپتال سره کوم انتظام دے چه هغه انتظام د نورو ضلعو په هسپتالونو کښې ورسره هم اوشی۔ بل جی په دے موجوده بجټ کښې ډاکټرانو باندے انکم ټیکس کافی حد پورے کم شوے دے نو چه دوئ سره دا رعایت شوے دے نو پکار ده چه ډاکټران هم د درے سوو نه هغه خپل فیس دوه سوه ته راولی۔ لکه لویه مهنګائی ده او اکثر غریبان خلق زیات بیماران کیږی نو د درے سوه په ځائے باندے په دوئ باندے هغه فیس دِ هم ورسره دوه سوه روپئ کیږدی۔ بله دا ده جی چه دلته همیشه خبره کیږی چه دلته رش دے په دے پیښور باندے، نو په یو ځائے کښې بل هسپتال نشته دے چه چرته یو ښه هسپتال راځی نو هم په دے ځائے کښې جوړیږی۔ پوره په جنوبی اضلاع کښې د ډی۔آئی۔خان، منسټر صاحب هم زمونږ د جنوبی اضلاع دے، د ډی۔آئی۔خان نه اونیسه تر کرک او کوهاټ پورے یو هسپتال داسے نشته جی چه پکښې خپل بیمار څوک هلته داخل کړی، نه پکښې د هډوکو ډاکټر شته، نه پکښې د نیورو شته، نو هر

سرے غوارِی چه هلته ما ته سهولت وی۔ نو خصوصی طور باندے لکه اوس جی زمونږ په دے اے-ډی-پی کښې د بنوں د پاره یو هسپتال شته نو زمونږ گزارش دے چه په دے ډویژنل هیډکوارټر هسپتال باندے دِ هم کار شروع شی او ورسره ورسره چه کوم سهولیات لکه دلته هسپتالونو کښې چه دی، هغه دِ هلته خلقو ته هم مهیا کړے شی۔ ورسره جی بله خبره دا ده چه زمونږ یو بی- ایچ- یو ده چه په 1990 کښې مونږ ممبران وو، هغه وخت کښې Building تیار شوے دے او فهیمدل امیر خان نے نوم دے او په هغه کښې اوسه پورے صرف بجلی پاتے ده، د بجلئ په وجه باندے تر اوسه پورے شروع شوے نه دے۔ بل جی زمونږ د لکی هسپتال وو، هغے باندے تقریباً په دے مخکښې دوه کالو کښې پینتیس ملین روپئ خرچ شوی دی۔ نو اوس مونږ دا غوارو جی چه په دے کال کښې هم هغے د پاره څه درے لکهه روپئ ایخودے شوی دی، څه پیسے د هغے ته هم زیاتے کړے شی څکه چه زمونږ د لکی خلقو ته هم هلته تکلیف دے۔ بل گانډی خانخیل کښې یو بی- ایچ- یو ده چه هغه 1987 کښې جوړ شوے ده او شروع هم ده۔ د هغه وخت نه پکښې نه بجلئ شته او نه پکښې ټرانسفارمر شته۔ نو په هغے کښې دِ دَ ټرانسفارمر څه انتظام اوکړے شی۔ باقی زمونږ منسټر صاحب ډیر ښه سړے دے او زمونږ د ایریا دے، زمونږ ترینه توقعات دی۔ لکه څنګه چه هر څوک خپلے ایریا ته گوری، نو دے به خصوصی طور سره د جنوبی اضلاع خیال اوساتی۔ شکریه۔

Mr . Speaker: Thank you . Honourable Minister For Health , please.

وزیرصحت: جناب سپیکر صاحب! معزز اراکین نے محکمہ ہیلتھ کے بارے میں جو تجاویز دی ہیں اور اس میں خامیوں کی نشاندہی کی ہے، اس میں کوئی شک نہیں کہ یہ حقیقت ہے کہ "Health is wealth" اور صحت کے بغیر انسان ادھورا ہے اور اگر جو دوسرے معنوں میں Wealth ہے، اگر وہ بھی انسان کے پاس ہو تو وہ کسی کام کی نہیں جب تک انسان کی Health نہیں ہے۔ اس مسئلے میں ---------

جناب سپیکر: میرے خیال میں اسی ایک بات پر سب اپنی کٹ موشنز واپس لے لیں۔ (قہقہے ___ تالیاں) اور منسٹر صاحب نے آپ سب کے پوائنٹس نوٹ کئے ہیں۔

منسٹر صاحب! تاسو د دوئ ټولو پوائنټس نوټ کړی دی؟

وزیرصحت: ان کے تمام پوائنٹس میرے پاس نوٹ ہیں جی اور انشاء اللہ ان کی جو تجاویز سامنے آئی ہیں، میں ان کو یقین دلانا چاہتا ہوں کہ ----------

جناب سپیکر: صرف ان تیس لاکھ روپے کی بات کریں جو تیس سالہ قرضے کے بارے میں کی گئی ہے، اس پر کچھ بات کریں۔

وزیرصحت: جناب سپیکر! جہاں تک میرا بحیثیت منسٹر ہیلتھ، ان کو پتہ ہے کہ دو مہینے بھی نہیں ہوئے ہیں یا دو مہینے ہی ہوئے ہیں۔ یقیناً اس میں اگر اس قسم کا کوئی لون میسر ہے اور اس صوبے کیلئے ہم اس سے کوئی فائدہ اٹھا سکتے ہیں تو یقیناً ان کی تجاویز کو شامل کر کے اس پر عمل کیا جائے گا۔ (تالیاں)

جناب سپیکر: بس او شو جی۔ زما خیال دے تاسو له نے ایشورنس درکړو۔

وزیرصحت: میں مشکور ہوں جناب سپیکر، اپنے بھائیوں کا کہ انہوں نے مجھ پہ اعتماد کرتے ہوئے میرے جواب دینے سے پہلے مجھ پہ اعتماد کیا ہے۔ میں ان کا نہایت مشکور ہوں۔

Mr. Speaker: The cut motions are lost, being withdrawn. The

question is:

"that a sum not exceeding rupees two thousand, one hundred & fifty five million, four hundred and nineteen thousand only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of HEALTH SERVICES."

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The "Ayes" have it. Demand is granted. This is the last one.

لږ سوچ پرے اوکړئ جی، دا اوس 18 ته اورسیدو او صبا Last ورځ ده Tomorrow will be the last day for these cut motions. نن دا آخری کوو. This is the last one, 18th.

وزیر خوراک: جناب سپیکر صاحب! که داسے وی نو یو څلور پینځه نور هم واخلئ۔

جناب سپیکر: نه دا Last به اوکړو۔ (شور)

Mr. Speaker: The honourable Minister for Public Health Engineering, to move his Demand No. 18.

Minister for Public Health Engineering: Thank you very much, Sir. Mr. Speaker Sir, I beg to move:

"that a sum not exceeding rupees five hundred, thirty one million, five hundred and ninty-nine thousand only, be granted to the

Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of PUBLIC HEALTH."

Mr. Speaker: The motion is:

"that a sum not exceeding rupees five hundred, thirty-one million, five hundred and ninty nine thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of PUBLIC HEALTH."

Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, to please move his cut motion on Demand No. 18.

وزیر آبپاشی و آبنوشی: سپیکر سر، میں Request کرونگا جی اپنے بھائیوں سے کہ مہربانی کرکے یہ بھی کٹ موشن اگر Withdraw کر دیں تو وقت بچ جائیگا۔

جناب پیر محمد خان: ٹھیک دہ جی، Withdraw شو۔ (شور)

ایک معزز رکن: زما خیال دے، نن دا سیشن د ختمیدو نہ دے۔

ایک آواز: ان کو اپنا کام کرنے دیں جی۔

جناب سپیکر: نو لو Withdraw کړو جی؟

ایک آواز: او، withdraw شو۔

جناب نجم الدین: نہ، بالکل نہ Withdraw کوؤ۔ دوئ بہ د ماہنامہ پورے ناست وی۔ د دوئ کار څہ دے؟ د ماہنامہ پورے بہ دوئ ناست وی۔ د ماہنامہ پورے مونږ ٹھیک دا کٹ موشن -------- (شور)

جناب احمد حسن خان : جناب سپیکر! اس سلسلے میں ایک عرض کر دوں۔ میں وہ With draw کر دیتا ہوں لیکن ریکارڈ کیلئے کہ اس مد پر ----------

جناب سپیکر: نه، دا پروسیجر لړ صحیح کوؤ جی۔ تاسو لږ یو منټ کښینئ۔

پیر محمد خان! تاسو Withdraw کړو جی؟ Move کوی نه؟ Not moved.

Mr. Ahmad Hasan Khan, MPA, do you wish to move it?

جناب احمد حسن خان : This is Sir, something from the core of my heart

چه زه دا خبره کومه چه زما د ډپټی سپیکرئ د وخت نه واخله تر ننه پورې د کومو محکمو سره چه واسطه پریوتې ده، ما پخپل خیال په ټولو کښې د پبلک هیلتھ انجینیرنګ ډیپارټمنټ افسران بحیثیت مجموعی ډیر ښه او خواږه لیدلی دی۔ دا تعریف زه څه په دې بنیاد باندې نه کوم که مونږ ورغلی یو، که زمونږ کار نې نه دې کړې خو دا د پښتون ښائست دې، دروند والې دې چه څوک ورته په ښه نظر اوګوری، چه راوځی، څوک ترې تپوس اوکړی کار د اوشو که نه؟ هغه وائی چه کار د په تندر اولګی خو هغه سړی زما عزت اوکړو۔ سره د منسټره عزتمند خلق دی۔ زه دا خپل کټ موشن Withdraw کومه۔

جناب سپیکر: مسټر انور علی خان، ایم-پی-اے، پلیز۔ تاسو Follow کوئ؟

میاں انور علی: زه نې واپس اخلم۔

جناب نجم الدین: لکه څنګه چه احمد حسن خان خبره اوکړه چه په ټولو محکمو کښې د پبلک هیلتھ محکمه داسې محکمه ده چه هغوی د خلقو عزت هم کوی، کار هم په ټانم باندې کوی خو زما یو عرض دې په هغې کښې به یو ټکې اووایمه، نه سر، یو ټکې به پکښې دا اووایم -----

جناب سپیکر: تاسو وړومبے Move کوئ او که نه؟ Move کوئ؟ دا ستاسو خپله رضا ده۔

جناب نجم الدین: زه به یوه خبره اوکړمه نو بیا زه خپل کټ موشن واپس اخلم۔ زما دا درخواست دے منسټر ته چه زمونږ په ډیر کښې ډیر زاړه سکیمونه دی او دوئ ته د ایم اینډ آر پیسے نه ملاوېږی۔ نور دا محکمه د تعریف مستحق ده او سره د منسټر صاحب او انشاء اللّٰه تعالٰے دا به ښه کارکردګی کوی۔ زه خپل موشن واپس اخلم۔

Mr. Speaker: Mr. Ghani-ur-Rehman Khan, absent. Mr. Muhammad Yousaf Khan Trand, MPA, the same-------

جناب محمد یوسف خان: جناب سپیکر! دا محکمه هم ښه ده او منسټر صاحب نے هم ښه دے۔ زه خپل کټ موشن واپس اخلم۔ (قہقہہ)

Mr. Speaker: Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA, please.

نوابزادہ محسن علی خان: سر! میں کٹ موشن نہیں موو کر رہا مگر ایک سوال ضرور پوچھوں گا وزیر صاحب سے ۔ I close the book for you, Sir. بات یہ جناب سپیکر صاحب ' میں صرف وزیر صاحب کی توجہ اس بات کی طرف دلانا چاہتا ہوں کہ اس محکمے کی پالیسی کیا ہوگی؟ He must explain this to this House. کیونکہ ہر ایک ممبر کو ' یہ تیرا سی ممبر جو ہیں ' سب کو انداز ہو جائیگا۔ جناب سپیکر صاحب ' Because ان کی جو پالیسی ہے Regarding these Tube wells آیا پبلک ہیلتھ ان ٹیوب ویلوں کو چلا ئے گا یا These Tube Wells are going to be handed over to the community? This is a very very important issue, Janab Speaker Sahib, which involves the entire House. یہ گپ شپ نہیں ہے ۔ تو At

any other time, Sir, I am not saying now, he can explain this thing at any other time but Sir, my request to you Homourable Speaker Sahib, is that یہ کسی وقت آپ ایجنڈا پہ رکھ دیں۔

Mr. Speaker: Perfectly I agree with you. It is a very important issue and some time he will definitely explain in the House.

وزیر آبپاشی و آبنوشی : I am grateful to all of the Members صاحبان کہ جنہوں نے مہربانی کرکے اپنی کٹ موشنز واپس لیں۔ میں ان کا مشکور ہوں اور میں محسن علی خان کو تسلی دیتا ہوں کہ جب بھی انشاء اللہ موقع آیا تو ان کو مکمل طریقے سے Explain کریں گے کہ ہم کیا کرنا چاہتے ہیں اور پالیسی کیا ہے؟

Mr. Speaker: The question is:

"that a sum not exceeding rupees five hundred, thirty one million, five hundred and ninty-nine thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of PUBLIC HEALTH."

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The "Ayes" have it. The Demand is granted.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Point of order, Sir. Sir, before you adjourn the House, this is a very important issue which is, top talk. وہ یہ ہے کہ شکر ہے کہ جناب وزیر خوراک صاحب بیٹھے ہوئے ہیں، آج بھی جناب، فلور ملز ایسوسی ایشن نے دھمکی دی ہے Regarding the wheat position

تو میرے خیال میں وزیر صاحب کے بھی نوٹس میں یہ آیا ہے I will be grateful اگر وہ پوزیشن کو Clarify کر دیں Because ایک آٹا کرائسس سے ہم گزرے ہیں' یہ نہ ہو کہ ہم دوسرے آٹا کرائسس سے دوچار ہو جائیں۔

<u>وزیر خوراک</u>: جناب سپیکر صاحب، ما خو ونیل چه دا زما ډیمانډ چه راځی، دا به هم کیږی خو زه د محسن علی خان صاحب په اول ځل شکریه ادا کومه۔

<u>نوابزاده محسن علی خان</u>: جناب سپیکر صاحب، دے به زما ډیر ځله شکریه ادا کوی، تاسو فکر مه کوئ۔ (قہقہہ)

<u>جناب احمد حسن خان</u>: دا وجه دا وه چه ما د طوفان صاحب ملګرتیا کړے ده، د یو بل به دوئ شکریه ادا کوی۔

<u>وزیر خوراک</u>: جناب سپیکر صاحب، دا چه محسن علی خان صاحب کومه مسئله اوچته کړه، دا په حقیقت کښې ډیره اهمه او زمونږ د دے هاؤس ممبرانو د پاره هم د توجه مستحق مسئله ده۔ نن په اخباراتو کښې داسے تاثر ورکړے شوے دے چه لکه د غنمو سټاک چه کوم په دے صوبے کښې دے، دا ختم شوے دے او خدائے د نه کړی، لکه څنګه چه په تیرو څو میاشتو کښې په دے صوبے کښې او په دے ملک کښې کوم داوړو قحط پیدا شوے وو، داسے صورتحال بیا راتلونکے دے۔ محسن علی خان صاحب د فلور ملز د ایسوسی ایشن د طرف نه د دهمکئ دا کوم ذکر چه اوکړو نو په دے سلسله کښې زه دا ټول پوزیشن کلیئر کول غواړم چه نن د خدائے پاک فضل دے، په صوبے کښې داسے هیڅ قسم صورت حال نشته۔ زه دا خبره د اسمبلئ ټولو ممبرانو صاحبانو ته او د دے اسمبلئ په وساطت سره دَ ټولے صوبے خلقو ته دا تسلی ورکول غواړمه چه موجوده حکومت مکمل انتظامات کړی دی او

هغه تیر وخت کښې چه کوم بحران پیدا شوے وو هغه خود تیرو
حکومتونو د غفلت او د لاپرواهئ او د بد انتظامئ په سبب پیدا شوے وو۔
زمونږ دا حکومت چه کوم راغلے دے، اوس د خدائے په فضل سره دا کوم
نوے فصل چه راغلے دےاو حکومت د بهر نه د غنمو د راوړو کوم انتظامات
کړی دی د هغے په وجه زه دا خبره دوئ ته یقین سره کول غواړمه چه هیڅ
قسم خراب صورتحال په دے صوبه کښې نشته دے۔ نن موجوده په دے
وخت کښې اوس زمونږ سره سټاک تقریباً بتیس هزار، سات سو ټن په
صوبے کښې موجود دےاو زمونږ تقریباً شپاړس زره او پینځه سوه یا شپږ
سوه ټنه غنم، دا زمونږ On the way په لاره باندے دی او راروان دی۔ په
دے دوه درے ورځو کښې به دا هم راورسیږی نو دغه شان تقریباً پنځوس
زره ټنه به مونږ سره په دوه درے ورځو کښې موجود وی دلته کښې۔ دا
تقریباً د دولسو ورځو سټاک مونږ سره په لاس کښې دے۔ زه دے ځائے کښې
صرف دومره خبره کول غواړمه او دا خبره ستاسو ټولو په نوټس کښې
راوستل غواړمه چه زمونږ صوبے ته به او وه نیم لکهه ټنه غنم کوم چه د 20
جون نه تر 10 اګست پورے د بهر نه راځی په هغے کښې زمونږ دوه نیم لکهه
ټنه غنم زمونږ حصه جوړیږی، هغے کښې تقریباً شپاړس زره ټنه په ټرین
کښےاو په روډ باندے راروان دی او د هغے راتلل شروع شوی دی او دلته
به رارسیږی انشاء الله، او د پنجاب نه تقریباً مونږ ته ایک لاکه تیس هزار ټن
کوم الاټ شوی دی، چه په هغے کښې باون هزار ټن غنم مونږ رارسولی
او نور باقیمانده غنم به زر نه زر مونږه د رارسولو کوشش کوؤ او مونږ
دے سلسله کښې د پنجاب حکومت سره هم رابطے کړے دی او په دے تیر

بحران کښې مونږ سره د پنجاب صوبے وزیر اعلیٰ، میاں شهباز شریف ډیر
زیات مدد کړے وو او هغه بله ورځ ما ذاتی طور باندے ورسره په ټیلیفون
رابطه کړے ده او د غنمو په سلسله کښې چه پنجاب دا کومه پابندی د دفعه
144 په بنیاد باندے لګولے ده او دِ صوبے ته به غنم او اوړه د پنجاب نه ډیر په
سختئے سره راتلل، زه د پاکستان د وزیر اعظم، میاں نواز شریف ډیر
مشکور یم چه هغوی زما په موجودګئ کښې دا خبره په میټینګ کښې کړے
ده چه کم از کم د خوراک په مسئله کښې د پاکستان په صوبو کښې د نقل و
حرکت په عمل باندے هیڅ قسم څه پابندی نه ده پکار، ځکه چه دا پاکستان یو
ملک دے او مونږ خو ټول عمر دا خبره کړے ده چه د دِ وطن اوسیدونکی
چه کوم دے، د دے صوبے خلق چه کوم دی، دا دومره پاکستانیان دی لکه
څومره چه نور څوک کیدے شی۔ نو د میاں صاحب د دے ګارنټئ نه، د دے
Surety نه پس زما دا تسلی ده چه د پنجاب حکومت به هم خپله هغه
پابندی Relax کړی او که هغوی په دے کښې څه Relexation اوکړو نو زما
توقع دا ده چه د دے صوبے د خلقو چه کوم سهولتونه وو، اوس به هم ورته
حاصلیږی او په دے سلسله کښې مونږ انتظامات کړی دی چه په هغے کښې
مزید سهولت ته پیدا شی۔ اخیرنئ خبره دا ده، چه د فلور ملز مالکانو ته زه د
دے اسمبلئ د ممبرانو په ملګرتیا سره د دے ځائے نه دا خبره کول غواړمه
چه په دے مسئله کښې دا قوم مخکښې هم ستاسو د دے حرکاتو، ستاسو د دے
کردار په وجه باندے ډیر زیات مشتعل دے او حکومت داسے مسئله کښې
هیچ چا ته دا اختیار نشی ورکولے او داسے حکومت، لکه څنګه چه نجم
الدین خان هر وخت د میډیټ، میډیټ خبره کوی نو زه دا خبره ورته

کوم چه اوس په دے صوبه کښې داسے وزیر، داسے حکومت، داسے مشینری نه ده ناسته چه ملز مالکان دِ دَ خلقو دَ قسمت سره لوبے اوکړی او دَ دِ خلقو په مشکلاتو کښې دِ دَ اضافے کوشش اوکړی۔ زه ورته دا خبره کول غواړمه چه مونږ ستاسو مسئلے، خپلے مسئلے گنړو که ستاسو څه مشکلات وی، دا کومے مسئلے سره د ملز مالکان دَ دِ اوړو دَ سپلائی یا دَ ملز دَ چلولو مسئله منسلکه کوی، زه د دے خبرے اجازت ورکولو ته قطعاً تیار نه یم۔ زه ورته دا خواست کومه، دا ورله تنبیه ورکومه چه تاسو خپل کار سره کار لرئ۔ ستاسو کومه مسئله چه ده، هغه به د دے صوبے حکومت په خوش اسلوبئ سره په انسانی همدردئ سره حل کوی خو که د دے نه پس هم د ملز مالکانو داسے حرکت اوکړو نو زه به د د خبرے، د د تنبیه سره سره د دوئ خلاف شدید قسمه اقدامات هم کومه۔ او دا خبره به Sure کومه چه دے خلقو ته هیڅ قسمه مشکلات ور پیښ نشی۔ زه یو ځل بیا ستاسو د صبر هم شکریه ادا کومه۔ مهربانی۔

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب، میں بہت مشکور ہوں کہ جو کچھ طوفان صاحب نے کہا ہے۔ ان سے ایک اور گزارش ہے کہ مزید ہم ان کے ہاتھ مضبوط کریں۔ جیسا کہ انہوں نے کہا ہے کہ پنجاب کی حکومت نے جو پابندیاں لگائی ہوئی ہیں، اگر وہ مناسب سمجھیں تو یہ معزز ایوان متفقہ طور پر ایک Resolution پاس کرے تاکہ ان کے ہاتھ مضبوط ہوں۔

جناب احمد حسن خان: مسٹر سپیکر سر، د دے صوبے د حقوقو په سلسله کښې زه خو اول د فرید طوفان صاحب شکریه ادا کومه چه د تسلئ خبرے ئے اوکړے او دا خبره ما مخکښې هم پوانئټ آوټ کول غوښتل خو بیا هغوی ته

ما دا ونیلی وو، ما ورسره پرے خبره هم کړے وه چونکه په ایګریکلچر باندے کټ موشنز راروان دی نو لهٰذا دَ دے ایوان دا یو داسے صورتحال جوړ شوے دے چه د دے صوبے د حقوقو په سلسله کښې همه ګیر یو خیال دے، خو زه صرف د ریکارډ درست کولو د پاره هغوی ته دومره قدر له عرض کوم چه د غنمو د بحران په سلسله کښې د پیپلز پارټۍ د حکومت څه کوتاهی نشته دے۔ جناب سپیکر! دا چه هر کله وی، په دے باندے مونږ خبرے کولو ته تیار یو، خبره پرے کولے شو۔ باقی د صوبے د حقوقو د پاره اوس چه هغه کوم Explanation اوکړو، زه دَ هغه شکریه ادا کومه او دَ صوبے دَ حقوقو په سلسله کښې چه زمونږ نه د دوئ کومه توقع ده، انشاء الله تعالیٰ د دے نه به زیاته مونږ د دوئ سره مرسته کوؤ که داسے څه خبره وی۔

جناب سپیکر: جناب غفور خان جدون، پلیز۔

جناب غفور خان جدون: جناب سپیکر صاحب، زه ډیر زیات مشکور یم۔ زه صرف عرض دا کومه چه پرون او نن په صوابئ کښې، په چارسده کښې او په مردان کښې ډیر لوئے لوډ شیډنګ وو، دیر او ملاکنډ کښې هم دے خو خاصکر ------

جناب سپیکر: زه تاسو ته دا Explain کړم، چه غفور خان هلته ما له راغلو چیمبر ته او دوئ اووئیل چه زه په یو پوائنټ آف آرډر پاسم، ما ورته اووئیل چه نه پوائنټ آف آرډر ما هیچا ته هم نه دے Allow کړے، غفور خان تاسو ته ئے هم نه Allow کوم۔ خو ما وئیل چه څه وخت Last Item ختم کړم نو بیا ته خبره اوکړه،هغه ختم شو ،اوس بیا پکښې دَ دَه پوائنټ آف آرډر راغلو نو ما دَ ته وئیلے وو چه ما تا سره دا لوظ کړے دے چه دا خپله

مسئله بیان کړه- نو چونکه هغه Last Item زمونږ ختم شو نو غفور خان څه خپله خبره کوی-

جناب غفور خان جدون: جناب سپیکر صاحب، زه ستاسو ډیر زیات مشکور یم- صرف په صوابئ، چارسده، مردان او په هزاره کښې نه بلکه په ټوله صوبه کښې په نوښارکښې او په ټولو علاقوکښې پرون دا لوډ شیډ نګ وو او ټول روډز بند وو، ډی- سی صاحبان ولاړ وو، ګاډی سوزولی شوی دی، تقریباً اته، اته ګهنټے زمونږ د دے صوبے سره ناروا سلوک هغوی کوی- نن ما چیف انجینئیر واپډا سره خبره اوکړه، هغه وائی دا شیډول آف لوډ شیډنګ چه دے، دا د لاهور نه کیږی او د اسلام آباد نه کیږی، عرض دا دے چه بجلی مونږه پیدا کوؤ، تربیلا زما په حلقه نیابت کښې ده، ورسک ته اوګورئ، درګئ ته اوګورئ او بیا دے صوبے سره چه څومره ظلم کیږی نو دا خو دے خلقو سره، یو نیم کروړ آبادئ سره ظلم کیږی، بلکه پکار دا ده جی چه لوډشیډنګ کښې دا صوبه سرحد د بالکل مثتسنئ کړی- نو زما غرض دا دے جی پرون چه کوم نقصان شوے دے، پولیس اهلکار پکښې زخمیان شوی دی، ګاډو ته ئے اُور ورته کړے شوے دے، املاک ته نقصان رسیدلے دے- د ورځے تقریباً لس لس ګهنټے لوډ شیډنګ دا ناروا دے، او دَ دِ د پاره زه تاسو ته یو درخواست کومه جی چه یو متفقه طور باندے قرارداد مونږ راولو دے اسمبلئ ته، او په دے فلور باندے پاس شی- زه بی بی صاحبې ته هم درخواست کوم او تاسو ته هم درخواست کوم چه دا یو متفقه طور باندے یو قرارداد راشی او تاسو ئے پاس کړئ جی ------

بیګم نسیم ولی خان: محترم سپیکر صاحب! قرارداد یقینی ضروری دے- د

قرارداد نو خو تاسو ته پته ده، مونږ ځو ځو ځله مخکښې هم قراردادونه پاس کړی دی په تیروحکومتونو کښې، ضرورت د دے خبرے دے چه د دے سدباب اوُشی۔ په قرارداد خو دا نه حل کیږی۔ مونږ به قرارداد پاس کړو، قرارداد به بیا ځی او بیا به پرے حکومت خبرے کوی۔ پکار دا دی چه دَ صوبائی‌حکومت زمونږ وزیران دلته کښې ناست دی، چیف منسټر صاحب سره دِ خبره اوکړی۔ چیف منسټر دِ Directly مرکزی حکومت سره خبره اوکړی۔ دا وزیر د بجلئ چه راغلو په ټیلیویژن او دَ تقریر اوکړو او دا یئے اوونیل چه ښبکال هدو لوډ شیډنګ شته نه په پاکستان کښې، یا خو د مونږ ته دا اووائی چه مونږ په پاکستان کښې نه یو، نو بس زمونږ به تسلی اوشی چه مونږ پاکستانیان نه یو او مونږ په پاکستان کښې نه یو۔ (تالیاں)۔

یا دے بیا مونږ تا دا اووائی چه تاسو په پاکستان کښې یئی، تاسو سره یو بل شان سلوک کوو د خلقو نه۔ وجه به هم راته اوښائی چه مونږ سره یو بل شان سلوک کوی، ولے راسره کوی؟ او که نه کوی نو بیا دِ دلته دَ واپډا دَ هغه خلقو نه تپوس اوکړی که غلطی دلته په دے صوبه کښې وی؟ ځکه چه هغه بله ورځ ئے خبره کړے وه نو ما ته دا اطلاع شوی وه چه Mismanagement دے، Load shedding نه دے۔ Mismanagement په دے صوبه کښې وی۔ د دے صوبے د ذمه وارو خلقو نه دِ تپوس اوکړے شی۔ هغه ذمه وار خلق د راشی، مونږ ته د اووائی، حکومت ته د دا خبره اوکړی چه Mismanagement نه دے، مرکزی حکومت دا لوبه کوی۔ که مرکزی حکومت کوی نو احتجاج پکار دے چه صوبائی حکومت ورته اوکړی۔ قرارداد خو به مونږ اوس پاس کړو، دوئ به ئے هم پاس کړی، مونږ به ئے هم

پاس کړو خو آیا د قرارداد نه څه جوړیږی؟ وایم قرارداد به مؤخر کړو، حکومتی کارروائی به اول اوکړو۔ زما دا یو Request دے، دا دوه، درے وزیران ناست دی، دوئ د چیف منسټر سره خبره اوکړی، چیف منسټر د واپډا منسټر سره خبره اوکړی Directly۔

وزیر خوراک: جناب سپیکر صاحب! د بی بی د دے تقریر، د دے خیالاتو نه پس زه ټول هاؤس ته دا وائیل غواړم چه ستاسو په صلاح مشوره باندے به زمونږ صوبائی حکومت صبا په دے مسئله باندے یو سټیټمنټ هم تاسو ته درکړی او مونږ به نن چیف منسټر صاحب او د مرکزی حکومت منسټر پاؤر، نثارعلی خان صاحب سره رابطه هم اوکړو۔ صبا به په دے مسئله باندے یو واضح سټینډ زمونږ د دے صوبے د طرف نه په دے اسمبلئ کښ مونږ بیان کړو۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! په نورو علاقو کښ خو لوډ شیډنګ کیږی، مونږ له خو د سره بجلی نه راځی ----------

جناب عبدالسبحان خان: مشکور یمه سر۔ غفور جدون صاحب چه کومه خبره اوکړه، دا په مردان کښ هوسئ ګرډ سټیشن دے، هغه د هوسئ ګرډ سټیشن نن صبا اوورلوډ دے، نو زیات لوډ شیډنګ د Fault په وجه باندے هم کیږی، د جلاله ګرډ سټیشن دکوم چه د فیول اینډ پاور منسټر صاحب ټور هم کړے وو او د هغے 132000kv پاورَ دے ،خو هغه د مردان او جلاله تر مینځه ټرانسمیشن لائن مکمل نه دے که چرے دا د جلاله ګرډ سټیشن چالو شی نو په مردان اوپه صوابی کښ به دا ډیر زیات لوډشیډنګ نه وی، بعضے وخت کښ د بجلئ د خرابتیا دَ وجه نه هم لوډ شیډنګ وی، د بیا د بلبونو

مثال د ډیوے وی، نو دَ جلاله دا گرېډ سټیشن مکمل کول پکار دے، په دهوبیانو کښې هم د گرېډ سټیشن Sanction شوے دے، زمکه ورله ورکړے شوے ده نو که په هغه گرېډ سټیشن باندے کار اوس فی الفور، لکه چه څنگه طوفان صاحب اوفرمائیل یا بیگم صاحبے اوفرمائیل، چیف منسټر صاحب ته د دے فلور نه، چه هغوی پکښې دا هم راولی چه د مردان او ملاکنډ سره سره دغه خواوشا علاقو ته پکښې هم فائده اورسی، دا که د جلاله گرېډ سټیشن چالو شی نو بیا دا ټول صوبه سرحد ته فائده ده۔

سردار غلام نبی: جناب سپیکر صاحب! میری یہ غرض ہے کہ ہم Condemnation کی ایک قرارداد پیش کریں کہ واپڈا بہت ظلم اور زیادتی کر رہا ہے' لوڈ شیڈنگ ہو رہی ہے' کام نہیں ہو رہا ہے' Breakdown ہو رہے ہیں۔ تو میری یہ Request ہوگی کہ Condemnation کی ایک قرارداد---

جناب سپیکر: یہاں پر میں ایک عرض کروں۔ چونکہ ایک Responsible Minister نے آپ کو جواب دے دیا ہے' اس کا Wait کریں اور اگر اس سے کچھ نہ بن سکا تو پھر وہ بھی ہو جائے گا کیونکہ سب سے پہلے -------

سردار غلام نبی: وہ اس طرح ہوگا کہ جب ان کی کوئی Improvement نہ آئی تو پھر میں Insist کروں گا کہ Condemnation کی قرارداد پیش کرنے کی ----------

جناب احمد حسن خان: کب کریں گے؟ منسٹر صاحب کہاں جائیں گے؟ یہ جواب دہ ہیں -------

سردار غلام نبی: اس میں لوگوں کو بہت تکلیف ہے -------

جناب سپیکر: نجم الدین خان، داسے کار دے، تاسو زما خبره واورئ، دا پوائنټ آف آرډرز چه ما Allow کړو نو دا چه چا په کټ موشن خبرے کړے

دی، هغوی د نه پاسی، نور چه څوک په پوائنټ آف آرډر پاسی، پاسی به۔ تاسو مہربانی اوکړئ کښینئ --------- (شور)

جناب محمد کریم: په دے ضمن کښ جی زه به د بونیر خبره اوکړم، بونیر واحد یو داسے علاقه ده چه دے ته د تربیلا ډیم نه او ورسک نه بجلی راځی نو نه پوهیږو چه دا بجلئ والا څه کوی؟ د یو طرف بجلی نه راځی او هلته د شپے او ورځے لوډشیډنګ روان دے۔

جناب سید رحیم ایڈوکیټ: جناب! په دے کښ یو عرض کومه۔ ته نجم الدین خان، لږ صبر اوکړه۔ دا زمونږ ه پراپر بونیر چه کوم دے، هغے ته بجلی د ملاکنډ د طرف نه راځی او پی۔ ایف 63 حلقه چه کومه ده، د کریم بابک صاحب حلقه، دا بجلی د تربیلے د طرف نه راځی، دا ډیره ضروری خبره ده، دا واورئ چه هغه بله ورځ یو هفته مخکښ د ډګر په هسپتال کښ آپریشن کیدو یو سرجن دے، عبدالرحمان نوم ئے دے، هغه آپریشن کوو او د آپریشن په دوران کښ بجلی لاړه او مریض چه د تور ورسک کلی یو هلک وو، انور علی خان نوم ئے وو، د پلار نوم ئے عنایت الله خان دے، د هغے بجلئ د لوډشیډنګ دَ لاسه وفات شو، هغه آپریشن نیمګړے پاتے شو۔ نو دا دومره ظلم او زیاتے کیږی، هغه یو نوجوان خو وفات شو د دغے بجلئ دَ لوډشیډنګ دلاسه۔نو ډیره لویه ناروا ده۔ ډیر ظلم او زیاتے دے۔ نو په دے باندے بالکل ایکشن اغستل غواړی۔

جناب سپیکر: بل څوک جی؟ Any others? بل څوک جی؟ هاں نجم الدین خان، اوس خبره اوکړه، ټول ختم شو۔ تا څه وئیل؟

جناب نجم الدین: سر، ما دا خبره کوله چه سبحان صاحب کومه خبره

اوکړه، د مردان خو دغه مسئله ده لیکن لوډشیډنګ زمونږ په دیر کښې هم زیات دے او دویمه خبره دا کوم چه اوس دومره خواهشمند دی نو لږ دِ دَ شپږو بجو پورے راکاږی دا اسمبلی، او بل جی زما عرض دا دے--------

جناب طاؤس خان: جناب سپیکر صاحب، زه ستا ډیر شکرګزار یم۔ دے پوره هاؤس ته زما دا عرض دے، وزیر صاحب چه کومه خبره کړے ده، بالکل صحیح ده۔ کوم غفور جدون صاحب چه وئیلی دی، هغه بالکل سوله آنے صحیح خبره کړی ده۔ دوئ دَ خپلے علاقے خبره هم اوکړه او د نورو علاقو خبره ئے هم اوکړه، مګر ضلع کوهستان ئے بالکل هیر کړو، ګریډ سټیشن چه کوم وخت کښې منظور دے، هغه تر اوسه پورے مکمل نه شو هغے کښې د مثال په طور باندے هغه کهمبے لګول دی، هغه برابرول دی، نو کوهستان ضلع خو بالکل په تیاره کښې ده۔

جناب سپیکر: منسټر صاحب به دا خبره هم Convey کړی--------

جناب طاؤس خان: هلته مخکښې کومه بجلی وه، هغه ئے هم کټ کړے ده۔ په دغه علاقه کښې په یو بل خائے کښې لږه غونډے د واپډا بجلی وه نوهغه ئے هم کټ کړی ده۔ جناب، زما Request دے تاسو ته او پورا هاؤس ته، چه ضلع کوهستان ته دِ بجلی ورسولے شی ، اوهغه ګرډ سټیشن دِ هم برابر کړے شی چه هغه کار شروع کړی۔ مهربانی۔

حاجی بہادر خان: (دیر) ما جی یو عرض کوؤ۔ یو خو د لوډشیډنګ مسئله ده زمونږ په ضلع دیر کښې، په ټول ضلع دیر کښې ده او بیا خصوصاً په جندول کښې۔ زمونږ مسئله صرف د ټرانسفارمرو په وجه پاتے ده، زه Request کوم چه په دغے باندے د دوئ د چیف منسټر صاحب سره خبره اوکړی او د هغه

خانے دتر انسفارمرو څه غم داوشی۔

جناب سپیکر: جناب علی افضل خان جدون پلیز۔ علی افضل خان جدون۔

جناب علی افضل خان جدون: جناب سپیکر صاحب، میں آپ کا مشکور ہوں۔ جیساکہ منسٹر انچارج فار پاورؔ نے تجویز پیش کی ہے، اسی سلسلہ میں میری یہ گزارش تھی کہ اگر یہ ہاؤس مناسب سمجھے تو بجلی کا بحران پورے ملک کا بھی ہے اور صوبے کیلئے واقعی یہ بڑی تکلیف دہ بات ہے۔ جیساکہ آج کے اخبارات میں ہے کہ چارسدہ کے علاقے میں لوگوں کو بہت بڑی تکالیف کا سامنا کرنا پڑا اور اسی طرح ایبٹ آباد جو کہ ڈویژنل ہیڈ کوارٹر ہے، وہاں پہ بھی بجلی کی بڑی تکلیف ہے۔ ٹرانسفارمر جہاں ہوتے ہیں، وہ جل جاتے ہیں اور ملتے نہیں ہیں اور اگر آپ مناسب سمجھیں تو ایک دن اس کیلئے حسب ضابطہ مختص فرما دیں تاکہ تمام اراکین اسمبلی اپنے اپنے علاقے کے مسائل کو Dissuss کر سکیں اور پھر اس کے بعد آنریبل منسٹر صاحب کیلئے بھی بڑی آسانی ہو جائے گی کہ ان تجاویز کو واپڈا کے حکام تک پہنچا سکیں گے اور پھر اس کے بعد جو بھی لائحہ عمل یہ اسمبلی اختیار کرے گی، وہ مناسب ہوگا۔ میری یہ گزارش ہوگی کہ آپ بحث کیلئے ایک دن مقرر کریں تاکہ تمام لوگ اپنے اپنے علاقوں کے مسائل پہ بات کر سکیں۔

Mr. Speaker: After he gets the reply from the Federal Minister, then Insha Allah we will fix a day. The sitting is adjourned and we will re-assemble tomorrow at 9.30 a.m. Thank you very much.

---

(اسمبلی کا اجلاس جمعرات 26 جون 1997 ساڑھے نو صبح تک کیلئے ملتوی ہو گیا۔)